EDRS

DOCUMENT RESUME

ED 364 086 FL 021 634

AUTHOR Tegey, Habibullah; Robson, Barbara
TITLE Intermediate Pashto Textbook Revised Edition and Intermediate Pashto Workbook Revised Edition.
INSTITUTION Center for Applied Linguistics, Washington, D.C.
SPONS AGENCY Office of International Education (ED), Washington, DC.
PUB DATE 93
CONTRACT P017A90055
NOTE 349p.; For related documents, see ED 286 343-350 and FL 021 631-633.
PUB TYPE Guides - Classroom Use - Teaching Guides (For Teacher) (052)
LANGUAGE Pashto; English

EDRS PRICE MF01/PC14 Plus Postage.
DESCRIPTORS Dialogs (Language); Foreign Countries; Grammar; Instructional Materials; Language Skills; Oral Language; *Pashto; Pronunciation; *Second Language Instruction; Skill Development; *Textbooks; *Uncommonly Taught Languages; Vocabulary; *Workbooks
IDENTIFIERS Afghanistan

ABSTRACT

Intermediate Pashto is part of a set of materials for teaching oral and written Afghan Pashto. The transcription of a word or phrase is given only when the word or phrase is introduced, or when pronunciation is the focus. Dialogues and readings on various topics (e.g. food, shopping, weather, family, etc.) are used, with accompanying presentations on grammar and vocabulary, and exercises for oral practice and conversation. The Workbook, which is mostly in English, provides background information on points in the dialogues and readings, discussion of grammar points, and information on individual vocabulary items. Each unit in the workbook contains a number of exercises providing additional practice on the points covered in the textbook. In addition to the intermediate textbook, the set consists of a glossary, a beginning textbook, a reader, a conversation manual and a set of taped lessons that correlate with the textbooks. The materials are designed to bring an English-speaking student to a 2+ or 3 on the Interagency Language Roundtable proficiency scale, or an Advanced on the American Council on the Teaching of Foreign Languages proficiency scale. An overview and brief description of each component of the Pashto Materials is included. (Author/AB)

****
* Reproductions supplied by EDRS are the best that can be made *
* from the original document. *
****

EDRS
ED 364 086

ثانوی پښتو
Intermediate Pashto

درسی کتاب
Textbook

Revised Edition

Center for Applied Linguistics

FL 021634

"PERMISSION TO REPRODUCE THIS MATERIAL HAS BEEN GRANTED BY
Sara E. Melendez
TO THE EDUCATIONAL RESOURCES INFORMATION CENTER (ERIC)."

U.S. DEPARTMENT OF EDUCATION
Office of Educational Research and Improvement
EDUCATIONAL RESOURCES INFORMATION CENTER (ERIC)
☒ This document has been reproduced as received from the person or organization originating it
☐ Minor changes have been made to improve reproduction quality
• Points of view or opinions stated in this document do not necessarily represent official OERI position or policy

EDRS

ثانوی پښتو

Intermediate Pashto

درسی کتاب

Textbook

Revised Edition

Habibullah Tegey
Barbara Robson

Center for Applied Linguistics
Washington, D.C.
1993

CAL Pashto Materials Overview 1993

Over the last six years, the Center for Applied Linguistics (CAL) has developed a set of materials to teach the Pashto language to English speakers: *Beginning Pashto* and *Intermediate Pashto* introduce students to the spoken and written language; the *Pashto Reader* provides extensive exposure to authentic Pashto written materials. *Pashto Conversation* is a set of taped lessons, correlating with the units of *Beginning* and *Intermediate Pashto* . The *Pashto-English Glossary for the CAL Pashto Materials* is a glossary of all the words that appear in the components listed above.

The language taught in the materials is Afghan Pashto, in particular the standard central dialect spoken in Kabul and used in the official media. The materials have been proof-read and field-tested by Kandahari Pashtuns; the words and phrases in them are familiar to speakers of the Kandahari dialect as well. In *Pashto Conversation*, there are several exercises contrasting the Kabuli and Kandahari (and Peshawari, as well) dialects, to give students more experience with the major dialects.

Beginning Pashto and *Intermediate Pashto* constitute a set of materials teaching oral and written Pashto. Each of the twenty-eight units (fourteen per book) provides about ten hours of class work, and therefore should be sufficient for four semesters of academic language training (three hours a week in class, with possibly two hours of lab or practice), or about ten weeks in an intensive course (six hours a day in class, five days a week). The materials are designed to bring an English-speaking student to a 2+ or 3 on the ILR proficiency scale, or an Advanced on the ACTFL proficiency scale; all the grammatical structures of Pashto are presented, along with about 2,500 words.

The Pashto writing system is taught in the first unit of *Beginning Pashto*, and is used in the presentation of material from then on. In the first three units, material is also in a romanized transcription. After that, the transcription of a word or phrase is given only when the word or phrase is introduced, or when pronunciation is the focus.

Beginning and *Intermediate Pashto* teach the language via dialogues and readings on various topics (e.g. food, shopping, weather, family, etc.) , with accompanying presentations on grammar and vocabulary, and exercises for oral practice and conversation. Each unit contains a Diversion - a proverb, poem or story - intended to amuse the student, and to provide him or her with a glimpse of Pashto folk literature.

The dialogues revolve around the activities of a group of Pashtuns and Americans at an American university, so that the American student is provided with language and vocabulary of immediate usefulness. The readings for the most part describe Pashtun life and customs in Afghanistan, and are related to the topic in the corresponding dialogue. The dialogues and readings in *Intermediate Pashto* continue along the same general format, but the focus of attention shifts to Afghanistan, and to more detailed study of Pashtun culture and Afghan history.

The Workbooks, which are mostly in English, provide background information on points in the dialogues and readings, discussion of grammar points, and information on

individual vocabulary items. Each unit in the Workbooks contains a number of exercises providing additional practice on the points covered in the Textbook. There are listening exercises in the *Beginning Pashto* workbook which require the student to listen to a prompt, then respond in some way.

The Teachers' Manuals, in Pashto, are written for the educated native speaker of Pashto who might not have a background in language teaching or an extensive background in Pashto grammar. It explains the presentation of grammar points, and gives other information of use to the teacher. At the end of each unit, the prompts for the listening exercises in the Workbooks are given for the teacher's convenience.

The Text Tapescript and Workbook Tapescript for *Beginning Pashto* have been developed for students who do not have regular access to a native speaker of the language. They provide the means for such students to identify a Pashto speaker, then make arrangements with him or her to tape the important parts of the Textbook and the listening exercises in the Workbook. The tapescripts are not necessary in situations where there is a Pashto-speaking teacher.

Pashto Conversation contains fourteen lessons - each lesson corresponding to two units of *Beginning/Intermediate Pashto* - which provide additional speaking and listening practice on the material contained in the units, as well as exposure to different dialects. The lessons have been recorded - there is a set of cassettes at the Center for the Advancement of Language Learning (tel: (703) 312-5040; Fax: (703) 528-4823) and another at the Center for Applied Linguistics (see numbers below).

The *Pashto Reader* presents selections of modern written Pashto, with extensive notes and guides to comprehension. Six different genres are exemplified: essays, articles, stories, poetry, "public" Pashto (street signs, ads, etc.), and "fractured" Pashto (published Pashto written by non-native speakers). *Pashto Reader: Originals* presents the passages of the *Reader* in computer scans of their originals, to provide the student with practice in dealing with Pashto as it actually appears: handwritten, without conventional spacing between words, etc. *Pashto Reader: Passages in Transcription* presents the passages in the roman transcription used to represent pronunciation throughout the series; it is intended for the linguist interested in the Pashto language but not necessarily the writing system.

The *Glossary for the CAL Pashto Materials* contains, in dictionary form, all the words taught in the materials - about 5,000 entries. Each entry includes a word or phrase's Pashto spelling, a transcription of pronunciation, English equivalents or explanations, and grammatical information.

All these materials are in the public domain, and copies may be made of them as needed. Each component is listed in the ERIC system with a separate number, and has been designed on the assumption that a single hard copy will be bought from ERIC, then copied and bound. Each component accordingly has a cover page, which should be copied onto heavy paper (a different color for each component makes it easier to identify). The

title page and rest of the component can be copied as usual, then bound with the cover page and a back cover. We have found that comb-binding (available at most copy centers) is best, because it allows the "book" to lie flat. To facilitate copy-making, every page of the materials has been numbered and labelled in English, in headers like the following:

Beginning Pashto Unit 12: ملا يې ژوبله ده Teachers' Manual 82

Some of the components in the ERIC system are now obsolete. Here is a list of everything that has been deposited in the system, along with identifying number (where possible). The items marked with asterisks (***) are obsolete.

***Beginning Pashto: Textbook	ED 323 763
Beginning Pashto: Textbook Tapescript	ED 323 764
***Beginning Pashto: Workbook	ED 323 765
Beginning Pashto: Workbook Tapescript	ED 323 766
Beginning Pashto: Teachers' Manual	ED 323 767
***Beginning Pashto: Glossary	ED 323 768
***Intermediate Pashto: Textbook	ED 338 074
***Intermediate Pashto: Glossary	ED 338 075
Intermediate Pashto: Teachers' Manual	ED 338 076
***Intermediate Pashto: Workbook	ED 338 077
Pashto Reader	ED 353 815
Pashto Reader: Transcriptions	ED 353 814
Pashto Reader: Originals	ED 353 813
Beginning Pashto: Textbook, Rev. Ed.	(number not assigned yet)
Beginning Pashto: Workbook, Rev. Ed.	(number not assigned yet)
Intermediate Pashto: Textbook, Rev. Ed.	(number not assigned yet)
Intermediate Pashto: Workbook, Rev. Ed.	(number not assigned yet)
Pashto Conversation: Tapescript	(number not assigned yet)
Pashto Conversation: Manual	(number not assigned yet)
Glossary for the CAL Pashto Materials	(number not assigned yet)

In the revised editions of the textbooks and workbooks for *Beginning* and *Intermediate Pashto*, we have corrected misprints, recast some of the grammar material, and (we hope) made some of the explanations easier to understand.

If you have any problems or questions about getting the materials, please contact ERIC /CLL, at the Center for Applied Linguistics in Washington, D.C. (tel: (202) 429-9292; fax: (202) 659-5641). If you have any questions about the content of the materials, please contact the authors: Barbara Robson at the Center for Applied Linguistics, or Habibullah Tegey in the Pashto Service, Voice of America, in Washington D.C.

Table of Contents

Introduction vi

Introduction to Revised Edition vii

Unit 15: واده ته نه یم تللي

Section 1: Dialogue 1
Section 2: Perfective Participles 5
Section 3: Reading 10
Section 4: Diversions 12

Unit 16: نجلۍ چه پېغله شوه ...

Section 1: Reading 13
Section 2: Relative Clauses in Pashto 17
Section 3: Dialogue 21
Section 4: Diversions 24

Unit 17: تیارولی یي شم.

Section 1: Dialogue 25
Section 2: The Imperfective Participle 28
Section 3: 'Can' Phrases in Pashto 29
Section 4: Reading 34
Section 5: Diversions 36

Unit 18: ستاسي خوښه چه هر څه کوئ.

Section 1: Dialogue 37
Section 2: Clauses with چه 41
Section 3: Reading 45
Section 4: Diversions 48

Unit 19: جوار یي له غنمو نه ښه وی.

Section 1: Dialogue 49
Section 2: Comparisons 52
Section 3: Reading 57
Section 4: Diversions 60

Unit 20: که بارانونه وشول، للمی به وکرو.
Section 1: Dialogue 61
Section 2: Conditional Statements 63
Section 3: Reading 65
Section 4: Diversions 68

Unit 21: که زه ستا په ځای وی...
Section 1: Dialogue 69
Section 2: Relatives 72
Section 3: Past Unreal Conditions 74
Section 4: Reading 76
Section 5: Diversions 79

Unit 22: که ته نه وی زه نه ورتللم.
Section 1: Dialogue 80
Section 2: Genealogies of the Major Pashtun Tribes 84
Section 3: Present Unreal Conditionals 90
Section 4: Reading 92
Section 5: Diversions 94

Unit 23: ستا پلار خو به کوچی نه و؟
Section 1: Dialogue....95
Section 2: Reading A 98
Section 3: Reading B 104
Section 4: Diversions 108

Unit 24: مېلمه پالنه
Section 1: Reading 109
Section 2: به in More Detail....112
Section 3: Dialogue 115
Section 4: Diversions 118

Unit 25: بدل
Section 1: Dialogue 119
Section 2: The Story Begins 122
Section 3: The Story Continues 126
Section 4: The Story Concludes 129
Section 5: Diversions 132

Unit 26: عزت او ننواتي

Section 1: Reading 133
Section 2: Verb Phrases with Possessive Suffixes 136
Section 3: Dialogue 140
Section 4: Diversions 143

Unit 27: جرگه

Section 1: Reading 144
Section 2: Conversation 147
Section 3: Reading 150
Section 4: Diversions 153

Unit 28: جړ وربل

Section 1: The Story Begins 154
Section 2: The Story Continues 157
Section 3: The Story Concludes 160
Section 4: Diversions 165

Introduction

This Textbook is one of the three components of *Intermediate Pashto* . The other components are a Workbook, a Teachers' Manual, and an Interim Glossary.

All the components of *Intermediate Pashto* are available in microfiche or hard copy through the ERIC Document Reproduction Service.

These materials have been developed by the Center for Applied Linguistics with funding from Grant No. P017A 00022 from the International Research and Studies Program of the U. S. Department of Education. The same office funded CAL to develop *Beginning Pashto*, the components of which are available from the ERIC Document Reproduction Service as well. *Intermediate Pashto* continues the study of Pashto where *Beginning Pashto* left off, and the two together constitute a relatively complete overview of the spoken and written Pashto language, as well as a fairly extensive introduction to Pashtun culture The development of a *Pashto Reader* has also been funded; the reader will be available through the ERIC Document Reproduction Service in early 1993.

We wish to thank Mr Anwar Ayazi for field-testing and commenting on the materials for us His careful reading and thoughtful comments have greatly improved the overall quality and teachability of the lessons.

We also wish to thank our secretary, Mrs. Zeba Khadem, for her patience and cheerfulness, not to mention her willingness to commute into Washington at all hours of the night and day.

Introduction to the Revised Edition

Since the completion of *Intermediate Pashto* in 1990, CAL has continued, with grants from the Department of Education, to complete the *Pashto Reader* (1992). An additional component to the materials, *Pashto Conversation*, has been completed (1993), along with revisions of the textbooks and workbooks of *Beginning* and *Intermediate Pashto*, and a final *Pashto-English Glossary* to accompany all the materials. All the Pashto materials have been deposited in the ERIC system, and are available.

We are again indebted to Mr. Anwar Ayazi for his proofreading and comments on the revised materials.

EDRS

Unit 15: واده ته نه یم تللي

Section 1: Dialogue

تریسا: زه د افغانانو واده ته نه یم تللي. د افغانانو واده څنګه وي؟

لیلا: دلته د افغانانو واده په حقیقت کې یوه لویه مېلمستیا وي چه په اوسط ډول له سلو نه زیات خلك ګډون په کې کوي. خو له مېلمستیا سره یې یو لوی فرق دا وي چه په واده کې هرومرو ساز او نڅا هم وي.

تریسا: واده ته څوك بلل کېږي؟

لیلا: واده ته د ناوې او شاه خپلـوان بلـل کېږي.

تریسا: د واده مراسم څنګه وي؟

لیلا: خلك د یوه هوټل په یوه لـوی سالـون کې تولـېږي. ډله ډله مېزونو ته کښېني. د مېزونـو په سر معمـولاً ډول ډول شریني او پسته یا بادام ایښي وي. ډوډۍ په سالون کې یا په کومه بله کوټه کې په یوه خاص ځای کې ایښي وي. هر څوك ورځي، ځان ته یې اخلي. د سالون په یوې خوا کې کله کله بار وي. په بلې خوا کې یې د سازندګانو تخت او په پای کې یې د ناوې او شاه تخت وي. ټولو مېلمنو ښې جامې اغوستې وي او افغانانو نجونو او ښځو ځانونه ښه سینګار کړي وي.

تریسا: زه څه شي واغوندم؟ خپلې پښتورۍ جامې اغوستی شم؟

لیلا: ولې نه؟ په پښتوریو جامو کې ډېره ښه ښکارېږې.

تریسا: ساز او نڅا څه وخت شروع کېږي؟

ليلا : عموماً د مېلمنو له راتګ نه اړ وروسته، يعني اوه نيمي يا اته بجې، شروع کېږي.

تريسا : ډوډۍ څه وخت خوړل کېږي؟

ليلا : نه نيمې يا لس بجې خوړل کېږي.

تريسا : شاه او ناوی څه کوی؟

ليلا : شاه او ناوی عموماً تخمين يوولس بجې سالون ته ورځی. کله چه سالون ته ننوځي سازنده يوه خاصه سندره شروع کړی او شاه او ناوې ورو ورو خپل تخت ته ځي. کله چه شاه او ناوې پر تخت ودرېږی بعضې خپلوان او دوستان يې شيريني عموماً نقل، پرې شيندی او په دې پسې بيا يو لړ نور مراسم اجرا کېږی. سازنده په دې وخت کې معمولاً د اتڼ نغمه غږوی او يو شمېر خلك اتڼ ور ته کوی.

New Vocabulary

Nouns

wedding *n. irreg.* [wādá] واده

difference *M2* [farq] فرق

music *M2* [sāz] ساز

dancing *F3* [natsā́] نڅا

bride *F irreg.* [nā́wel] ناوي

groom *M irreg.* [shā] شاه

ceremonies *M irreg.* [marāsém] مراسم

table *M2* [mez] مېز

top *M2* [sar] سر

candy *F* *-eg.* [shirīnī́] شيريني

room *F1* [kóṭa] کوټه

side *F3* [khwā] خوا

self *M2* [dzān] ځان

musician *M irreg.* [sāzəndá] سازنده

platform *M2* [takht] تخت

end *M2* [pāy] پای

girls *F irreg., obl. pl.* [njúno] نجونو

arrival *M2* [rātág] راتګ

Jordan almond *M2* [núqul] نقل

series *M2* [laṛ] لړ

melody *F1* [naghmá] نغمه

number *M2* [shmer] شمېر

English words

hotel *n, M2* [hoṭál] هوټل

club *n, M2* [klab] کلب

salon *n, M2* [sālún] سالون

bar *M2* [bār] بار

Verbs

assemble *der. int.* [ṭolég-] -ټولېږ

beautify *der. tr.* [singāraw-́] -سينګارو

enter *stress-shift* [nənawz-́] -ننوځ

begin *der. tr.* [shuro kaw-́] -شروع کو

throw, toss *smp. tr.* [shind-́] -شيند

take place *der. int.* [ɪjrā kég-] -اجرا کېږ

play *smp. tr.* [ghagaw-́] -غږو

Participles

haven't gone [nə́ yəm tləle] نه يم تللي

are placed [ixí /ixé wi] ايښي/ ايښې وي

have put on [aghustə́le wi] اغوستلي وي

have beautified [singār kéṛi wi] سينګار کړي وي

can I wear [aghustə́lay səm] اغوستلی شم؟

Adverbs, phrases, idioms

basically, in fact [pə haqiqát ke] په حقيقت کي

on average [pə awsát dawəl] په اوسط دول

take part in [pə ... ke gaḍún kaw-́] -په ... کي ګډون کو

in groups [ḍála ḍála] ډله ډله

different kinds of [ḍáwəl ḍáwəl] ډول ډول

for themselves [dzán ta] ځان ته

that is [yáne] يعني

become eaten [khwaṛəl kégi] خوړل کېږي

about, around [takhmín] تخمين

slowly [wrówro] ورو ورو

after that [pə dé pasé] په دي پسي

Practice

1. Answer the following questions.

۱. پاکستان ته کله تللی يې؟
۲. ايران ته کله تللی يې؟
۳. ملګرې دې کله کاناډا ته تللې ده؟
۴. د خپل ښوونکی کره کله تللی يې؟
۵. ملګری دې بالتيمور ته کله تللی دی؟

2. Memorize the following lines from the dialogue:

تريسا: ساز او نڅا څه وخت شروع کېږی؟

ليلا: عموماً د ميلمنو له راتګ نه لږ وروسته، يعنې اوه نيمې يا اته بجې، شروع کېږی.

Practice the exchange with a partner. Then substitute different events, and change the times accordingly, e.g.

۱: پوهنتون څه وخت شروع کېږی؟

۲: عموماً د سنبلې په اول شروع کېږی.

2. Memorize the following lines from the dialogue:

تريسا: زه څه شی واغوندم؟ خپلې پښتورى جامې اغوستی شم؟

ليلا: ولې نه؟ په پښتوريو جامو کې ډيره ښه ښکارېږې.

Practice the question and answer with a partner. Then add different kinds of events, and possible clothes, e.g.

۱: ميلمستيا ته زه څه شی واغوندم؟ خپلې ~~پښتورى جامې~~ اغوستی شم؟

۲: عموماً د سنبلې په اول شروع کېږی.

Section 2: Perfective Participles

Forms

Pres. Imp.	*Past perfective*	*Perfective participle*
لر-	لرل-	[larə́lay] لرلی
جوړو-	جوړ/ جوړه کړ-	[joṛ/joṛa kə́ṛay] جوړ/ جوړه کړی
جوړېږ-	جوړ/ جوړه شو-	[joṛ/joṛa sə́way] جوړ/ جوړه شوی
کښېږ+نـ-	کښېناستل-	[kenastə́lay] کښېناستلی

Notes:

1. The perfective participle is formed by adding [-ay] ی- to the past perfective root (the simple verbs drop the و prefix) of the verb. This participle is a regular Adjective 2, and has the following endings:

M Sg: [-ay] ی-   *M Pl:* [-i] ی-   *F Sg and Pl:* [-e] ې-

2. The irregular verbs that can drop the ل- suffix can drop it in the participle as well, e.g

Present Imp.	*Perfective Participles*
اخلـ-	[akhistə́lay] اخستلی, [akhístay] اخستی
لولـ-	[lwistə́lay] لوستلی , [lwístay] لوستی

3. Some verbs have irregular perfective participles. Some form their participles with the imperfect stem; some do not have alternate participle forms without the ل- suffix; and the participles of some are different words altogether. Irregular participles are listed below.

Present Imp.	*Perfective Participle*
کېږ- (auxiliary)	[sə́way] شوی
کو- (auxiliary)	[kə́ṛay] کړی
ږد-	[íxay] ایښی
ځـ-	[tlə́lay] تللی, [tlay] تلی
بیا یـ-	[bowə́lay] بوولی

EDRS

Practice

1. Give the perfective participles of the following simple verbs.

اور- وای- ګور- شیند-

ښکار- وین- ښیی- غږو-

دربږ- خوړ- غړېږ- غواړ-

2. Give the perfective participles of the following derivative verbs.

اجرا کېږ- بللو- جوړو- کمو-

شروع کو- شروع کېږ- تولېږ - سینګارو-

3. Give the perfective participles of the following doubly irregular verbs.

ورځ- راوړ- ورکو- راکو- راځ-

پرېږد- پاڅېږ- وروړ- ننوځ- درکو-

4. Substitute different participles in the following sentences.

زه ______ یم.

نه ده ______ .

ما کتاب ______ دی .

تا لیلی ______ ده؟

امان ډوډۍ______ وه.

EDRS

Using Perfective Participles

With یم، یې، etc.:

'I have never gone to an Afghan wedding.'	[zə de afghānāno wādə́ ta hetskəla nə́ yəm tləle.]	زه د افغانانو واده ته هیڅکله نه یم تللی.
'Candy will have been put on the tables.	[de mezúno pə sár shiriní ixi wi.]	د میزونو په سر شیریني ایښي وي.
'The food will have been put in a special place.	[ḍoḍəy pə yawa khā́s dzā́y ke ixe wi.]	ډوډۍ په یوه خاص ځای کې ایښې وي.
'All the guests have put on good clothes.'	[ṭolo melmānó xe jāme aghustə́le wi.]	ټولو میلمنو ښې جامې اغوستلې وي.
'The Afghan girls have beautified themselves.'	[afghānā́no njúno dzanúna xə singār kə́ṛi wi.]	افغانانو نجونو ځانونه ښه سینګار کړي وي.
'Has Patang seen (him)?'	[patang lidə́lay da?]	پتنګ لیدلی دی؟
'His doctor has taken x-rays.	[ḍaktar ye aksuna akhísti di.]	ډاکټر یې عکسونه اخستي دي.
'We have studied [kedəl] and [kawəl].'	[kedəl aw kawəl mo lwəstə́li di.]	کېدل او کول مو لوستلي دي.

With وم، وې، etc.:

'I had gone to the hospital.'	[shafā́ khāne ta tlə́lay wəm.]	شفاخانې ته تللی وم.
'His car was in an accident.'	[moṭər ye ṭakar kə́ṛay wə.]	موټر یې ټکر کړی و.

EDRS

Notes:

1. The perfective participle combines with various forms of the verb 'be' to form compound verb phrases. These phrases are roughly parallel to the following English constructions:

Pashto	English
Participle + یم ، یې , etc.	present perfect, e.g. 'I have started out'
Participle + وم، وې, etc.	past perfect, e.g. 'I had started out'
Participle + وی	future perfect(!), e.g. 'I will have started out'

2. The perfective participle and 'be' verb agree with the subject of intransitive verbs, and the object of transitive verbs, e.g.

'The doctor came.' (int.) [ḍaktər rāghə́lay da.] ډاکټر راغلی دی.

'The doctor took x-rays.'(tr.) [ḍaktər aksuna akhístī dī.] ډاکټر عکسونه اخستي دي.

3. If the first component of the participle is an adjective (in derivative verbs), it also agrees with the subject of intransitive verbs, and the object of transitive verbs, e.g.

'They (f) have started out.' [rawāne sə́we dī.] رواني شوي دي.

4. In negative sentences, the past participle frequently comes after the 'be' verb, at the end of the sentence, e.g.

[asad nə́ da tlə́lay.] اسد نه دی تللی.

[zə de afghānāno wādə ta kəla nə́ yəm tləle.] زه د افغانانو واده ته کله نه یم تللی.

Practice

1. In the following intransitive sentences, identify the perfective participle, explain its construction, identify the word it agrees with, and translate the sentence.

١. امان تللی ؤ.

٢. رابیا رسېدلې ده.

٣. امان او رابیا درېدلی وو.

٤. ډېر باران اورېدلی دی.

٥. رابیا د لیلا کره تللې ده.

٦. داود د لیلا کره نه دی تللی.

٧. جان کورته ناوخته رسېدلی دی.

٨. زه ډېر غږېدلی یم.

٩. اسد په کابل کې اوسېدلی دی؟

١٠. غږېدلی نه ؤ.

EDRS

2. In the following transitive sentences, identify the perfective participle, explain its construction, identify the word it agrees with, and translate the sentence.

١. رابيا او ملگرې يې کافي نه ده څکلې.
٢. پتنگ خپل ناروغان معاينه کړي وو.
٣. د اسد پلار شپه په کلی کې تېره کړې ده.
٤. امان خپل لاس ژوبل کړی دی.
٥. ليلا کتاب لوستلی دی؟
٦. اسد په اس سپور شويدی؟
٧. امان ډوډۍ نه وه پخه کړې.
٨. شاگردانو کار نه دی کړی.
٩. اسد خپله ملا ژوبله کړې ده.
١٠. پلار مې تېره هفته د بهرام خان په کلا کې تېره کړې ده.
١١. امان ډوډۍ نه وې پخې کړې.
١٢. شاگردانو کار نه دی کړی.
١٢. اسد خپله ملا ژوبله کړی ده.
١٤. پتنگ خپل ناروغان معاينه کړی وو.
١٥. د اسد پلار شپه په کلی کې تېره کړې ده.

3. Answer the following questions.

١. افغانستان ته تللی يې؟
٢. نن ناوخته پاڅېدلی يې؟
٣. له پښتنو سره غږېدلی يې؟
٤. نن باران اورېدلی دی؟
٥. صنف ته په وخت راغلی يې؟
٦. نن باد لگېدلی دی؟
٧. په افغانستان کې اوسېدلی يې؟

Section 3: Reading

په امریکا او د کابل په ښار کې د افغانانو د واده عصري مراسم تقریباً یو شان وي. مګر د افغانستان په کلیوالي ودونو کې مراسم بل ډول وي. هلته د زوم او د ناوې په کور کې ځان ځانته مراسم اجرا کېږي. د ناوې مېلمانه چه اکثره ښځې او یو شمېر د ناوې ډېر نږدې خپلوان نارینه وي، د ناوې کره ځي. د زوم مېلمانه چه ډېرې زیاتې ښځې او نارینه د زوم کره ځي. مېلمانه د واده له شپې نه د مخه ماسپښین مهال د زوم او ناوې کره ځي. ټول مېلمانه د واده د شپې تر سبا ماسپښینه هلته پاتې کېږي.

د ناوې کره یوازې ښځې ساز او نڅا کوي. مګر د زوم کره نارینه‌وو ته ډمان ساز کوي. د شپې کسبي هلکان چه خاصې جامې یې اغوستلې وي او زنګونه یې په پښو پورې تړلي وي، ساز ته ګډیږي. دغو هلکانو ته بازینګر ویل کیږي. د ورځې عادي هلکان ساز ته ګډېږي.

د واده د شپې په سبا ماسپښین زوم او د هغه د کورنۍ نارینه او ټول نارینه مېلمانه د ناوې کره ځي. په لاره کې ډم ډول وهي او یو شمېر نارینه اتڼ کوي. دغه راز دوی په لاره کې د ټوپکو ډزې هم کوي. زوم پر اس سپور له خلکو سره روان وي. ټولو خلکو ته چه د ناوې کره ځي ورا ویل کېږي.

کله چه ورا د ناوې کره ورسېږي، هلته یو څه وخت پاتې کېږي. بیا ناوې په اس سپروي او له ځان سره یې د زوم کره بیایي.

د ورا خلك د غرمې ډوډۍ کله د زوم کره خوري او کله د ناوې کره. خو مصرف یې ټول د زوم کورنۍ ورکوي.

EDRS

New Vocabulary

<u>Nouns</u>

sort *M2* [shān] شان

musician *M1* [ḍəm] ډم

boy *M1* [aləḱ] هلك

dancer *M1* [bāzingə́r] بازينگر

drum *M2* [ḍol] ډول

wedding party *F3* [wrā] ورا

rifle *M irreg.* [ṭopák] ټوپك

shot *F1* [ḍáza] ډزه

expense *M2* [masráf] مصرف

<u>Adjectives</u>

rural *4* [kəliwālī] كليوالى

modern *4* [asrī] عصرى

professional *4* [kəspī] كسبى

ordinary *4* [ādī] عادى

<u>Adverbs, phrases, and idioms</u>

by themselves [dzā̃n dzānta] ځان ځانته

are called [wayəl kégi] ويل كېږى

in addition, also [dágha rāz] دغه راز

<u>Verbs</u>

stay *der. int.* [pāte kég-] پاتي كېږ-

dance *der. int.* [gaḍég-] گډېږ-

beat (drum) *smp. tr.* [wah-́] وهـ-

put (someone) on (something) *der. tr.* [sparaw-́] سپرو-

Have You Understood?

1. Describe, in English, a rural Afghan wedding.

2. Finish the following sentences.

١. عصرى افغاني واده يوه لويه مېلمستيا وى.مگرپه كليوالى واده كي ....

٢. په كلو كي شاه د ناوي كره ځى، مگر په عصرى ودونو كي ....

٣. په عصرى واده كي شاه او ناوي دواړه يو ځاى د واده مجلس ته ځى، مگر په كليوالى واده كي ....

٤. په كليوالى واده كي بازينگر گډېږى، مگر په عصرى واده كي ....

Section 4: Diversions

يوه سړی له يوې ډېرې بدرنګې ښځې سره واده وکړ. د واده د شپې په سبا ښځې مېړه ته وويل: د خپلې کورنۍ نارينه تول راته وښيه او راته ووايه چه له چا نه مخ پټ کړم او له چا نه يې پټ نه کړم؟ مېړه ورته وويلې: يوازې له ما نه يې پټوه، له بل هيچانه يې مه پټوه!

get married to *phr.* [... sara wādə́ kaw-́] سره واده کو- ...

husband *n, M2.* [meṛə́] مېړه

no one else *obl. form* [héchā] هېچا

ملا نصرالدين خپله لور يوه سړی ته ورکړه. د واده په ورځ کله چه ورا ناوې د مېړه کره بووله، ملا پسې ورغی. لورته ور نژدې شه، او ورته وې ويل: يوه ډېره مهمه خبره درته کوم. هېره يې نکړې. کله چه تار په ستن کې اچوې، يوه سر ته يې هرومرو غوټه اچوه. که نه وی نو، تول تار دې د ستنې له سپم نه بله خوا تېرېږی.

forget *der. tr. vb.* [heraw-́] هېرو-

thread *n, M2.* [tār] تار

needle *n, F1 - [a]* [stən] ستن

throw smp. tr. vb. [achaw-́] اچو

thread a needle *phr.* [pə stə́n ke achaw-́] په ستن کې اچو-

knot *n, F1.* [ghúṭa] غوټه

otherwise *phr.* [ka nə́ wi no] که نه وی نو

eye of a needle *n, M2.* [spam] سپم

Unit 16: ... نجلۍ چه پېغله شوه

Section 1: Reading

په افغانستان کې د هلك او نجلۍ د کوژدې بندوبست د هغوی مور او پلار کوی. کله چه هلك ځوان شی مور او پلار دا خپل مسئولیت گڼی چه که یې له لاسه وشی، واده ورته وکړی. نجلۍ هم کله چه پېغله شی مور او پلار یې غواړی چه ور یې کړی. ځینې لا وایی چه نجلۍ پېغله شوه په کور کې یې مه ساته. اما د کوژدې خبره تل د هلك کورنۍ د نجلۍ کورنۍ ته کوی.

د هلك مور او پلار د نجلۍ د مور او پلار کره ریبار لیږی او لور یې خپل زوی ته غواړی. ښایی چه د نجلۍ کورنۍ ریبار ته نه ووایی؛ خو د هلك کورنۍ بیا ریبار ور لیږی. د هلك کورنۍ د نجلۍ کورنۍ ته تر هغو ریبار ورلیږی څو چه د هو یا نه قاطع ځواب ترې واخلی.

که د نجلۍ کورنۍ د هلك د کورنۍ غوښتنه ومنله چه خپله لور ورکړی نود هلك د کورنۍ ځینی غړی د نجلۍ د کورنۍ کره ورځی. د نجلۍ کورنۍ یو وریښمین دسمال او یو څه شیرینی چه په حقیقت کې د موافقې نښه ده هغو ته ور کوی. د هلك د کورنۍ غړی دغه شیان له ځان سره وړی. کله چه کور ته ورسیږی هلته هغه ښځی چه ټولې شوې وی، دیرا وهی او دا سندره وایی:

دسمال یې راوړ ځوندی پرې پورې
پرې بوره مه شې د هلك مورې

په دې وخت کې نارینه، معمولاً، د ټوپك ډزې کوی او په دې ډول د هلك او نجلۍ کوژده اعلانوی.

که هلك او نجلۍ همسايګان او يا خپلوان نه وی، نو ښايي چه له کوژدې نه پخوا به يې يو بل سره هيڅ ناسته ولاړه نه وی کړی. ښايي چه هلك دنجلۍ او حتی نجلۍ د هلك مخ هيڅ نه وی ليدلی. خو که هلك او نجلۍ په يوه کلی کې سره لوی شوی وی نو ښايي چه په ورکتوب کې يې سره ليدلی وی.

کله کله هلك او نجلۍ په پټه، د نجلۍ کره يو بل سره ګوری. خو کله بيا هلك او نجلۍ اول ځل دواده په شپه سره وينی.

New Vocabulary

__Nouns__

girl *F irreg.* [njə́lay] نجلۍ

engagement *F1* [kozdá] کوژده

arrangement *M2* [bándobast] بندوبست

young man *M1.* [dzwān] ځوان

responsibility *M2* [masulyā̆t] مسئوليت

initiation *F1* [khabə́ra] خبره

intermediary *M1* [raybár] ريبار

answer *M2* [dzawáb] ځواب

request *F1* [ghuxtə́na] غوښتنه

member *M3* [ghə́ṛay] غړی

handkerchief *M2* [dusmā̆l] دسمال

agreement *F1* [mwā̆feqá] موافقه

token *F1* [nə́xa] نښه

tambourine *F3* [daryā̆], [dayrā̆] ديرا

neighbor *F3* [amsā̆ya] همسايه

associate *F1* [nā̆stawəlā̆ṛa] ناسته ولاړه

childhood *M2* [waṛaktób] ورکتوب

__Verbs__

consider *smp. tr.* [gaṇ-́] ګڼ-

keep *smp. tr.* [sā̆t-́] ساتـ-

announce *der. tr. vb.* [ɪlā̆naw-́] اعلانو-

__Adjectives__

precise *4* [qā̆té] قاطع

silk *1* [wrixmín] ورېښمين

EDRS

Adverbs, phrases, idioms

if they are able *phr.* [ka ye lə lā̃sa wə́si] که يي له لاسه وشي

give her (in marriage) *phr.* [wár ye ki] ور يي کړی

even *adv.* [lā] لا

to the point... that *phr.* [tər ... tsó tse] تر ... څو چه

[tre] = [lə aghé na] تري= له هغي نه

in this manner *phr.* [pə dé ḍawəl] په دي ډول

before *phr.* [pə khwā̃] پخوا

each other *phr.* [yaw bə́l] يو بل

in secret *phr.* [pə pə́ṭa] په پټه

The Engagement Song

دسمال يي راوړ څوندی پري پوري
پري بوره مه شي د هلك موري

[dusmāl ye rā̃woṛ, tsunḍí pe póre
pe búra mə́ se de alək móre.]

'They brought the handkerchief, tassels on its edges
May the boy's mother not become bereft of him.'

tassel *n, M3* [tsunḍáy] څوندی

woman whose son has died *n, F1* [búra] بوره

EDRS

Have You Understood?

1. Put the following sentences in the proper order.

۱. د هلك د كورنۍ ځينې غړي د نجلۍ كره ورځي.

۲. د هلك مور او پلار د نجلۍ د مور او پلار كره ريبار ورلېږي.

۳. د نجلۍ د كورنۍ ښځې ډيرا وهي او سندره وايي.

٤. د نجلۍ كورنۍ د هلك كورنۍ ته قاطع ځواب اخلي.

٥. د نجلي كورنۍ وريښمين دستمال او يوه اندازه شريني د هلك د كورنۍ غړو ته ور كوي.

٦. كه د نجلۍ كورنۍ ريبار ته نه ووايي، د هلك كورنۍ بيا ريبار ور لېږي.

۷. په دې وخت كې نارينه معمولاً د ټوپكو ډزې كوي.

۸. د هلك د كورنۍ غړي دسمال او شريني له ځان سره وړي.

2. Fill in the missing words, then check your answers with the reading.

۱. په افغانستان كې د ________ او ________ د كوژدې بندوبست د هغوی مور او پلار كوي.

۲. د كوژدې ________ تل د ________ كورنۍ د ________ كورنۍ ته كوي.

۳. د هلك مور او پلار د نجلۍ د مور او پلار كره ________ لېږي او لور يې خپل زوی ته غواړي.

٤. كه دنجلۍ كورنۍ د هلك د كورنۍ ________ ومنله نو د هلك د كورنۍ ځينې غړي ________ كره ورځي.

٥. او د نجلۍ كورنۍ يو وريښمين ________ او يوه اندازه ________ هغو ته ور كوي.

3. Discuss, in English, the differences between the engagement process in Pashtun society and engagements in American society.

EDRS

Section 2: Relative Clauses in Pashto

Examples

'The girl who is buying the dress is Rābyā's sister.'	[agha njəlay tse kamis akhle de rābyā khor da.]	هغه نجلۍ چه کميس اخلي د رابيا خور ده.
'The girl who bought the dress is Rābyā's sister.'	[agha njəlay tse kamis ye wākhista de rābyā khor da.]	هغه نجلۍ چه کميس يې واخسته د رابيا خور ده.
'The girl who came to the party is Rābyā's sister.'	[agha njəlay tse melmastyā ta rāghəle wa de rābyā khor da.]	هغه نجلۍ چه ميلمستيا ته راغلې وه د رابيا خور ده.
'The girl that I saw at the party is Rābyā's sister.'	[agha njəlay tse pə melmāstyā ke me walida de rābyā khor da.]	هغه نجلۍ چه په ميلمستيا کې مې وليده د رابيا خور ده.
'The girl with whom I was sitting is Rābyā's sister.'	[agha njəlay tse zə war sara nāst wəm de rābyā khor da.]	هغه نجلۍ چه زه ورسره ناست وم د رابيا خور ده.
'The house where my family was living has been sold.	[agha kor tse koranəy me pəke woseda, kharts səway da.]	هغه کور چه کورنۍ مې پکښې اوسېده خرڅ شوی دی.

EDRS

Notes:

1. A relative clause is a sentence that modifies a noun. In the sentences, transcriptions and translations above, the relative clauses are underlined once, and the modified nouns underlined twice.

2. In Pashto, the relative clause follows the noun it modifies, and is introduced by the clause marker چه .

3. Within the relative clause, there is always a noun identical to the noun the clause modifies; in the clause, that noun has been changed to a weak pronoun and follows weak pronoun rules (e.g. if a subject, it drops in present tense sentences; if a subject in a transitive past tense sentence, it stays, etc.)

4. When the noun and its relative clause come towards the end of a sentence, the rest of the sentence often comes between the noun and the clause, e.g.

'Asad likes the girl who is dancing the atan.'	[asad agha njələy khwaxawi tse atan kawi.]	اسد هغه نجلۍ خوښوی چه اتڼ کوی.
'Amān doesn't know the woman who is talking with Laylā.'	[amān agha xədza nə pezani tse laylā sara ghagegi.]	امان هغه ښځه نه پیژنی چه لیلا سره غږیږی.
	or	
	[amān agha xədza tse laylā sara ghagegi nə pezani.]	امان هغه ښځه چه لیلا سره غږیږی نه پیژنی .

5. A noun modified by a relative clause frequently occurs with words. like هغه or کوم

6. Some writers punctuate the end of a relative clause with a comma.

EDRS

Practice

1. In the following sentences from the dialogues and readings, identify the relative clause and the word it modifies.

۱. کله چه کور ته ورسېږی هلته هغه ښځي چه ټولی شوی وی، دیرا وهی.

۲. د شپې ځینی کسپی هلکان چه خاصي جامې یې اغوستلي وی او زنگونه یې په پښو پورې ترلی وی، ساز ته گډېږی.

۳. ټولو خلکو ته چه د ناوې کره ځی ورا ویل کېږی.

٤. د نجلۍ کورنۍ یو وریښمین دستمال او یوه اندازه شرینی چه په حقیقت کې د موافقې نښه ده هغو ته ور کوی.

۵. د ناوې مېلمانه چه اکثره ښځې او یو شمېر د ناوې ډېر نژدې خپلوان نارینه وی، د ناوې کره ځی.

٦. د افغانانو واده یو لوی مجلس وی چه په اوسط ډول له سلو نه زیات خلك گډون پکښې کوی.

۷. د شاه مېلمانه چه ډېرې زیاتې ښځې او نارینه په کې وی د شاه کره ځی.

۸. ټولو خلکو ته چه د ناوې کره ځی ورا ویل کېږی.

2. Construct one sentence with a relative clause out of the pairs of sentences given below.

۱. هغه نجلۍ سپوږمۍ نومېږی.
رابیا له نجلۍ سره ناسته ده.

۲. اسد هغه موټر واخیست.
لیلا موټر خوښ کړی ؤ.

۳. امان هغه کمیس اغوستی دی.
کمیس یې له افغانستان نه راوړی دی.

٤. زه هغه کتاب لولم.
تا کتاب راوړ.

٥. امان هغه کلا واخسته.
اسد خرې په هغې کلا کې ساتلی.

٦. امان له هغه هلك سره ولاړ دی.
هغه هلك خط د افغانستان نه راوړی دی.

٧. داود هغه کور اخلی.
غلځی صاحب په هغه کور کې اوسی.

٨. هغه نجلۍ د اسد ملګرې ده.
نجلۍ کتاب لولی.

٩. هغه سړی په پېښور کې موټر خرڅوی.
هغه سړی پرون راغی.

١٠. اسد هغه هلك پیژنی.
هغه هلك سندرې وایی.

3. Finish the following sentences.

١. هغه پېغله چه .... د لیلا او اسد خور ده.

٢. هغه امریکایی چه .... پښتو لولی.

٣. هغه خط چه .... سهار را ورسېده.

٤. ما یو کتاب واخیست چه ....

Section 3: Dialogue

تریسا: هلك او نجلۍ څنګه "انګېج" کېږی؟

امان: د هلك او نجلۍ د کوژدې بندوبست عموماً د هغو کورنۍ کوی.

تریسا: په امریکا او کابل کې هم د کوژدې بندوبست د هلك او نجلۍ کورنۍ کوی؟

امان: هو، دلته د مهاجرو په ټولنه او کابل کې هم د کوژدې بندوبست د هلك او نجلۍ کورنۍ کوی. البته څرنګه چه دلته او د کابل د خینو کورنیو نجونې پوره آزادې دی، نو له دې امله هلك او نجلۍ اکثره خپله له یو بل سره رابطه ټینګوی. خو د کوژدې د مراسمو بندوبست د هغو مور او پلار کوی. د کوژدې د بندوبست په وخت کې معمولاً داسې ښودل کېږی چه د هلك او نجلۍ رابطه له همدې ورخې نه شروع کېږی. البته د افغانستان په کلیوالی سیمو کې، هلك او نجلۍ د کوژدې نه مخکې رابطه نه سره لری. حتی ښایی د یو بل مخ یې هېڅ نه وی لیدلی او یا یې حتی د یو بل نوم هم نه وی اورېدلی.

تریسا: په کلیوالی سیمو کې هلك او نجلۍ وروسته له کوژدې نه سره یو ځای کېږی؟

امان: یا د واده تر شپې پورې هېڅ نه سره یو ځای کېږی، او یا کله کله په پټه د نجلۍ په کور کې سره یو ځای کېږی.

تریسا: ستاسو له خبرو نه داسې ښکاری چه په افغانانو کې مینه او مینتوب هېڅ نشته.

امان: نه داسې نه ده. اکثره داسې کېږی چه یو هلك او یوه نجلۍ سره مین وی، خو کورنۍ یې نجلۍ بل چا ته ورکړی. اکثره داسې هم کېږی چه د هلك یوه نجلۍ خوښېږی او مور او پلار یې بله نجلۍ ورته وکړی. لنده دا چه په پښتنو کې مینه او مینتوب شته، د

اجتماعي دودونو له امله اکثره ناکامه وي. همدا دليل دی چه د خو پښتو شفاهي سندرې په تېره بيا لنډۍ، چه د پښتني ټولني د ژوند آينه ده، د ناکامي ميني له سوز نه ډکي دی. په دې سندرو کي د نامنلی مېړه يا موزيګی او مين تر منځ فرق ښيخې ښکاره دی.

تريسا: داسي لنډۍ دې په ياد دي؟

امان: هو، يو دوه خو مي په ياد دي.

New Vocabulary

Nouns

refugee *M irreg.* [mahājér] مهاجر

community, society *F1* [ṭolə́na] ټولنه

relationship *F1* [rābetá] رابطه

love *F1* [mína] مینه

romance *M2* [mayantób] مینتوب

lover *M irreg.* [mayán] مین

custom *M2* [dod] دود

reason *M2* [dalíl] دلیل

life *M2* [zwand] ژوند

mirror *F1* [āyná] آینه

pain *M2* [soz] سوز

unloved husband *M3* [mozigáy] موزیګی

Verbs

build *der. tr.* [ṭingaw-] - ټینګو

is pretended *phr.* [xodəl kég-] - ښودل کېږ

Adjectives

free *1* [azā́d] آزاد

social *4* [ijtimāyí] اجتماعي

unsuccessful *4* [nākā́ma] ناکامه

oral *4* [shefāhí] شفاهي

unloved *2* [nāmanə́lay] نامنلی

Conjunction

since, because [tsə́ranga tse] څرنګه چه

Adverbs, Phrases and Idioms

of course *phr.* [albáta] البته

enough *adv.* [purá] پوره

for ... reason *phr.* [lə ...amala] له ... امله

that same *phr.* [amdé] همدې

previously *phr.* [de mákha] د مخه

together *phr.* [yawdzāy] یوځای

because of *phr.* [de ... lə amála] د ... له امله

especially *phr.* [pə téra byā] په تېره بیا

full of *phr. w/ adj. 1* [lə ... ḍákə] له ... ډک

in mind [pə yā́d] په یاد

EDRS

Practice

1. Use the conjunction ځرنگه چه in sentences, e.g.

ځرنگه چه کار لرم نو مېلمستیا ته نه ځم.

2. Practice the following lines of the dialogue with a partner.

تریسا: داسي لندی دي په یاد دی؟

امان: هو، یو دوه خو مي په یاد دی.

Then ask and answer questions on the model, substituting other phrases for داسي لندی, e.g. د پښتو سندري, etc.

3. Use the phrase د ... له امله in sentences, e.g.

د هوا له امله مېلمستیاته نه ځو.

د امتحان له امله درس لولم.

EDRS

Section 4: Diversions

موزی به راشی ما به مړ کړی
ما د لیلا د لاس بنګړی مات کړی دینه

kill *der. tr. vb.* [məṛ kaw-́] مړ کړ-
bracelet *phr. w/ n, M3.* [de lās bangṛáy] د لاس بنګړی
break *phr.* [māt kaw-́] مات کو-

موزی په خپله تبه نه مری
سبا مې نیت دی چه ژوندی یې خښومه

die *smp. int. vb.* [mr-] مر-
intention *n, M2.* [nyat] نیت
alive *adj. 2* [zwandáy] ژوندی
bury *der. tr. vb.* [khaxaw-́] خښو-

له پاسه خړی اوبه راغلی
بیا په بیاله کې موزیګی لمبلی دینه

from above, upstream *phr.* [lə pāsa] له پاسه
dirty *adj. 1* [khəṛ] خړ
irrigation canal *n, F1* [byālə́] ویاله
swim *smp. int. vb.* [lamb-] لمب-

موزیګی بیا میړانه وکړه
په ډېران مړ خړ یې په توره وواهنه

derogatory form of موزی [mozigáy] موزیګی
manhood, bravery *n, F1* [meṛána] میړانه
trash heap *n, M2* [ḍerán] ډېران
sword *n, F1* [túra] توره

Unit 17: تیارولی یې شم.

Section 1: Dialogue

خوشحال: ستړی مه شې.

امان: مه خوارېږې. مکتب ته تللی وې؟

خوشحال: هو! تللی وم.

امان: معلمان څنګه دی؟ ښه خلك دی؟

خوشحال: هو! وایی چه اکثره ښه خلك دی. خو یو یې د یو څو تنو ښه نه ایسی.

امان: کتابونه یې در کړل؟

خوشحال: هو! را یې کړل. خو د ریاضې کتابونه کم وو او اوو یا اتو تنو شاګردانو ته ور ونه رسیدل.

امان: تاته در ورسید؟

خوشحال: نه، ماته را ونه رسید. خو څوچه زه خپل اخلم د مایك استعمالولی شم.

امان: په صنفونو کې مو شاګردان ډېر دی او که لږ؟

خوشحال: په ځینو صنفونو کې شل تنه دی او په ځینې صنفونو کې له شلو تنو نه څه زیات یا کم وی.

امان: ډوډۍ څنګه کوئ؟

خوشحال: ډوډۍ هم له کوره وړی شو او هم یې له کافتریا نه اخستی شو. نن مو ډوډۍ په کافتریا کې واخیسته.

امان: د کافتریا ډوډۍ څنګه وه؟

خوشحال: دودۍ د تل په شان بې خونده وه. پیځه بیخي وچه وه تنها پنیر او همبرګر یې لاره. پنیر یې هم کم ؤ. همبرګر هم دانه دانه پرې پروت ؤ. مایك چه پیځه ولیده ماته یې مخ را واړاو او راته وې ویل: "Where's the beef?" ما او د میز نورو شاګردانو وخندل. زه غواړم چه خپله دودۍ له کوره یوسم.

امان: خپله یې ځانته تیارولی شې؟

خوشحال: هو! دا څو څه سخت کار ندی. تیارولی یې شم.

New Vocabulary

Nouns

school *M2* [maktáb] مکتب

teacher *M1* [mālím] معلم

individuals *M irreg.* [tána] تنه

math *F irreg.* [rāzí] ریاضی

cheese *M2* [panér] پنیر

Verbs

become poor *der. int.* [khwārég-] -خوارېږ

I can use [istimalawə́lay səm] استعمالولی شم

we can bring [rāwṛə́lay su] راوړلی شو

we can buy [akhistə́lay su] اخیستلی شو

laugh *smp., imp. tr.* [khand-] -خند

you can fix [tayarawə́lay se] تیارولی شې

I can fix [tayarawə́lay səm] تیارولی شم

take *Pres. prf. of* [wṛ-] -وړ [wésəm] یوسم

English words

Mike [mayk] مایك

pizza [pitsá] پیځه

hamburger [hambargár] همبرګر

Adjectives

lacking *1* [kam] کم

little, few, small *4* [ləg] لږ

tasteless *4* [bekhwánda] بې خونده

dry *1* [wəch] وچ

lying (on) *irreg.* [prot] پروت

heavy, difficult *1* [sakht] سخت

Conjunction

until [tsó tse] څو چه

Adverbs, phrases, idioms

as always *phr.* [de tál pa shān] د تل په شان

only *adv.* [tanā] تنها

here and there *phr.* [dāna dāna] دانه دانه

turned (face) toward *phr.* [makh rāwāṛāwəl] مخ راواړاو

Practice

1. Memorize the following sentence from the dialogue:

ځو چه زه خپل اخلم د مایك استعمالولی شم.

Make up other sentences along the model, e.g.

ځو چه زه خپل موټر اخلم د پلار مې استعمالولی شم.

2. Make up sentences using one or the other of the following phrases:

... کم ؤ

... د یو ځو تنو به نه ایسی

زه غوارم چه ...

3. Assume 1) that Khoshal really liked the food in the cafeteria, and wants to buy his lunch every day; and 2) that his father is concerned that he get a decent lunch. Rewrite the last three lines of the dialogue.

EDRS

Section 2: The Imperfective Participle

Pres. Imp.	Past imperfective	Imperfective participle
لار-	لرل-	[larə́lay] لرلى
جوړو-	جوړول-	[joṛawə́lay] جوړولى
جوړيږ-	جوړېدل-	[joṛedə́lay] جوړېدلى
کښېن-	کښيناستل-	[kenastə́lay] کښيناستلى

Notes:

1. The imperfective participle is formed by adding [-ay] ى- to the past imperfective root of the verb. This participle, like the perfective participle described in Unit 15, is a regular Adjective 2.

2. The imperfective participle is different from the perfective participle only in verbs which have different past imperfective and perfective forms, i.e. the derivative and doubly irregular verbs, e.g.

Pres. Imp.	Imperfective participle	Perfective participle
جوړو-	[joṛaw(ə́l)ay] جوړولى-	[joṛ kə́ṛay/joṛa kə́ṛe] جوړ کړى/ جوړه کړې
جوړيږ-	[joṛe(d(ə́l)ay] جوړېدلى	[joṛ sə́way/joṛa sə́we] جوړ شوى/ جوړه شوې
کښېنې-	[kenast(ə́l)ay] کښيناستلى	[kə́nast(əl)ay] کښيناستلى
نننوځ-	[nənawat(ə́l)ay] ننوتلى	[nə́nawat(əl)ay] ننوتلى
کېږ- (aux)	[ked(əl)ə́y] کېدلى	[sə́way] شوى
کو- (aux)	[kawə́lay] کولى	[kə́ṛay] کړى
ږد-	[kexod(ə́l)ay کښېښودلى, [ixod(ə́l)ay] ايښودلى	[ixay] ايښى
ځ-	[tl(ə́l)ay] تللى	[tl(ə́l)ay] تللى
بيايـ-	[bow(ə́l)ay] بوولى	[bow(ə́l)ay] بوولى

EDRS

Practice

1. Give the imperfective participles of the following derivative verbs.

سینګاور-	ښخو-ښینګو-	تیارو-	مرکو-	تولیږ-
استعمالو-	اعلانو-	اجرا کیږ-	شروع کو-	خواریږ-

2. Give the imperfective participles of the following doubly irregular verbs. Be sure to stress the correct syllable.

ورځ-	راوړ-	ورکو-	راکو-	راځ-
پریږد-	پاڅیږ-	وروړ-	ننوځ-	درکو-

Section 3: "Can" Phrases in Pashto

Examples

Present imperfective:

'I can talk.'	[zə ghagedə́lay səm.]	زه غږیدلی شم.
'She can cook aushak.'	[dā̆ āshak pakhawə́lay si.]	دا آشك پخولی شي.
'We can make a stop.'	[mung tamedə́lay su.]	مونږ تمبدلی شو.
'We can bring it to you.'	[mung ye dər ta rā̆wṛə́lay su.]	مونږ یې درته راوړلی شو.

Present perfective:

'I will be able to talk.'	[zə ba wəghagedə́lay səm.]	زه به وغږیدلی شم.
'She will be able to cook aushak tomorrow.'	[sabā̆ta ba āshak pākhə kə́ṛay si.]	سباته به آشك پاخه کړی شي.
'We will be able to make a stop tomorrow.'	[mung ba sabā̆ ta wətamedə́lay su.]	مونږ به سبا ته وتمبدلی شو.
'We will be able to bring it to you.'	[mung ba ye dər ta rā̆wṛəlay su.]	مونږ به یې درته راوړلی شو.

Past Imperfective:

'I could talk (and might have).'	[zə ghagedə́lay swəm.]	زه غږېدلی شوم.
'She was able to cook aushak (and might have).'	[de āshak pakhawə́lay swə́.]	دې آشك پاخولی شوه.
'We were able to bring it to you (and might have).'	[mung dər ta rāwṛə́lay su.]	مونږ درته راوړلی شو.
'We were able to make a stop yesterday (and might have).'	[mung parún tamedə́lay swu.]	مونږ پرون تمیدلی شوو.

Past Perfective:

'I could talk (and did).'	[zə wəghagedə́lay swəm.]	زه وغږېدلی شوم.
'She was able to cook aushak (and did).'	[de āshak pākhə kəṛay swəl.]	دې آشك پاخه كړی شول.
'We were able to bring it to you (and did).'	[mung dər ta rā́wṛəlay swəl.]	مونږ درته راوړلی شول.
'We were able to make a stop yesterday (and did).'	[mung parún wətamedə́lay swu.]	مونږ پرون وتمیدلی شوو.

Notes:

1. Phrases translating as 'can' or 'will be able to ...' or 'could ...' are formed in Pashto with one of the participles of the verb and a present or past perfective form of 'be'.

2. The imperfective participle is used in imperfective contexts (e.g. present tense); the perfective participle is used in perfective contexts (e.g. future statements with به).
English translations of Pashto 'can' phrases usually don't reflect the perfective/imperfective difference in Pashto.

EDRS

3. Phrases reflecting present and future actions use the present perfective forms of 'be':

1sg: [səm] شم 1Pl: [su] شو

2sg: [se] شي 2Pl: [səy] شئ

3 Sg&Pl: [si] شی

4. Phrases reflecting past actions use the past perfective forms of 'be':

1sg: [swəm] شوم 1Pl: [swu] شوو

2sg: [swe] شوي 2Pl: [swəy] شوئ

3sg M: [swə́lə] شول, [sə] شوه 3Pl: [swə] شوه

3sg F: [swa] شوه

5. The و prefix doesn't drop in the perfective participles of simple verbs in 'can' phrases.

Practice

1. In the following sentences from dialogues, identify the 'can' phrase and explain its construction.

١. څو چه زه خپل اخلم د مایك استعمالولی شم.

٢. دوډۍ هم له کوره راوړلی شو او هم یي په کافتریا کي اخستلی شو.

٣. خپله یي خانته تیارولی شي.

٤. تیارولی یي شم.

٥. په دري نیم زره یي هم درکولی شم.

٦. خپلي پښبورۍ جامي اغوستی شم؟

٧. په بالتمور سن کي دي هم کار پیدا نشو کړی؟

٨. نه، هلته مي هم پیدا نشو کړی.

EDRS

2. Answer the following questions.

١. ته لمبلی شې ؟
٢. ته پښتو غږېدلې شې ؟
٣. له داسې پښتنو سره چه انګریزی نه وایی پښتو غږېدلی شې ؟
٤. اتڼ کولی شې ؟
٥. پښتو اخبار لوستلی شې ؟
٦. آشك پخولی شې ؟
٧. په آس سپرېدلی شې ؟ آس ځغلولی شې ؟
٨. پښتنی سندرې غږولی شې ؟
٩. مکتب چه خلاص کړې کار پېدا کولی شې ؟
١٠. په امریکا کې په څه شی کې چنې وهلی شې ؟

2. Change the time phrase in the following sentences and recast the 'can' phrases.

١. زه یې نن لیدلی شم.

پرون : ________________

سبا سهار : ________________

٢. د اسد پلار خپل باغ کال ته خرڅولی شی ؟

نن : ________________

پروسږ کال : ________________

٣. د پتنګ کورنۍ کال ته ښځه نشی ورته کولی.

نن : ________________

پروسږ کال : ________________

٤. زمونږ ملګری پروسږکال افغانستان ته نه شوو تللی.

نن: ____________________

کال ته: ____________________

٥. امان نن خپل وخت له ملګرو سره تېرولی شي.

پرون: ____________________

سبا سهار: ____________________

٦. مونږ راوانېدلی شو.

سبا سهار: ____________________

پرون: ____________________

٧. تیکری پرون خرڅېدلی شو.

سبا ته: ____________________

نن: ____________________

٨. دی تاوېدلی شو.

لږ وروسته: ____________________

نن: ____________________

Section ½: Reading

په پخوا وختو کې د افغانستان په کلیوالو سیمو کې عصری مکتبونه نه وو. هلکان به د سبق د ویلو لپاره ماجت ته تلل. په ماجت کې ملا او یا د هغه شاګردانو درس ورکاؤ.

ملا به هلکانو ته اول د عربي او وروسته بیا د فارسي لوستل ور زده کول. د عربي ډېر مهم درسي کتاب قرآن ؤ. د فارسي درسي کتابونه د نظم یا نثر زاړه متون وو. ملا د عربي یا فارسي معنا هلکانو ته نه ور ښودله. څرنګه چه فارسي کتابونه زاړه د نظم یا نثر متون وو، فارسیوان هلکان یې هم په معنا دومره نه پوهیدل.

البته ځینو هلکانو به چه د قرآن لوستل زده کړل، بیا به یې د ځینو نورو عربي کتابونو لوستل پیل کړل. دا کتابونه به شاګردانو له معنا سره زده کول. مګر هر څه یې په یادول او د عربي په ګرامری ترکیب پسې نه ګرځېدل. دغو هلکانو به فارسي متون، معمولاً، له معنا سره لوستل.

نجونو په عمومي ډول سبق نه لوسته. خو که کومې یوې به یې سبق لوسته، نو ماجت ته به نه تله. سبق به یې په کور کې لوسته.

اما په افغانستان باندې د روسانو له حملې نه پخوا، په کلیوالی سیمو کې هم عصری مکتبونه بیخي ډېر زیات وو، خو بیا هم ډېرې لږې نجونې مکتب ته تللې. په عصری مکتبونو کې په پښتو ویونکو سیمو کې په پښتو تدریس کېده او په فارسي ویونکو سیمو کې په فارسي.

New Vocabulary

Nouns

lesson *M2* [sabáq] سبق

mosque *M2* [mājə́t] ماجت

Arabic (lg.) *F irreg.* [arabí] عربي

Farsi (lg.) *F irreg.* [fārsí] فارسي

Koran *M2* [qurā́n] قرآن

poetry *M2* [názəm] نظم

prose *M2* [násər] نثر

texts *irreg.* [mutún] متون

meaning *F3* [mānā́] معنا

structure *M2* [tarkíb] ترکيب

Russian *M1* [rus] روس

invasion *F2* [hamlá] حمله

Adverbs, phrases, idioms

would [ba] به

textbook [darsí kitab] درسی کتاب

care about [... pə se gərdzég-] ... پسي ګرځېږ-

generally [pə umumí ḍawəl] په عمومی ډول

Adjectives

old *adj 5* [zoṛ] زوړ

grammatical *4* [gɪrāmarí] ګرامری

speaking *2* [wayúnkay] ویونکی

Verbs

to study *inf.* [wayə́l] ويل

to read *inf.* [lwastə́l] لوستل

teach *phr.* [zda kaw-́] زده کو-

start *phr.* [payl kaw-́] پیل کو-

memorize *der. tr.* [payādaw-́] پیداو-

be taught *phr.* [tadris kég-] تدریس کېږ-

Prepositions

for, in order to [de ...lə pāra] د ... لپاره

in, on [bā́nde] باندي

Have You Understood?

1. Answer the following questions.

١. هلکانو په ماجت کي عربی له معنا سره ویله؟

٢. په ماجت کي مېلمانه څوك وو؟

٣. ملا یانو عربی ویلی شوه؟

٤. د روسانو له حملي نه د مخه، د افغانستان په پښتني سیمو کي عصری مکتبونه وو؟

٥. په عصری مکتبونو کي کومي ژبي تدریس کېدلي؟

EDRS

Section 5: Diversions

From a Fourth Grade Reader....

زمونږ معلم صاحب ډېر ښه سړی دی .
پرون یې د درس په وخت کښې مونږ ته وویل :
زما زامنو! نن د څلورم ټولګی د اول درس د
شروع کولو دپاره په دې کوټه کښې را ټول
شوي یو . څرنګه چه دلته د خپلو ملګرو او معلمانو
سره یو ځای یئ خوشحاله به اوسئ . تیر کال مو
څنګه په خوشحالۍ تېر کړ . تاسې ټولو زیار
وکېښ خپل سبقونه مو ښه ضبط کړل .

زمونږ معلم صاحب ډېر ښه سړی دی. پرون یې د درس په وخت کې مونږ ته وویل: زما زامنو! نن د څلورم ټولګی د اول درس د شروع کولو دپاره په دې کوټه کې را ټول شوی یو. څرنګه چه دلته د خپلو ملګرو او معلمانو سره یو ځای یئ خوشحاله به اوسئ. تیر کال مو څنګه په خوشحالۍ تېر کړ. تاسې ټولو زیار وکېښ خپل سبقونه مو ضبط کړل.

کښې = کې
یئ = یاستئ
زیار وکیښ = ډېر زیات کار وکړ
ضبط کړو- = زده کړو-

Unit 18: ستاسې خوښه چه هر څه کوئ.

Section 1: Dialogue

امان: زه به چمن وربېم. ستاسې خوښه چه هر څه کوئ.

خوشحال: زه به د ترکاری پټی واړوم او اوار به یې کړم.

لیلا: زه به اول د شفتالو د ونې وچ ښاخونه پرې کړم، بیا به مرسل کورپه کړم. وروسته له هغه نه به په پټی کې کومك در سره وکړم.

خوشحال: پټی تیار دی.

لیلا: دا پاس خوایې لا ښه نه ده اواره. لږ نور کار هم په کې وکړه.

خوشحال: ښنگه دی، اوار شو؟

لیلا: هو! خیر یوسې؛ بیخی ښه شو.

خوشحال: بوټی چیرې دی؟

لیلا: رومی بانجان، تور بانجان مرچ په گراج کې دی. تورایی او کدو په موټر کې ایښی دی.

خوشحال: پارو او ټاپ سایل چیرې دی؟

لیلا: پارو هم په گراج کې په الماري کې ایښی دی. زه به د بوټو ځایونه غوچ کړم. ته به ټاپ سایل او پارو له خاورې سره گډ کړې.

خوشحال: هر بوټی ته څومره پارو واچوم؟

لیلا: گومان کوم چه هر بوټی ته به یوه قاشقه بس وی.

خوشحال: نور شیان چیرې کړو؟

لیلا: گندنه د کور شاته کړو او بادرنگ، هندوانې او ختکی د کور په ښنگ کې د کتارې خوا ته کړو.

EDRS

خوشحال: ته يې ځایونه ښه کړه چه زه يې جوړ کړم.

لیلا : ځایونه دې يې پلار ته ښه معلوم دی. هغه به يې درته ښه کړی.

خوشحال: دا سرې ملی چېرې کرئ ؟

لیلا : هغه د ترکاری د پټی په پولو کرو.

خوشحال: نعناع چېرې کښېنوو ؟

لیلا : نعناع هلته لیری د ونو خوا سره کښېنوو. که يې دلته کښېنوو
ټوله دنیا نیسی او په عذابوی مو.

خوشحال: د گندنې تخم مو له کومه کړ ؟

لیلا : د گندنې تخم ژمی امین له کابله راووړ.

خوشحال: گندنه دلته کېږی؟

لیلا : هو! زمونږ ملگری کرلې ده. پروسږ کال ډېره ښه په زور کې وه.

New Vocabulary

Nouns

lawn *M2* [chamán] چمن

vegetable *M3* [tarkārī] ترکاری

bed *M3* [paṭáy] پټی

tree *F1* [wóna] ونه

branch *M2* [khāx] خاښ

tea rose *M irreg.* [morsál] مرسل

plant *M3* [búṭay] بوټی

manure, fertilizer *M irreg.* [pārú] پارو

shelf *F2* [almaráy] الماری

dirt, dust *F1* [khāwra] خاوره

spoon *F1* [qāshúqa] قاشقه

behind *F3* [shā] شا

fence *F1* [kaṭārá] کټاره

boundary, edge *F1* [púla] پوله

world *F3* [dunyā] دنیا

seed *M2* [tókham] تخم

strength *M2* [zor] زور

Vegetables and fruits

peach *M irreg.* [shaftalú] شفتالو

tomato *phr.* [rumí banján] رومی بانجان

eggplant *phr.* [tór banján] توربانجان

kind of squash *M irreg.* [turāyí] تور ایی

pumpkin *M irreg.* [kadú] کدو

leek *F1* [gandaná] گندنه

cucumber *M2* [bādráng] بادرنگ

watermelon *F1* [indwāná] هندوانه

melon *M3* [khaṭakáy] ختکی

radish *phr. w/ F3* [sra muláy] سره ملی

mint *F3* [nānā] نعناع

Adjectives

level *1* [awār] اوار

ready *1* [tayár] تیار

upper *4* [pās] پاس

enough *4* [bas] بس

known *1* [mālúm] معلوم

far *4* [lére] لري

English words

garage *M2.* [garáj] گراج

topsoil *M2.* [tāpsáyl] تاپ سایل

Verbs

mow *smp. tr.* [reb-́] -رېب

turn over *smp. tr.* [aṛaw-́] -اړو

prune *phr.* [kurpa kaw-́] -کورپه کو

dig *der. tr.* [ghawchaw-́] -غوچو

mix *der. tr.* [gaḍaw-́] -گډو

sow *smp. tr.* [kar-́] -کر

mark *phr.* [nəxa kaw-́] -نښه کو

plant *smp. tr.* [kenaw-́ -کېښنو

catch, arrest *smp. irreg.* [niw-́] -نیو

cause trouble *id.* [pə azābaw-́] -په عذابو

Adverbs, phrases, idioms

yet, still [lā] لا

good for you [kháyr wese] خیر یوسي

how much [tsúmra] څومره

EDRS

Practice

1. Memorize the following lines of Laylā's from the dialogue:

زه به اول د شفتالو د ونې وچ ښاخونه پرې کرم، بیا به مرسل کورپه کرم. وروسته له هغې نه به په پټی کې کومك در سره وکرم.

Now construct sentences along the model describing things you intend to do: ...

زه به اول. ... بیا ... وروسته له هغې نه....

2. Using the noun شا, ask and answer questions about the location of objects behind other objects, e.g.

a: موټر چیری دی؟

b: د کور شاته دی.

3. List things that cause you trouble, e.g.

امتحان مې په عذابوی.

4. Describe a yard or garden you are familiar with. Include the location of trees, bushes, and flower beds.

5. Answer the following questions:

۱. امان او لیلا څه شی کری؟
۲. د پټی په کار کې څوك کومك ورسره کوی؟
۳. لیلا وروسته له مرسلو له کورپه کولو نه څه کوی؟
٤. خوشحال بوټی چېرته پیدا کرل؟
٥. چمن چا ورېبه؟
٦. لیلا نعناع ونو ته نژدې ولی نه کری؟

Section 2: Clauses with چه

چه Clauses Used as Nouns

چه clauses as reported speech

'They say that rain is the mercy of God.' — وایی چه باران د خدای رحمت دی.

'I know that you are dear to yourself.' — پوهېږم چه ځان دېر درباندې گران دی.

'The cricket said to him that he [the cricket] had sung the whole year.' — چرچرك ورته وویل چه ټول کال مې سندرې ویلې.

چه clauses reporting consequences

'Sometimes it snows so much that the streets are completely blocked.' — کله کله دومره زیاته واوره اورېږی چه سرکونه بیخی بندېږی.

'Wait so that [we can see] what they have.' — ته ودرېږه چه څه شی لری؟

'Tomorrow we'll send Asad to buy a good, big lamb.' — سبا به اسد ولیږو چه ښه لوی پسه واخلی.

چه clauses translating as infinitives in English

'I want to take my lunch from home.' — زه غواړم چه خپله ډوډی له کوره یوسم.

'They tried to get these names accepted.' — دوی کوشش وکړ چه دغه نومونه عام کړی.

'I want to go too.' — زه هم غواړم ورشم.

EDRS

چه clauses functioning as logical subjects or complements

'My intention tomorrow is that I will bury him alive.' [line from landay]	سبا مي نيت دی چه ژوندی يي ښخومه.
'The hope is that it won't be serious.'	اميد دی چه خطرناکه به نه وی.
'It's good that you came.'	ښه شو چه راغلي.
'Among Pashtuns it is not necessary that a guest be invited.'	په پښتنو کي دا ضرور نه ده چه مېلمه وبلل شي.

چه clauses after idiomatic expressions

'In short, there is a difference between guests and travelers.'	لنده دا چه مسافر او مېلمه فرق سره لری.
'It looks like you also want to buy it for Theresa.'	لکه چه ته هم غواړي چه تريسا ته يي واخلي.
'It's possible that they haven't seen each others' face.'	ښايي چه د يو بل مخ يي هيڅ نه وی ليدلی.

چه Clauses Used as Adverbs

'When Mike saw the pizza he turned to me.'	مایك چه پیځه ولیده ماته یې مخ راواړاوه.
'When a girl also becomes of age her mother and father want to give her [in marriage].'	نجلۍ هم کله چه پېغله شی مور او پلار یې غواړي چه ور یې کړی.
'When people in the villages go from one place to another, they ride a horse or donkey.'	کله چه خلك په کلو کې له یوه نه بل ځای ته ځی، په خرو یا اسونو سپریږی.
'Until I get my own I can use Mike's.'	څو چه زه خپل اخلم د مایك استعمالولی شم.

Note:
If the sentence is such that the word چه would come first, the subject of the چه clause occurs before the چه, e.g. مایك in the first example sentence. This occasionally happens when the چه is preceded by another word, e.g. نجلۍ هم کله چه... in the second example sentence.

Practice

1. Construct endings for the following sentences.

۱. گومان کوم چه ...
۲. په امریکا کې خلك وایی چه ...
۳. پوهیږو چه ...
٤. مور او پلار مې غواړی چه زه ...
٥. معلم مو کوشش کوی چه ...
٦. سبا ښایی چه ...
۷. لکه چه ...

EDRS

٨. پرون مې ملګرى وويل چه ...
٩. څنګه چه زه راورسيدم ...
١٠. دا ضرور نه ده چه ...

2. Translate the following sentences from previous dialogues and readings into idiomatic English.

١. ستاسئ خوښه چه هر څه کوئ.

٢. ته يې ځايونه ننبه کړه چه زه يې جوړ کړم.

٢. مثلاً که د چا تبه وى ورته وايى چه د خوسى پوست واغونده.

٤. راته ووايه چه له چا نه مخ پټ کړم او له چا نه يې پټ نه کړم.

٥. مېږتانه له چرچرك نه پوښتنه وکړه چه ټول کال دې څه کول چه اوس په ځان پورې حيران يې؟

٦. دوکاندار ته يې وويل چه له واسکټ نه چپنې ته زيات ضرورت لرم.

٧. همدا ؤ چه مېږتانه ته ورغى چه کومك ورسره وکړى.

٨. همدا دليل دى چه د پښتو شفاهى سندرې، د ناکامې مينې له سوز نه ډکې دى.

٩. لنده دا چه په پښتنو کې مينه اړ مين شته، خو د اجتماعى دودونو له امله اکثره ناکامه وى.

١٠. د هلك کورنۍ د نجلۍ کورنۍ ته تر هغو ريبار ور ليږى څو چه د هو يا نه قاطع ځواب ورنه واخلى.

١١. څنګه چه له مارکېټ نه تېر شې، ښى لاس ته دې مګنوليا روډ دى.

١٢. ستاسي له خبرو نه داسي ښکارى چه په افغانستان کې مينه او مينتوب هيڅ نشته.

Section 3: Reading

په افغانستان کي کرنه بیخي ابتدایي شکل لري. خلك د کرني لپاره تراوسه هم له حیواناتو په تېره بیا، غویو او ډېرو ابتدایي سامانونو نه لکه ژغ، سپاره، ماله، گدیال او بیل کار اخلي. لو په لور کوي. مېوې چه پخي شي څیني یې لکه، توت، زردالو او الوچې څندل کیږي. مگر نورې یې لکه منې، ناك ، انگور، او نور اکثره په لاس او یا څینو وسایلو لکه کوچکه تولول کیږي.

کرنه پرته له نورستان نه په نور افغانستان کي عموماً د نارینه وو کار دی. اما په نورستان کي د کور کار نارینه او د صحرا کار ښځي کوي.

خلك اکثره له حیواني او انساني پارو نه کار اخلي. کیمیاوی پارو هم لږڅه رواج شوی مگر عام شوی نه دی. د پارو د وړلو لپاره عموماً له خرونه استفاده کوي. مگردنورو شیانو د وړلو راوړلو لپاره له نورو حیواناتونه لکه اس، کچر، اوښ او غوایي کار اخلي.

کومي مهمي غلي چه په افغانستان کي کرل کیږي هغه غنم، جوار او وریژې دی. خو جودر، باقلي، مې، مشنگ، شرشم، کونځلي او داسي نور هم کرل کیږي.

په ترکاری کي پیاز، گندنه، بادرنگ، ترپ، شلغم، بانجان، رومی بانجان تورایي، کدو او نور شامل دی.

د افغانستان ختکی ډېر خواږه او خوندور دی او بیخي زیات شهرت لري. په مېوه کي د افغانستان انگور، انار او منې په منطقه کي بیخي مشهور دی. وایي چه په کندهار او هرات کي تر څلور څلوېښت ډولو نه زیات انگور پیدا کیږي. او د کندهار بیدانه انار په بل هیڅ ملك کي نه پیدا کیږي.

EDRS

New Vocabulary

Nouns

agriculture *F1* [karéna] کرنه
state, condition *M2* [shákəl] شکل
animals *M irreg.* [haywānāt] حیوانات
ox *M1* [ghwayáy] غویی
tool *M2* [sāmān] سامان
yoke *M2* [zəgh] ژغ
plow *F1* [spāra] سپاره
land plane *F1* [mālá] ماله
harrow *M2* [gaḍyāl] گډیال
shovel *M2* [bel] بیل
scythe *M2* [lor] لور
tools *M irreg.* [wasāyə́l] وسایل
net *F1* [kawcháka] کوچکه
outside *F3* [sārā] صحرا
mule *M irreg.* [kachár] کچر
camel *M1* [wux] اوښ
grain *F1* [ghalá] غله
fame *M2* [shuhrát] شهرت
region *F1* [mantaqá] منطقه

Crops

mulberry *M1* [tut] توت
apricot *M irreg.* [zardālú] زردالو
plum *F1* [aluchá] الوچه
pear *M2* [nāk] ناك
grape *M irreg.* [angúr] انگور
wheat *M irreg.* [ghanám] غنم
corn *M irreg.* [jwār] جوار
rye *M irreg.* [jawdə́r] جودر
fava bean *M3* [bakulí] باقلی
grass pea *F3* [may] مې
green pea *M irreg.* [mashə́ng] مشنگ
linseed *M irreg.* [sharṣhám] شرښم
sesame *F1* [kundzə́la] کونځله
onion *M irreg.* [pyāz] پیاز
curly cucumber *F1* [tára] تره
turnip *M2* [shalghám] شلغم
pomegranate *M2* [anār] انار

Adverbs, Phrases, Idioms

fertilizer *phr.* [kimyāwí pārú] کیمیاوی پارو
somewhat *phr.* [ləg tsə] لږ څه
seedless pomegranate *4* [bedaná anār] بیدانه انار

EDRS

Verbs

reap *der. tr.* [law kaw-´] - لو کو-

shake *smp. tr.* [ts[illegible]ḍ-] - څنډ

use *der. intr.* [rawājég-] - رواجېږ-

utilize *phr.* [istifādá kaw-´] استفاده کو-

Adjectives

primitive *4* [ibtidāyí] ابتدایی

animal *4* [haywāní] حیوانی

human *4* [insāní] انسانی

common *1* [ām] عام

included (thing) *1* [shāmél] شامل

delicious *irreg.* [khwandawár] خوندور

Have You Understood?

1. Answer the following questions.

١. هغه درې مهمې غلې چه په افغانستان کې کرل کیږی کومې دی؟

٢. په افغانستان کې په کرنه کې له کوم حیوان نه ډېر زیات کار اخستل کیږی؟

٣. د کندهار او هرات د انګورو په باره کې خلك څه وایی؟

٤. په افغانستان کې له کیمیاوی پارو نه څومره کار اخستل کیږی؟

٥. میوې له ونو نه څنګه تولیږی؟

٦. په افغانستان کې د کرنی کار څوك کوی؟

٧. په افغانستان کې څه ډول ترکاری ډېره کرل کیږی؟

2. Write the following headings on the blackboard. Then 'brainstorm' with your classmates in thinking of Pashto words to include under each heading.

<u>میوې</u>	<u>ترکاری</u>	<u>حیوانات</u>	<u>غله</u>	<u>سامان</u>

EDRS

Section 4: Diversions

کر د گلو کړه چه سيمه دې گلزار شی
اغزی مه کره په پښو کې به دې خار شی
کوهی مه کينه د بل سری په لار کې
چېرې ستا به د کوهی په غاړه لار شی

flower garden *n, M2* [gwəlzǎr] گلزار

thorn (Pashto) *n, M3* [aghzáy] اغزی

thorn (Persian) *n, M2* [khār] خار

well (in this context also 'trap') *n, M3* [koháy] کوهی

dig *smp. tr. vb.* [kin-] کينـ-

edge *n, M2* [ghā̌ṛa] غاړه

Unit 19: جوار يې له غنمو نه ښه وی.

Section 1: Dialogue

د اسد پلار: په خير راورسېدې؟

د جمال خان تربور: سلامت اوسې. ژوندی اوسې.

د اسد پلار: جمال خان اکا څنګه ؤ؟

تربور: نور ښه ؤ خو د فصلونو خوند يې سږکال نه و.

د اسد پلار: ولی؟

تربور: اوړی اوبه بيخی کمې وې او د بغلان شولې ډېرې وچې شوې. د جمال خان اکا د بالا دوری شولې ښې وې. خو وروسته مرض ووهلې ډېرې يې پوچې شوې. ګومان کوم چه سږکال به يې ټولې وريژې پنځه خرواره شوې وی.

د اسد پلار: غنم يې څنګه وو؟

تربور: للمی يې ډېر ښه وو. سږ پسرلی په غوری او بغلان کې ډېر بارانونه وشول. مګر د آبی غنمو خوند يې نه ؤ. ډېر يې سرخی ووهل او حاصل يې بيخی کم ؤ. د بغلان للمی له آبی غنمو نه اکثره ښه حاصل لری. رښتيا ما اوريدلی چه د کرنې وزارت د سرخی لپاره کومه دوا راوړې، خلکو ته يې ور کوی.

د اسد پلار: که رښتيا درته ووايم زه په دې باره کې څه معلومات نه لرم.

تربور: هلکان يې معلومولی شی.

د اسدپلار: هو! سبا به يې درته معلومه کړی. داسې ښکاری چه د جمال خان اکا چرت به ډېر خراب وی.

تربور: بیخي خراب دی. ځکه د ختیکیو خوند یې هم نه ؤ.

د اسد پلار: دا ولې؟

تربور: څه يې ګرمۍ خراب کړل او څه چينجي ووهل. په نورو کلونو کې
به يې ختکي کابل څه چه پاکستان او هندوستان ته هم لیږل.
مګر سږکال بیخي لږ وو او ټول يې هلته په وطن کې خرڅ کړل.

د اسد پلار: جوار يې څنګ وو؟

تربور: جوار يې له غنمو نه ښه وو، خو له چينك نه مخکې ډېر زيات
بارانونه وشول او يو څه جوار يې پوده کړل. خو سره له دې
يې هم پنځه ويشت خرواره جوار واخستل.

د اسد پلار: هندوانې يې نه وې کرلې؟

تربور: نه ډېرې يې نه وې کرلې، فقط دومره يې کرلې وې چه خپله
يې وخوری.

د اسد پلار: ستاسې خپل کښتونه څنګه وو؟

تربور: سږکال مود بالادوری ځمکه کې ټوله پنبه کرلې وه او د بغلان
ځمکه کې مو ټول لبلبو کرلی وو. پنبه دومره ښه نه وه. خو
لبلبو ډېرښه حاصل وکړ. ټول تخمين ديرش ټنه شول.

New Vocabulary

Nouns

uncle (title) [akā] اکا

disease M2 [maráz] مرض

unit of measurement M2 [kharwār] خروار

rust (fungus) M3 [surkhí] سرخي

product, outcome M2 [ĥāsál] حاصل

ministry M2 [wezārát] وزارت

information M irreg. [mālumāt] معلومات

reflection, daydream M2 [churt] چرت

heat F irreg. [garmí] ګرمي

worm M3 [chənjáy] چينجی

shucking, husking M2 [chinák] چينك

crop M2 [kəxt] کښت

ton M2 [ṭan] ټن

EDRS

Crops

unirrigated wheat *M3* [lalmí] للمي

irrigated wheat *phr.* [awí ghanam] آبي غنم

cotton *F1* [pumbá] پنبه

sugar beet *M irreg.* [lablabú] لبلبو

Greeting phrases

[zwandáy wose] . ژوندی اوسي

[pə khayr rāwə́rase de.] . په خير راورسېدي

[salāmát wose] . سلامت اوسي

Adjectives

hollow *I* [puch] پوچ

destroyed *I* [kharāp] خراپ

Verbs

tell *der. tr.* [mālumaw-́] معلومو-

rot *phr.* [puda kaw-́] پوده کو-

Place names

M irreg [bālādurí] بالادوری

M3 [ghorí] غوری

Adverbs, Phrases, Idioms

don't/didn't come out very well [khwānd ... nə́ sta/wə] خوند ... نه شته / ؤ

this spring [ság pasarlay] سږ پسرلی

in spite of it [sará lə de] سره له دي

Practice

1. Given the following table of equivalents:

[mána] ۸۰ منه = ۱ خروار

[pāwa] ۱٦ پاوه = ۱ من

and the knowledge that 1 پاو equals about a pound and an eighth, calculate how many tons of rice, and how many tons of corn, Jamāl Khān harvested this year. Conversely, calculate how many خروار of beets his cousin's family harvested.

2. Memorize the following sentences from the dialogue:

د فصلونو خوند يې سږکال نه ؤ.

د آبي غنمو خوند يې نه ؤ.

لکه د ختکيو خوند يې هم نه ؤ.

Create sentences of your own along the same lines, e.g.

پروسږکال مې د امتحان خوند نه ؤ.

EDRS

Section 2: Comparisons

'more than'/'less than' with adjectives

His corn was better than his wheat.	جوار يې له غنمو نه بهتر وو.
His wheat was worse than his corn.	غنم يې له جوارو نه بتر وو.
Asad is older than Khoshal.	اسد له خوشحال نه لوی دی.

Notes:

1. A comparative statement involving an adjective is formed by including the compared thing or person in a prepositional phrase with له ... نه

2. Adjectives in comparative statements are the same in form as adjectives in other constructions.

3. Pashto has borrowed the words 'better' [betár] بهتر and 'worse' [batár] بتر from Persian to express some comparatives. They are directly equivalent to their English glosses, and are the only specifically comparative adjectives in the language.

'more than'/'less than' with nouns

Baram Khan has more horses than Jamal Khan.	بهرام خان له جمال خان نه ډېر زيات اسونه لري.
Jamal Khan has fewer horses than Baram Khan.	جمال خان له بهرام خان نه لږ اسونه لري.
In Baghlan, unirrigated wheat usually produces better than irrigated wheat.	د بغلان للمی له آبی غنمو نه اکثره ښه حاصل لري.

Notes:

1. A comparative statement involving an noun is formed by including the compared thing or person in a prepositional phrase with له ... نه

2. The words زيات 'more' and لږ 'less' are used to modify the noun.

Practice

1. Read the following sentences, then construct possible converses.
Example:

بهرام خان د اسد له پلار نه لږ باغونه لری. (Sentence)
د اسد پلار له بهرام خان نه زيات باغونه لری. (Converse)

۱. په افغانستان کښ غنم له جوارو نه مهمه غله ده.
۲. بهرام خان پروسږکال له غنمو نه لبلبو زيات کرلی وو.
۳. بهرام خان د اسد له پلار نه زيات غنم واخستل.
٤. داود سږکال له پروسږکال نه ډېر کتابونه لوستی دی.
٥. تېره مياشت له دې مياشتې نه ډېر باران وشو.
٦. په غرو کښ له واورې نه باران زيات اوری.
۷. د غلجي صاحب کور د امان او ليلا له کور نه لوی دی.
۸. په پاکستان کښ کرنه له افغانستان نه زياته عصری ده.
۹. د افغانانو واده د امريکايانو له واده نه لوی دی.
۱۰. له سرك نه دلته واوره زياته ده.
۱۱. د افغانستان غرونه د شمالی امريکا له غرو نه جگ دی.
۱۲. د دې دکان کباب د هغه بل دوکان له کباب نه ښه دی.
۱۳. د دې رستوران افغانی ډوډۍ د هغه بل رستوران له افغانی ډوډۍ نه ښه ده.
۱٤. په جلال آباد کښ له کابل نه زياتې شولې کرلې کيږی.
۱٥. مزار له نورو ځايونو نه ښه ختکی لری.

2. Using the following table, construct sentences which compare one man's crops with the others'.

	جمعه خان	بهرام خان	د اسد پلار
غنم	۱٥ خرواره	٥ خرواره	۱۰ خرواره
جوار	۱۸ خرواره	۱۰ خرواره	۱٥ خرواره
پنبه	٥ خرواره	-	-
وریژې	۱۲ خرواره	۸ خرواره	-

EDRS

'most'/'least'

'In Afghanistan, wheat is the most important crop of all.'	په افغانستان کي غنم له ټولو نه مهمه غله ده.
'Wheat is a very important crop in Afghanistan.' *or* 'Wheat is the most important crop in Afghanistan.'	په افغانستان کي غنم ډېره مهمه غله ده.
'Wheat is the most important crop in Afghanistan.'	په افغانستان کي ډېره مهمه غله غنم دي.
'Khoshal is the smartest student of all.'	خوشحال له ټولو نه هوښيار شاگرد دی.
'Khoshal is a very smart student in the class.' *or* 'Khoshal is the smartest student in the class.'	خوشحال د صنف ډېر هوښيار شاگرد دی.
'Khoshal is the smartest student in the class.'	د صنف ډېر ښه شاگرد خوشحال دی.

Note:

1. Superlatives are expressed in Pashto in three ways:
   a) in a comparative construction parallel to English sentences like "Khoshal is smarter than all the students in his class'
   b) in a construction with the word ډېر with normal word order. Sentences with this construction are ambiguous, as indicated in the translations of the example sentences.
   c) in a construction with the word ډېر but with the subject of the sentence placed just before the verb. These sentences are unambiguously superlative.

EDRS

Practice

1. Change the following sentences and questions so that they are unambiguously superlative.

۱.   په افغانستان کې غنم، جوار او شولې ډېرې مهمې غلې دي.

۲.   منې د لوګر ډېره ښه ميوه ده.

۳.   جوار د کابل ډېر مهم حاصلات دي.

٤.   په شمالي کې انګور ډېره عامه مېوه ده.

٥.   انار د کندهار ډېره خوندوره مېوه ده.

٦.   پغمان د کابل ډېره ښایسته سیمه ده.

٧.   چهاردهی د کابل ډېره اباده سیمه ده.

٨.   بزکشي د افغانستان ډېره مشهوره لوبه ده.

٩.   اتڼ د پښتنو ډېره عامه نڅا ده.

١٠.   توت د ساکو ډېره مشهوره مېوه ده.

١١.   پلو د کابل ډېره خوندوره او ښه ډوډۍ ده.

١٢.   کابل د افغانستان ډېر زوړ ښار دی.

١٣.   هلمند ډېره اباده سیمه ده.

EDRS

Equality/Inequality

'Laylā is as tall as Rābyā (is)(tall).'	ليلا دومره جګه ده لکه چه رابيا ده.
'Rābyā is not as tall as Laylā (is)(tall).'	رابيا دومره جګه نه ده لکه چه ليلا ده.
'Bārām Khan has as many children as Jamāl Khān (has).'	بهرام خان دومره واړه لري لکه چه جمال خان يې لري.
'Asad's father doesn't grow as much wheat as he grows beets.'	د اسد پلار دومره غنم نه کري لکه چه لبلبو کري.

Notes:

1. A statement of equality is formed by using the word دومره and a clause preceded by the conjunction 'like' لکه چه.

2. In statements of equality involving adjectives, the repeated adjective in the لکه چه clause is deleted (cf. the first two example sentences above), as it is in English.

3. In statements of equality, the verb in the لکه چه clause is never deleted.

Practice

1. Use one of the adjectives listed below in comparative and equality statements of your own construction.

عام	اوار	لړ	قاطع	زوړ	خړ
ليرى	تيار	وچ	کليوالى	ژوبل	ډك
معلوم	خوندور	ابتدايي	کم	سخت	زړور

Section 3: Reading

پښتانه د غلو د پاکولو د پاره، د غلو د کرلو په شان، تر اوسه هم له حيواناتو او په تېره بيا غويو او ډېرو ابتدايي او طبيعي وسايلو نه استفاده کوي. مثلاً کله چه غنم وريبي درمند ورنه جوړ کړي. د درمنده د مېده کولو له پاره له ښپر نه چه، غويي يې چلوي، کار اخلي. ښپر يوه لويه مثلث ته ورته آله ده چه د ونو له خاښونو او بوټو نه يې جوړ وي. کله کله ددې دپاره چه ښه دروند شي، د ښپر دپاسه تيږې هم کېښودلې کيږي. د ښپر په يوه کونج پورې ځنځير تړلی وي. د ځنځير بل سر د غويو په ژغ پورې تړلی وي. غويي په هغو غنمو چه د درمنده گرد چاپيره اوار شوي وي او پلاله نوميږي، تر هغو گرځي ځو چه ښه ميده شي. دې کار ته غوبل وايي. کله چه يوه پلاله ميده شي، هغه يوې خواته کوټه کيږي، او پر ځای يې بله پلاله جوړيږي. کله چه غنم ټول ميده او يوې خوا ته کوټه شي، بيا يې د پاکولو کار پيل کيږي. ددې کار لپاره له خاښې او باد نه کار اخستل کيږي. خلك ميده بوس او غنم په خاښې پورته غورځوي. بوس باد وړی او غنم، ځای په ځای ښېرته لويږي. دې کار ته بادول وايي. بيا يو شمېر غويي چه ځنگ په ځنگ سره تړلي وي پرې گرځوي چه گوندی هم مېده شي. دې کار ته گونديمال وايي. د غنمو له دانو نه د غټو شگو، لوټو، او وړو او نورو شيانو د جداکولو لپاره له چغل نه استفاده کيږي.

جوار چه ورېبل شي او درمند ورنه جوړ شي، څه موده لمر ته پريښودل کيږي. وروسته بيا چينك کيږي. له چينك نه وروسته بيا هم څه موده لمر ته اچول کيږي چه وچ شي. کله چه ښه وچ شي، خلك يې په سوټيو وهي چه دانې يې له توکو نه جدا شي. وروسته له هغه يې په چچ ښپ وهي چه دانې يې له پك نه جدا شي.

په شولو هم اول يو شمير غويي چه ځنگ په ځنگ تړلي وي، ددې لپاره گرځوي، چه شولې له وښو نه جدا شي. بيا شولې په پايکو کې ټکوي چه پوست يې له دانو نه جدا شي. بيا يې په چچ ښپ وهي چه دانې يې له پك نه جدا شي.

New Vocabulary

<u>Nouns</u>

thresher *M irreg.* [tsápər] څپر
triangle *M2* [musalás] مثلث
tool *F1* [āla] آله
stone *F1* [tíga] تیږه
corner *M2* [kwənj] کونج
path of hay *F1* [pəlāla] پلاله
a process... *M2* [ghobál] غوبل
pitchfork *F2* [xākháy] ښاخۍ
chaff, crushed hay *M2* [bus] بوس
unhulled grain *M3* [gunḍay] گونډی
a process ... [gundimál] گونډيمال
seed *F1* [dāna] دانه
gravel *F1* [shéga] شگه
clay *F1* [lúṭa] لوټه
unhulled grain *M3* [wáḍay] وړی
sieve *M2* [chaghál] چغل
sun *M2* [nmar] لمر
stick *F3* [soṭáy] سوټۍ
cob *F1* [tuká] توکه
stem, straw *M2* [wāxá] واښه
water wheel *F1* [pāykó] پایکو
flake from corncob *M2* [pak] پك

<u>Verbs</u>

clean *der. tr.* [pākaw-́] پاکو-
pull, push *smp. tr.* [chalaw-́] چلو-
spread *der. tr.* [awaraw-́] اوارو-
is called *der. int.* [numég-] نومېږ-
pile *vb phr.* [kwəṭa kég-] کوټه کېږ-
throw *smp. int.* [ghurdzaw-́] غورځو-
fall *smp. int.* [lwég-] لوېږ-
winnowing *der. tr.* [bādawál] بادول-
be husked *phr.* [chinak kég-] چینك کېږ-
spread *smp. tr.* [achaw-́] اچو-
winnow *phr.* [tsap wah-́] څپ وهـ-
grind, knock *smp. tr.* [ṭakaw-́] ټکو-

<u>Adverbs, phrases, idioms</u>

like *phr.* [pə shán] په شان
similar to *phr.* [... ta wár ta] ...ته ورته
on *phr.* [lə pās] له پاس
around *phr.* [gárd chapéra] گردچاپېره
up *adv.* [pórta] پورته
for awhile *phr.* [tsə moda] څه موده

<u>Adjectives</u>

natural *4* [tabí] طبیعی
heavy *1* [drund] درund

EDRS

Have You Understood?

1. Answer the questions.

۱. له غويو نه په غوبل کې ښنګه کار اخستل کېږی؟
۲. په ښپر باندې درندې تېږې ولی کېښودل کېږی؟
۲. غنم په باد ښنګه پاکيږی؟
٤. ښپر ښنګه چلول کيږی؟
٥. غويی په پلاله باندې ولی ګرځول کېږی؟
٦. کومه غله لمر ته وچيږی؟
٧. شولې له وښو نه ښنګه جدا کېږی؟
٨. خلك جوار ولې په سوتی وهی؟

2. Explain what each of the tools listed below is used for.

ښاخی سوتی ښپر چغل پايکه

3. Discuss, in English, the similarities and differences among the harvesting of wheat, rice, and corn.

EDRS

Section 4: Diversions

خلك زيارت ته پتاسې وړي
ما به د جوارو پولۍ وړې چه كونده شومه

[khaləkziyarát ta patāsé wṛi
mā ba de jwāro puləy wṛé tse kwánda swəm-a.]

shrine *n, M2* [ziyārát] زيارت
candy *n, F1* [patāsá] پتاسه
popcorn *phr.* [de jwāro puləy] د جوارو پولۍ
widow *F1* [kwə́nḍa] كونډه

چه مور يې بتياره‌ى وى
زوى يې نه فتح خان كېږى

[tse mór ye bātyārə́y wi
zoy ye né pate khān kégi.]

popcorn maker *n, F2* [bātyārəy] بتيارۍ
hero *phr.* [pate khān] فتح خان

خاونده بيايې غنم لو كړې
چه يار مې لو كړى زه به يې وږى ټولومه

[khawənda byā ye ghanəm law ke
tse yar me láw ki zə ba wági ṭolawəm-a]

O God *phr.* [khawə́nda] خاونده
glean [wagi ṭolaw-] وږى ټولو-

EDRS

Unit 20: که بارانونه وشول، للمی به وکرو.

Section 1: Dialogue

د اسد پلار: کښتونه څنګه ؤ؟

جمال خان: ډېر خوند يې نه ؤ.

د اسد پلار: ولې؟

جمال خان: له يوې خوا واوره او بارانونه و نه شول او اوبه بيخي کمې وې او له بلې خوا نه مو دهقانان او مزدوران کم ؤو. للمی خو مو هيڅ ونه کرل. شولې مو هم بيخي لږ وکرلې. د لبلبو او پنبې کرلو ته مو بيخي توان و نه رسيده.

د اسد پلار: کال ته څه فکر لرې؟

جمال خان: که واوره زياته واوريده او اوبه پرېمانه وې، ډېرې شولې او پنبه به وکرو. که بارانونه وشول، للمی به هم زيات وکرو.

د اسد پلار: غنم او جوار څنګه؟

جمال خان: که اوبه پرېمانه وې، غنم او جوار به هم د نورو کلونو په شان زيات وکرو.

د اسد پلار: د لبلبو او پنبې د کرلو نيت هم لرې او که نه؟

جمال خان: د لبلبو او پنبې کرل په دهقانانو او مزدورانو پورې تړلی دي. که يو شمېر نور مزدوران او دهقانان پيدا کړو لبلبو او پنبه به هم هرومرو وکرو. پروسږکال مو چه هر څه کوشش وکړ له څلورو تنونه زيات مزدوران مو پيدا نه کړل.

EDRS

د اسد پلار: که نور مزدوران او دهقانان پیدا نه کړئ لبلبو او پنبه نه کړئ؟

جمال خان: یو څه به وکرو. خو که مو دري څلور تنه نور مزدوران او یو دوه تنه نور دهقانان پیدا کړل ډېر زیات لبلبو او پنبه به وکرو.

د اسد پلار: که مو دلته څوك پیدا نه کړل زه به دوه دري تنه مزدوران له لوګر نه درته راولېږم.

جمال خان: که دا کار وکړې له مونږ سره به ډېر لوی کومك وی. که لبلبو نه وی، نو پنبه خو به زیاته وکرو.

د اسد پلار: که مي پیدا کړی شول، یو دوه دهقانان به هم درته راولېږم.

جمال خان: که دا وشی، نو بیا لبلبو او شولي هم کرلی شو.

New Vocabulary

Nouns

tenant farmer *M1* [deqān] دهقان

laborer *M1* [muzdúr] مزدور

ability *M2* [twān] توان

Phrases

on the one hand ... له یوې خوا

on the other hand ... له بلې خوا

Practice

1. Memorize the sentence

له یوې خوا واوره او بارانونه و نه شول او اوبه بیخی کمې وې او له بلې خوا نه مو دهقانان او مزدوران کم وو.

Use the phrases ... له یوې خوا ... له بلې خوا in sentences of your own construction.

EDRS

Section 2: Conditional Statements

Examples

'If Asad comes, I will see him.'

که اسد راشی، زه به یې وګورم.
or
که اسد راغی، زه به یې وګورم.

'If I buy the orchard, Asad's father will be pleased.'

که زه باغ واخلم، د اسدپلار به خوشحاله شي.
or
که ما باغ واخسته، د اسد پلار به خوشحاله شي.

'If the weather is good tomorrow, we will go on a picnic.'

که سبا ته هوا ښه وی، میلې ته به لاړ شو.
or
که سبا ته هوا ښه وه، میلې ته به لاړ شو.

Notes:

1. Conditional statements are statements about future possibilities. There are two clauses in a conditional statement: the first clause, which starts with که, contains the condition or possibility; the second clause gives the result.
2. The verb in the که clause of a Pashto conditional is in the present or past perfective tense.
3. If the verb in the که clause of a conditional is in the past perfective tense, all other rules regarding pronoun deletion, case endings, etc., are as usual with past tense verbs.
4. The verb in the result clause is in the future, i.e. in present perfective with به.
5. For conditional sentences, وی is considered perfective.

EDRS

Practice

1. Explain the structure, use of tenses, and meanings of the following sentences from the dialogue.

۱. که واوره زیاته واوریده او اوبه پرېمانه وې، ډېرې شولې او پنبه به وکرو.

۲. که بارابانونه وشول، للمی به هم زیات وکرو.

۳. که یو شمېر نور مزدوران او دهقانان پیدا کړو لبلبو او پنبه به هم هرومرو وکرو.

٤. که نور مزدوران او دهقانان پیدا نکړئ لبلبو او پنبه نه کرئ؟

٥. که مو درې څلور تنه نور مزدوران او یو دوه تنه نور دهقانان پیدا کړل ډېر زیات لبلبو او پنبه به وکرو.

٦. که دا کار وکړې له مونږ سره به ډېر لوی کومك وی.

۷. که لبلبو نه وی، نو پنبه خو به زیاته وکرو.

۸. که مې پیدا کړی شول، یو دوه دهقانان به هم درته راولېږم.

2. Finish the following sentences.

۱. که زه پښتو ښه زده کړم...

۲. که د شنبې په ورځ هوا ښه وه ...

۳. که مو نوی موټر واخست ...

٤. که معلم صاحب را نه غی ...

٥. که وخته رخصت شوو ...

3. Add که clauses to the following results.

۱. ... زه به تل پښتو وایم.

۲. ... زه به دوه هفتې نه یم.

۳. ... افغانستان ته به لاړ شم.

٤. ... رستوران ته به لاړ شو.

٥. ... امتحان به واخلی.

EDRS

Section 3: Reading

په افغانستان کې د ځمکو خاوندان او بزګر عموماً په کلیو کې اوسي. کروندې ځینې کلی ته نږدې او ځینې یې له کلی نه تر پنځو شپږو میلو پورې لري وي. کله کله د ځمکو دخاوندانو کلاوې دهغو په خپلو ځمکه کې وي. خو دا اکثره هغه خلك دي چه زیاته ځمکه لري. په شرقي، مرکزي او ځینو جنوبي سیمو کې د ځمکو خاوندان ډېرې ځمکې نه لري. په اوسط ډول د هر مالك ځمکه د درې څلورو جریبو تر منځ وي. د ننګرهار، لغمان‌کابل، میدان، لوګر، غزني، پکتیا او بامیانو په سیمو کې عموماً څوك له دوه درې جریبو نه زیاته ځمکه نه لري. یوازې ځینې کسان پنځلس شل جریبه ځمکه هم لري. په شمالي او غربي سیمو کې ډېر خلك په شلګونو اوسلګونو جریبو ځمکه لري.

په کومو ځایونو کې چه د ځمکو خاوندان لږ ځمکه لري، هلته هره کورنۍ خپله ځمکه خپله کري. خو که د ځمکې خاوند رسمي یا مذهبي مقام یا وظیفه ولري، ځمکه یې، معمولاً، دهقان یا مزدور او یا اجاره دار کري. په کومو سیمو کې چه د ځمکو خاوندان زیاته ځمکه لري هلته کرنه دهقانان او مزدوران کوي.

دهقان هغه څوك دی چه کار دی کوي او د تولید وسایل عموماً، ټول د ځمکې خاوند ورته برابروي. په پای کې د ځمکې حاصل څه خاوند اخلي او څه دهقان. په کومو ځایونو کې چه ځمکې لږ وي او دهقانان زیات پیدا کیږي هلته زیات حاصل د ځمکې خاوند اخلي او لږ یې دهقان ته ورکوي. مثلاً په کابل کې د حاصل درې برخې د ځمکې خاوند اخلي او یوه برخه یې دهقان ته ور کوي.

اما په کومو سیمو کې چه ځمکې زیاتې او دهقانان کم وي هلته بیا د حاصل لږ برخه د ځمکې خاوند اخلي او زیاته برخه یې دهقان ته ورکوي. مثلاً په غوري کې د حاصل یوه برخه د ځمکې خاوند اخلي او دوه یا درې برخې یې دهقان ته ور کوي.

EDRS

اجاره دار هغه څوك دى چه ځمكه له مالك نه په اجاره اخلى او د كال يوه معينه اندازه غله يا پيسې او يا دواړه د ځمكې خاوند ته وركوى. دځمكې اجاره په سيمه او د ځمكې په كيفيت پورې اړه لرى. اما كوم مزدوران چه په ځمكه كې كار كوى هغه عموماً د نهو مياشتو له پاره نيول كيږى. د ځمكې خاوند او يا دهقان مزدور ته يوه معينه اندازه غله او كله كله جامې او يو څه پيسې وركوى.

په كومو سيمو كې چه مالك ډيرې ځمكې او لويې كلاوې لرى، هلته دهقان ته د اوسيدو ځاى هم د ځمكې خاوند ور كوى. دغه شان دهقان ته همسايه هم ويل كيږى. په ځينو سيمو كې بيا دهقان ځانته ځانته ژوند كوى او د ځمكې له خاوند سره نه اوسى. مزدور هم چيرته ځانته ژوند كوى او چيرته د ځمكې خاوند ځاى او دوډى ور كوى. اجاره دار اكثره په خپل كور كې ژوند كوى.

New Vocabulary

Nouns

field *F1* [karwandá] كرونده

center *irreg.* [markazí] مركزى

half an acre *M2* [jiríb] جريب

middle *M2* [mandz] منځ

person *M1* [kas] كس

position *M2* [muqā́m] مقام

job *F1* [wazifá] وظيفه

contractor *M1* [ijāradā́r] اجاره دار

section *F1* [bárkha] برخه

rent *F1* [ijārá] اجاره

quality *M2* [kayfyát] كيفيت

type of tenant farmer *M irreg.* [amsāyá] همسايه

amount *F1* [andāzá] اندازه

money *F1 Pl.* [paysé] پيسې

Adjectives

official *4* [rasmí] رسمى

religious *4* [mazabí] مذهبى

fixed *1* [mayán] معين

Verbs

provide *der. tr.* [barabaraw-´] برابرو-

depend on, belong to *phr.* [áṛa lar-] اړه لر-

are hired *phr.* [niwál kég-] نيول كيږ-

Preposition

according to *prep.* [pa ... póre] په پورې

EDRS

Adverbs, phrases, idioms

twenties [shəlgún] شلگون

hundreds [səlgún] سلگون

means of production *phr.* [de tawlíd wasayəl] د تولید وسایل

both *phr.* [dwā̃ṛa] دواړه

living place *phr.* [de wosedo dzay] د اوسېدو ځای

some places *adv.* [chérta] چېرته

Have You Understood?

1. Discuss, in English, the difference between the following:

اجاره دار　　خاوند　　دهقان　　مزدور　　بزگر

2. Locate the areas mentioned in the reading on a map of Afghanistan. Decide, as well, where Jamal Khān's and Asad's father's farms are likely to be. Relate the information in the reading to the conversation in Section 1 about finding workers.

3. Construct possible results for the following conditions. Base the results on the information in the reading passage.

۱. که د اسد پلار نوره ځمکه واخسته...

۲. که جمال خان د خپلې ځمکې د حاصل دوه برخې دهقان ته ورکړي...

۳. که مزدور د اسد د پلار په ځمکې کې د نهو میاشتو لپاره کار وکړي...

٤. که د جمال خان یو دهقان دومره پیسې پیدا کړي چه ځمکه واخلي...

٥. که جمال خان ځمکه پیدا نکړي...

EDRS

Section 4: Diversions

یوه لیوه یوه گیدړه گیر کړه او غوښتل یې چه و یې خوري. گیدړې
ته یې وویل: ما یو ډېر ښه انګور باغ لیدلی دی. راځه چه داړه ورشو
او انګور وخورو. لیوه د گیدړې خبره ومنله ځکه هغه فکر کاؤ چه اول
به انګور وخوري او بیا گیدړه. کله چه باغ ته ور واوښتل دواړو د
انګورو په خوړولو پیل وکړ. ډېر وخت نه ؤ تیر چه د باغ خاوند راغی.
گیدړه په موري ووته. ځان یې په ختو ولاړه او کراره ولویده. ځرنګه
چه موري ډېره وړه وه، لیوه نشو پرې وتلې. دغه راز لیوه دومره
ډېر انګور خوړلی وو چه له دیوال نه هم نشو اوښتلی. خاوند گیر کړ او
ډېر زیات یې وواهه. وروسته له ډېرو زیاتو وهلو نه یې خوشی کړ.
کله چه لیوه وروسته له باغ نه ووت، کتل یې چه گیدړه له باغ نه بهر
پرته ده او په ختو لړلې ده. لیوه یې چه ولید ورته وې ویل چه ته
خو شکر ښه یې. زه باغوان ډېره زیاته ووهلم او په ختو یې ولړلم.
په لاره نشم تلی. لیوه ورته وویل راځه پر ماسپره شه. گیدړه په
لیوه سپره شوه. گیدړې په لاره نارې وهلې، روغ په رنځور سپور.

Nouns

wolf *M1.* [lewá] لیوه

fox *F1.* [gidə́ṛa] گیدړه

water tunnel *F1.* [moréy] موری

mud *F1.* [khə́ṭa] ختہ

Adverbs, Phrases, Idioms

quietly *adv.* [karā̆ra] کراره

outside *adv.* [bahár] بهر

Thank God *phr.* [shúkur] شکر

I can't walk *phr.* [pə lara né səm tlay.]
په لاره نه شوم تلی

Adjective

sick (one) *I* [randzúr] رنځور

Verbs

catch *der. tr.* [giraw-́] -گیرو

accept *smp. tr.* [man-́] -منہ

climb over *smp. tr.* [awəxt-́] -اوښت

escaped *smp. irreg. int., pst.* [wat-́] -وت

roll around *smp. int.* [laṛ-́] -لړ

lie down *smp. int.* [lweg-́] -لوېږ

let go *der. tr.* [khwəshaw-́] -خوشو

shout *phr.* [nāré wah-] -نارې وه

EDRS

Unit 21: ...که زه ستا په ځای وی

Section 1: Dialogue

د اسد تره: د ترینې په کوژده کې څه وایې؟

د اسد پلار: خیرې ډېر بد کار وکړ. که زه د ده په ځای وی سپې
ته به مې ور کړې وی د الماز زوی ته به مې نه وی ور کړې.

د اسد تره: نو چا ته به دې ور کړې وی؟

د اسد پلار: ولې خپل خپلوان لږ دی؟ د زمری زوی ته به مې ورکړې
وه. د سلام خوریی ته به مې ورکړې وه. د جانو د ترور زوی ته
به مې ورکړې وه. د سلیم د خورځې زوی ته به مې ورکړې وه.
د کوم بل تربره زوی ته به مې ورکړې وه او که دا هم نه وی نو
یوه پښتانه ته خو به مې ورکړې وه.

د اسد تره: ولی الماز پښتون هم نه بولی؟

د اسد پلار: که پښتون وی خپل پلار به یې ګټلې وی. د خپلې
خورلنې پت به یې ساتلی وی. د خپلو تربرونو مړی به یې له
زندان نه راوړی وی او زمونږ مړی ژوندی ته به یې خان را
رسولی وی.

د اسد تره: یاره ته هم عجب سړی یې. له هر چا نه داحمد بابا
پښتو غواړې.

د اسد پلار: که الماز د جمال خان زوی او د سلیم خان لمسی نه وی
نو بیا مې نه پښتو ترې غوښتله او نه مې ننګ او غیرت ترې
غوښته.

د اسد تره: که پښتو او غیرت لری او که یې نه لری زمونږ له خپلې
ګندې نه دی او تول کلی یې په مونږ پورې را تپی. که زه ستا

EDRS

په ځای وی، خبره به مې دومره نه وی غټه کړې او کوژدې ته به مې يو دوه هلکان له خپلې ميرې سره ورلېږلی وی.

د اسد پلار: که زما په ځای ته وی او زړه دې دومره دردېدلی وی، نو مخ به دې يې په کفن کې هم نه وی ليدلی.

د اسد تره: ستا خبره هم ربښتيا ده. خو هر څه چه دی خپل هډ مو دی او مات لاس غاړې ته لوېږی.

New Vocabulary

Nouns

dog *M3* [spay] سپی

family friend *F1* [khwarléṇa] خورلنه

honor *M2* [pat] پت

corpse, body *M3* [méṛay] مړی

prison *M2* [zəndā́n] زندان

clan, tribe, branch thereof *M2* [qām] قام

'Pashtunwali' *F irreg.* [paxtó] پښتو

blood, lineage, bone *M2* [haḍ] هډ

heart *M2* [zṛə] زړه

shroud *M irreg.* [kafán] کفن

Verbs

would have..., were [way] وی

avenge, win, gain *smp.tr. vb.* [gaṭ-] -گټ

adhere, associate x with *smp. tr. vb.* [tap-] -تپ

ache *smp. int. vb.* [dardég-] -دردېږ

hang *smp. int. vb.* [lwég-] -لوېږ

Adjectives

odd *I* [ajáb] عجب

broken *I* [māt] مات

Pashtuns

[tarína] ترينه

[khayráy] خيری

[almā́r] الـمار

[zmaráy] زمری

[salā́m] سلام

[jānā́n] جانان (diminutive جانو)

[jamā́l] جمال

[salím] سليم

[ahmád bābā] احمد بابا

Relatives

niece *F1* [khordzá] خورځه

grandson *M3* [nmasáy] لمسی

Adverbs, Phrases, Idioms

at least *adv.* [kho] خو

good and bad *phr.* [máṛi zwandíí] مړی ژوندی

honor [náng aw ghayrát] ننګ او غیرت

Practice

1. Memorize the first sentence in the dialogue. Construct sentences along the same pattern, , e.g. په .... کي څه وايي ؟ and ask your classmates questions about current events, e.g.

په جهاد کي څه وايي ؟

2. Answer and discuss the following questions.

١. د اسد پلار او تره د ترینې په کوژدې خوشحاله دی؟

٢. د اسد پلار د کوژدې په باره کي څه وکړل؟

٣. د اسد پلار او تره د الـمار د زوی په باره کي څه وايی؟

٤. د اسد پلار ولی وايی چه الـمار پښتون نه دی؟

3. Create sentences which use the following words.

دردېږ- سپی زندان مات عجب

EDRS

Section 2: Relatives

Male side	Terms common to both sides	Female side
Two generations above:	grandfather [nikə́] نیکه	
	grandmother [nyā] نیا	
One generation above:		
father [plār] پلار		mother [mor] مور
stepfather [plandár] پلندر		stepmother [mayrə́] میره
uncle [trə] تره		uncle [māmā] ماما
	aunt [tror] ترور	
Same generation:		
distant cousin [terbúr] تربور	brother [wror] ورور	
distant cousin [tərbrá] تربره	sister [khor] خور	
	husband [meṛə́] میره	
	wife [xə́dza] ښځه	
One generation below:		
nephew [wrārə́] وراره	son [zoy] زوی	nephew [khwrayáy] خوریی
niece [wrerá] وریره	daughter [lur] لور	niece [khordzə́] خورځه
Two generations below:	grandson [nmasáy] لمسی	
	granddaughter [nmasə́y] لمسۍ	
Other generations:	great-great grandfather [ṭə́rnikə́] تړ نیکه	
	great grandfather [ghwárnikə́] غور نیکه	
	great grandson [kaṛwasáy] کړوسی	
	great granddaughter [kaṛwasə́y] کړوسۍ	
	great-great grandson [kawdáy] کودی	

EDRS

Practice

1. Fill in the blanks with the correct term.

۱. خوشحال د اسد د پلار ________ دی.

۲. اسد د خوشحال د پلار ________ دی.

۳. امان د لیلا ________ دی.

٤. د اسد مور د خوشحال ________ ده.

٥. د اسد تره د خوشحال د پلار ________ دی.

٦. د لیلا ماما د لیلا د مور ________ دی.

۷. د خوشحال خور د اسد________ ده.

2. Name your various relatives, e.g.

پلار مي جورج نوميږی. تره مي ليس نوميږی.

(Possibly useful vocabulary:

young *adj. 1* [kə́shər] کشر

middle *adj. 2* [mandzwə́y] منځوی

elder *adj. 1* [mə́shər] مشر)

3. Draw up your family tree. Label the relatives for which there are Pashtun terms.

4. Describe your family for your teacher and classmates.

EDRS

Section 3: Past Unreal Conditions

Examples

'If I hadn't been sick yesterday, I would have gone to class.'	که زه پرون ناروغه نه وی صنف ته به تللی وی.
'If I hadn't been sick yesterday, I would go to class today.'	که زه پرون ناروغه نه وی نن صنف ته تللم.
'If you had asked, I would have sat down.'	که تا وبلی وی کښېنستلی به وی.
'If you had asked, I would sit down.'	که تا وبلی وی کښېنستلم.

Notes:

1. Past unreal conditions are clauses describing conditions or situations which didn't exist at some point in the past. These conditions are rendered in English with phrases like "If I had seen him...", "If you had asked me," etc.

2. Unreal conditions are expressed in Pashto as که clauses followed by result clauses. The verb in the که clause is a construction with the imperfective participle plus وی. The participle agrees with the subject/object as usual. وی is invariable: it does not change.

3. If the result is in the past time, the verb in the result clause is به + the imperfective participle plus وی. This وی is also invariable. (Past time results are rendered in English as "I would have sat down,", "I would have gone," etc.)

4. If the result is in the present time, the verb in the result clause is in the past imperfective tense. (Present time results are rendered in English as "I would sit down," "I would go," etc.)

5. In these contexts, وی by itself translates as 'had been', e.g. ...که زه ناروغه وی 'If I had been sick...'

EDRS

Practice

1. In the following sentences from the dialogue, identify the unreal condition (sometimes not stated in the sentence) and the result, then translate the sentence.

۱. که زه دده په ځای وی سپی ته به مي ور کړي وی...
۲. که پښتون وی دخپل پلار مرگ به يي گټلی وی.
۳. که زه ستا په ځای وی، خبره به مي دومره نه وي غټه کړي.
٤. که ستا زړه دومره دردېدلی وی، مخ به دي يي په کفن کي نه وی ليدلی.
٥. د خپلي خورلني پت به يي ساتلی وی.

2. Finish the sentences.

۱. که مي په افغانستان کي کار لرلی وی...
۲. که يي يو څه پيسي راکړي وی...
۳. که زه ناروغه وی.....
٤. که مي پښتو نه وی شروع کړي...
٥. که روسان له افغانستان نه نه وی تللی...

3. Answer the questions.

۱. که دي د پښتو معلم نه وی پيدا کړی، څه به دي کړی وی؟
۲. که دي ښي ډېري پيسي په سرك كي پيدا کړی وی، څه به دي کړی وی؟
۳. که نن سهار مکتب ته تللی وی، څه به دي کړی وی؟
٤. که څوك صنف ته نه وی راغلی، څه به دي کړی وی؟
٥. که د روسانو د وتلو په وخت کي په افغانستان کي وی، څه به دي کړی وی؟

EDRS

Section 4: Reading

د پښتني ټولنې زړی ګڼ کهول جوړوی. له څو کهولو نه یو قام جوړېږی او له څو قامونو نه یوه قبیله جوړېږی. ځینی تاریخی اسناد ښیی چه پښتنی قبایل ډېر پخوا تشکیل شوی او په بېلو بېلو نومونو پېژندل شوی دی. یو تر ټولو نه پخوانی سند چه د پښتنی قبایلو یادونه کوی هغه د هرات تاریخنامه ده. په دې کتاب کې چه هروی سیفی د ۱۲۱۲ میلادی کال په شاوخوا کې لیکلی دی یو ځای د یوې پښتنی قبیلې په باره کې دا لاندې عبارت راغلی دی:

«له بینی کاو نه .... لری د افغانانو یوه قبیله وه چه دوه زره ملاتړلی مېړونه یې لرل او مشر یې هرموزتری نومیده.»

له پورته عبارات نه داسې ښکاری چه په دیارلسمه پېړۍ کې د افغانانو د ځینو قبایلو دغړو شمېر ډېر زیات ؤ. ځکه څرنګه چه د هرموز د قبیلې یوازې جنګی مېړونه دوه زره دی نو د ټولو افرادو شمېر یې باید زرهاووته ورسیږی. علاوه پر دې ډېر احتمال لری چه ددغې قبیلې ځینی غړی به په نورو ځایونو کې هم اوسېدل. سیفی د هرموز د قبیلې نوم نه اخلی خو خپله د هرموز له وروستی نامه «تری» یا «ترین» نه داسې ښکاری چه دا د «ترینو» ستره او مشهوره قبیله ده چه تر اوسه هم په همدې ځای او شاوخوا سیمو کې ژوند کوی.

سیفی د ځینو نورو پښتنی قبایلو نومونه هم اخلی. لکه دا چه «شعیب په قوم سورنا که ؤ.»

د سیفی له عباراتو نه د پښتنو د کورنۍ ماهیت هم معلومېدلی شی. مثلاً یو ځای د پښتنو د یوه لوی مشر ـ المار ـ له خولې لیکی:

«زما پلرونو او نیکونو د هیڅ پاچا په وخت کې د مغولو خدمت نه دی منلی.»

له دې جملې اودتاریخنامې له ډېرو نورو مطالبو نه داسې ښکاری چه پښتنی کهول له ډېر پخوا نه پلرنی شکل لری. اما ډېر شواهد ښیی چه په پښتنی ټولنه کې مور هم ډېر اهمیت او لوړ مقام لری.

په دې برخه کې دېر ښه شاهد پښتو متلونه دی. لکه دا چه:
چه نه دې وی له موره، ورته مه وایه چه وروره.
چه مور یې بتیاری وی، زوی یې نه فتح خان کېږی.
سېرلـۍ مور پورې شملی.
چه مور میره سی، پلار پلندر سی.

New Vocabulary

Nouns

core, seed *M3* [zə́ṛay] زړی
tribe *F1* [qābelá] قبیله
documents *M irreg.* [asnā́d] اسناد
document *M irreg.* [sanád] سند
passage *M2* [ɪbārát] عبارت
century *F2* [pe̜ṛə́y] پېړۍ
individuals *M irreg.* [afrā́d] افراد
nature *M2* [mahiyát] ماهیت
baby goat *F2* [serlə́y] سېرلۍ
king *M1* [pāchā́] پاچا
service *M2* [khedmát] خدمت
notions *M irreg.* [matāléb] مطالب
position *M2* [moqā́m] مقام
case *F1* [bárkha] برخه
piece of evidence *M irreg.* [shāhéd] شاهد
importance *M2* [ahmiyát] اهمیت
evidence *M irreg.* [shawāhéd] شواهد
stepmother *F1.* [mayrá] میره

Names

historian [herawí sayfí] هروی سیفی
place name [binikā́w] بینی کاو
tribal leader [harmuz tarí] هرمز تری
Pashtun individual [sho'áib] شعیب
clan name [surnākā́] سورناکه
Moghul [maghwə́l] مغل

Verbs

establish *der. int.* [tashkiléġ-] تشکلېږ-
mention *phr.* [yādawə́na kaw-́] یادونه کو-
be known *der. int.* [maluméġ-] معلومېږ-
sleep *smp. int. irreg.* [tsəmal-́] ځمل-

Adjectives

historical *4* [tārikhí] تاریخی

known *inf.* [pezandə́l] پېژندل

previous *6* [pakhwanáy] پخوانی

below *4* [lānde] لاندې

able-bodied *2* [mlātaṛə́lay] ملا تړلی

above *4* [pórta] پورته

last *6* [wrustáy] وروستی

big *1* [stər] ستر

patriarchal *6* [plaranáy] پلرنی

high *irreg.* [lwaṛ] لوړ

Adverbs, Phrases, Idioms

extended family *phr. w/ n, M2.* [gə́ṇ kahol] گڼ کهول

History of Herat *title* [de herāt tarikhnāmá] د هرات تاریخنامه

A.D. *phr.* [milādí] میلادي

around, approximately *phr.* [pə shāw khwā ke] په شاو خوا کې

probably, should *adv.* [bāyád] باید

warrior *phr.* [zangí meṛə] جنگی مېړه

thousands *phr.* [zərhāwo] زرهاوو

besides *phr.* [alāwá pə de] علاوه پر دې

it's very likely that... *phr.* [ḍer ɪhtɪmāl lari tse ...] ډېر احتمال لری چه

on its own *phr.* [khpə́la] خپله

quote *phr.* [lə khwlé na lik-] له خولې نه لیک-

Have You Understood?

1. Answer the following questions.

۱. د هرات تاریخنامه په کومې پېړۍ کې لیکل شوې وه؟

۲. د هرات تاریخنامه چا لیکلې وه؟

۳. په هغې قبیلې کې چه مشر یې هرمزتری ؤ، څومره خلك شامل وو؟

۴. کوم شواهد ښیی چه په پښتنې تولنې کې ښځې ډېر اهمیت لری؟

۵. کوم شواهد ښیی چه پښتنی کهول پلرنی شکل لری؟

2. Discuss the probable meanings of the proverbs given in the last paragraph of the reading.

EDRS

Section 5: Diversions

کله چه ملا نصرالدین هلك ؤ يوه سړی پوښتنه ترې وکړه چه ته لوی يې که دې ورور؟ ملا نصرالدین ورته وويل: تېر کال مې مور راته وويل چه ورور مې له ما نه يو کال لوی دی. نو سږکال به همځولی يو.

same age *phr.* [am dzóli] همځولی

يوه ورځ ملا نصرالدین خپله لور اوبو ته ولېږله خو له تللو نه پخوا يې کلکه څپېړه ور کړه. او ورته وې ويل پام کوه چه منگی مات نه کړې. لور يې په ژړا شوه. خلك په ملا نصرالدین راټول شول او ورته وې ويل لور دې هيڅ خطا نه ده کړی ولې دې ووهله؟ ملا ورته وويل د دې لپاره مې ووهله چه ورته وښيم چه د منگی ماتول ډېر بد کار دی. سړی بايد خپله لور د منگی د ماتېدو په اهميت دمخه د منگی له ماتېده نه پوه کړی. وروسته له ماتېدو نه يې څه فايده نه لری.

slap *phr.* [tsapéṛa warkaw-́] -څپېړه ورکو

use *n, F1* [fāydá] فايده

hard *adj 1* [klak] کلك

jug *n, M3* [mangáy] منگی

teach *der. tr. vb.* [po kaw-́] -پوه کو

cry *phr.* [pə zaṛa kég-] -په ژړا کېږ

gather *der. int. vb.* [ṭoleg-] -ټولېږ

mistake, fault *n, F3* [khatā́] خطا

EDRS

Unit 22: که ته نه وی زه نه ورتللم.

Section 1: Dialogue

د اسد تربور: زمرك چېرى دى؟

د اسد پلار: التمور ته تللى دى.

د اسد تربور: خيريت ؤ؟

د اسد پلار: بهرام خان سړی را لېږلی ؤ. زمونږ نيازيو له احمدزيو سره بيا ډېر کلك جنګ کړی دی.

د اسد تربور: مرګ ژوبله هم شوې ده او که نه؟

د اسد پلار: د وهابی زوی او وراره دواړه لګيدلی خو مړه نه دی. د وهابی سړی هم زخمی شوی دی.

د اسد تربور: د احمدزيو څوك مړه يا ژوبل نه دی؟

د اسد پلار: د هغو څلور تنه لګيدلی دی. يو يې مړ دی او درې نور يې ز خمی دی.

د اسد تربور: زمرك تنها تللی دی؟

د اسد پلار: نه برات او د رسول زوی هم ورسره تللی دی.

د اسد تربور: جنګ په څه شی شوی؟

د اسد پلار: د ملك نصراله لور زمونږ د وهابی له زوی سره جوړه وه. وهابی څو وارې ريباران او سپين ږيری ور وليږل چه نجلۍ د وهابی زوی ته ورکړی. خو ملك نصراله و نه منله. په پای کې نجلۍ د وهابی کور ته ور وتښتيده. درې ورځې مخکې احمدزيو د وهابی زوی او ورونو ته لار نيولې او په يو بل يې ډزې سره کړې دی.

د اسد تربور: نجلۍ خو به لا د وهابی کره وی؟

EDRS

د اسد پلار: گومان کوم چه د وهابی کره ده.

د اسد تربور: حکومت خبر شوی دی؟

د اسد پلار: هو! خبر شوی دی. خو د وهابی خوریی راغلی ؤ او ویل یې چه قوماندان او سپاهیان لا په کلی کې دی او حکومت ته یې څوك نه دی بیولی.

داسد تربور: گومان کوم که ته خپله هم ورشی او خبره په کلی کې اواره کړې ښه به وی.

د اسد پلار: ملك نصراله ډیر بد سړی دی. گومان نه کوم چه د چا خبره به واوری.

د اسد تربور: زه باور لرم چه ستا خبره اوری.

د اسد پلار: که یې زما مخ ته کتلی خپله لور به یې د وهابی زوی ته ور کړې وی.

د اسد تربور: زه خو وایم چه ستا ورتگ بیا هم گټه لری. که ته ورنشی ښایی چه نوره مرگ ژوبله هم وشی.

د اسد پلار: ته نو سلیم ته ووایه چه هلکان له وسلو سره را وباسی. ماښام به ور روان شو. گوره! که ته نه وی زه نه ورتللم.

New Vocabulary

<u>Nouns</u>

war, conflict *M2* [jang] جنگ

casualty *F1* [margzóbla] مرگ ژوبله

graybeard, elder *M3* [spingíray] سپین ږیری

belief *M2* [bāwár] باور

going (to someone) *M2.* [wartág] ورتگ

arm, weapon *F1* [waslá] وسله

<u>Names</u>

[zmarák] زمرك

[altamúr] التمور

[wahabí] وهابی

[barāt] برات

[rasúl] رسول

[nasrulláh] نصراله

Verbs

be hit *smp. int.* [lagég-] - لګیږ

run away *smp. int.* [təxt-] -تښتـ

get, take out *smp. irreg. tr.* [bās-́] -باس

Adjectives

bad, difficult, stubborn *1* [bad] بد

injured *4* [zakhmí] زخمی

Adverbs, phrases, idioms

alone *adv.* [tanấ] تنها

have an agreement with *phr.* [lə ... sara jóṛ da] له ... سره جوړ ده.

a few times *phr.* [tsó wāre] څو واري

finally *phr.* [pə pā̃y ke] په پای کي

... ago *phr.* [...mákh ke] مخکي

waylay *phr.* [lār nís-] -لار نیسـ

take ... into custody *phr.* [hukumát ta .... byāy-] -حکومت ته ... بیای

iron things out *phr.* [khabəra awāraw-́] -خبره اوارو

respect, care about *phr.* [de ... mákh ta gor-] -د ...مخ ته ګور

be useful *phr.* [gaṭa lar-́] -ګټه لر

Practice

1. Give idiomatic English equivalents for the following phrases or lines from the dialogue.

خیریت ؤ؟

د وهابی سړی

جنګ په څه شي شوی ؤ؟

په یو بل یي ډزي سره کړی دی.

حکومت خبر شوی ؤ؟

حکومت ته یي څوك نه دی بیولی.

زه باور لرم چه ستا خبره اوری.

EDRS

2. To which tribe does each of the following belong?

د وهابی وراره	د نصراله لور	برات	وهابی
د اسد تربور	د وهابی زوی	نصراله	رسول
د اسد پلار			

3. Memorize the following lines from the dialogue.

که ته نه وی، زه نه ورتلم.
زه بارو لرم چه ستا خبره اوری.
درې ورځې مخکې احمدزو د وهابی زوی او وریرونو ته لار نیولی.

Now think of different endings for the following sentences:

که ته نه وی...
زه بارو لرم چه...
درې ورځی مخکې ...

EDRS

Section 2: Genealogies of the Major Pashtun Tribes

Information in charts from Caroe, Olaf. *The Pathans -550 B.C. - A.D. 1957.* Karachi: Oxford University Press, 1958.

Sharkbun, Sherani, etc.: individuals
Spin Tarins, Tor Tarins, Abdalis : Pashtun tribes
(Sulaiman Mts.), (adopted): locations, comments

I. Origins



EDRS

II. Western Afghans



EDRS

III. Eastern Afghans



EDRS

IV. Bitan (or Batni or Bait) Tribes



V. Karlanri Tribes



EDRS

Practice

1. Locate the modern locations of the tribes on a political map of Afghanistan and the surrounding areas. Then do the same on a relief map, noting the correlation of the various mountain ranges and passes on the division between eastern (who say [paxtó]) and western (who say [pashtó]) Pashtuns.

2. Using the charts, answer the following questions.

١. د پښتنو پلار څوک دی؟
٢. د اپریدو، ختکو، منګلو او خوګیانیو پلار څوک دی؟
٣. د بنګښو پلار څوک دی؟
٤. د وزیرو، ګوربزو او مسودو پلار څوک دی؟
٥. د خرشبون کوم زوی د غربی افغانستان د قبایلو پلار دی؟
٦. د افریدو او ختکو د پلرونو نومونه څه شی دی؟
٧. شیرانی چیرته اوسیږی؟
٨. د پېښور په سیمه کې کوم قبایل اوسیږی.
٩. د کابل په سیمه کې کوم پښتنی قبایل اوسیږی؟
١٠. د غلځو د پلار نوم څه شی دی؟

EDRS

Section 3: Present Unreal Conditionals

Examples

Results in the present time:

If it weren't for you, I wouldn't go there.	که ته نه وی زه نه ور تلم.
If we didn't have so much work, we would go to Baltimore.	که مو دومره ډېر کار نه لرلی بالتیمور ته تللو.
'f our friends weren't coming we wouldn't buy a lamb.	که مو ملگری نه راتللی پسه مو نه اخسته.

Results in the past:

If he cared about me [in general], he would have given his daughter to Wahabi's son.	که يې زما مخ ته کتلی خپله لور به يې د وهابي زوی ته ورکړې وی.
If it weren't for you, I wouldn't have gone there.	که ته نه وی زه به نه وی ورغلی.
If we didn't have so much work, we would have gone to Baltimore.	که مو دومره ډېر کار نه لرلی بالتیمور ته به تللی وی.
If our friends weren't coming, we wouldn't have bought a lamb.	که مو ملگری نه راتللی پسه به مو نه وی اخستلی.

EDRS

Notes:

1. A present unreal conditional is a statement about a condition or situation that doesn't exist in the present time. Such conditions are rendered in English as 'If I were...', 'If we went...', 'If we didn't have...', etc.

2. Present unreal conditionals in Pashto are expressed in که clauses. The verb in the که clause is the imperfective participle; it does not agree with the subject/object.

3. If the result clause is in the present time, its verb is in the past imperfective tense.

4. If the result clause is in the past, its verb consists of به + the imperfective participle + وی. The participle agrees with the subject/object; وی does not.

5. Note that any formal distinction between present and past unreal conditions disappears when the verb in the که clause is وی by itself. که ته نه وی translates into English as both 'If it weren't for you' and 'If it hadn't been for you'.

Practice

1. Complete the following along the lines of the model.

Model:

که اوس ژمی وی سرکونه به په واورو پټ وی.

<u>خو اوس ژمی نه دی، هوا توده ده.</u>

۱. که زما پښتو ښه وی پېښور کي مي کار پیدا کاؤ.

۲. که اسد په افغانستان کي وی، له خپل ورور سره یي کومك کاؤ.

۳. که پتنګ په روغتون کي ښه کار نلرلی، ښېرته به افغانستان ته تللی وی.

٤. که امان او لیلا په کور کي پښتو نه ویلی، ورو یي هیروله.

٥. که امان موټر نه راوستلی، لیلا روغتون ته نه تله.

3. Finish the following sentences:

۱. که په افغانستان کي هیچا جنګ نه کولی...

۲. که ما دومره کار نه لرلی...

۳. که زه د خپل معلم په ځای وی...

٤. که ما داسي ښه پښتو ویلی لکه انګریزی چه وایم...

٥. که زه له خپلي کورنۍ سره اوسېدلی...

Section 4: Reading

په تیر درس کې تاسې ته معلومه شوه چه پښتني ټولنه له کهولونو، قومونو او قبایلو نه جوړه ده. په دې درس کې به په پښتني ټولنه کې د بیلو بیلو قبایلو او قومونو تر منځ روابط ولولئ. پدې باره کې یوه په زړه پورې موضوع واده دی چه د بیلو بیلو کهولونو، قومونو او قبیلوتر منځ د اجتماعی روابطو اساس جوړوی. په کومو پښتنو کې چه قبایلی ژوند وی، هلته خلك ودونه په خپلو منځو کې کوی او په عادی ډول څوك خپله لور بل قوم ته نه ور کوی.

ددې خبرې دلیلونه ډېر دی. یو دا چه یو قوم معمولاً له بل قوم نه جدا اوسیږی او له یو بل سره ناسته ولاړه نه لری. ځکه نو د یو بل د کور په حال هم دومره نه خبرېږی او دا نه ورته معلومیږی چه څوك لور لری او که یې نه لری. اوکه یې لری، نو څنګه نجلۍده. بل‌دا چه پدغو پښتنو کې دود هم داسې دی چه خلك خپله لور نژدې خپلوانو لکه وراره، خوریی، ترورزی او نورو ته ورکوی. دا کار دوی هم د نجلۍ او هلك د وړوکتوب په وخت کې کوی او هم یې د بلوغ په وخت کې. دا خبره هم ځان ته دلیلونه لری. یو دا چه دوی غواړی خپله پرګنه یې لویه شی. بل دا چه هلك ته د بل چا لور ودول ډېرې پیسې غواړی.

په پښتنو کې دا هم یو عام دود دی چه د ورور کونده، ورور یا د کورنۍ کوم بل غړی کوی او دې ته یې نه پرېږدی چه بل چا سره وادد وکړی. البته د پښتنو دغه کار د اسلامی قانون سره چه وایی کونده آزاده ده اړخ نه لګوی.

د یوه قوم نجلۍ معمولاً په درې حالتونو کې په بل قوم کې وادېږی. یو هغه وخت چه یو قوم یوه نجلۍ په بدو کې بل قوم ته ورکړی. بل دا چه د قومونو د جوړې لپاره خپلې نجونې یو بل ته سره ورکړی. درې یم داچه د یوه قوم نجلۍ د بل قوم په هلك مینه شی او ورسره وتښتی. دا کار معمولاً د دښمنی سبب کیږی. په پښتنو کې ځینی ډېرې سترې او حتی تاریخی دښمنې له همدې نه را پیدا شویدی.

EDRS

New Vocabulary

Nouns

topic *F irreg.* [mawzó] موضوع

basis *M2* [asās] اساس

status, situation *M2* [ḥāl] حال

adulthood *M2* [bulúgh] بلوغ

extended family *F1* [parganá] پرگنه

condition, situation *M2* [hālát] حالت

reconciliation *F1* [jóṛa] جوړه

enmity *F2* [duxmanə́y] دښمني

cause, reason *M2* [sabáb] سبب

Adjectives

social *adj 4* [ijtimā'í] اجتماعي

separate *adj 4* [judā] جدا

located *adj 4* [wāqé] واقع

free *adj 1* [azād] ازاد

Preposition

between, among *prep.* [termáns] ترمنځ

Verb

allow *dbl. irreg. vb.* [pregd-] پرېږد

Adverbs, phrases, idioms

in relation to this *phr.* [pə dé bāra ke] په دې باره کې

interesting *phr.* [pə zṛə póre] په زړه پورې

among themselves *phr.* [pə khpəlo mandzó ke] په خپلو منځو کې

normally *phr.* [pə adí dawəl] په عادي دول

correspond, match *phr.* [aṛkh ... lagaw-] اړخ...لګو-

give in retribution for a wrong *phr.* [pə bádo ke warkaw-] په بدو کې ورکو-

Have You Understood?

1. Debate the following statement.

ښايي چه ملك نصراله د اسد د پلار خبره واوري ځکه ملك نصراله ته د قومونو تر منځ ښه روابط تر دې نه زيات اهميت لري چه خپله لور د وهابي زوی ته ورکړي.

2. Answer the following questions.

۱. یو پښتون عموماً خپله لور چا ته ورکوی؟
۲. کله چه یو پښتون مړ شی، کونده یې عموماً څوك ودوی؟
۳. پښتانه ولی خپلې لونې په خپل قوم کې ودوی؟
٤. اسلام د کونډې په باره کې څه وايي؟
٥. یو پښتون څه وخت خپله لور په بل قوم کې ودوی؟

Section 5: Diversions

یوه واره هلك له خپلې مور نه پوښتنه وکړه چه چېرته زېږېدلی يې؟ مور يې ورته وويل، په کابل کې. هلك بيا له مور نه پوښتنه وکړه چه پلار مې چېرته زېږېدلی دی؟ مور يې ورته وويل، په پېښور کې. هلك له مور نه بيا پوښتنه وکړه او ور ته وويل، زه چېرته زېږېدلی يم؟ مور يې ورته وويل، په کندهار کې. هلك په فکر کی شو. بيا يې وويل، نو، زه نه پوهېږم چه مونږ درې واړه څنګه سره يو ځای شو؟

be born *smp. int. vb.* [zegég-] -زېږېږ

يوې مور خپل واړه زوی ته وويل چه تل رښتيا وايه. خدای په رښتيا خوشحالېږی. زوی مور ته وويل، ته هم خدای په رښتيا خوشحاله کړه، او را ته ووايه چه شيرينی دې چېرې ايښې ده؟

EDRS

Unit 23: ستا پلار خو به کوچی نه ؤ؟

Section 1: Dialogue

تریسا: د نیازو قبیله لویه ده که وړه؟

اسد: ښایسته لویه ده.

تریسا: شمېر به يې څومره وی؟

اسد: یاره شل پنځه ویشت زره به وی.

تریسا: نیازی ټول په لوګر کې اوسېږی؟

اسد: نه په لوګر کې یوازې زمونږ او څو نورې کورنۍ ژوند کوی.

تریسا: نور نیازی چېرې اوسېږی؟

اسد: نیازی په افغانستان او پاکستان کې تیت پراته دی.

تریسا: په افغانستان کې نور په کومو ځایونو کې اوسېږی؟

اسد: ځینې په لغمان کې، ځینې د کابل په ولایت کې، ځینې په پکتیا کې او ځینې په کندهار کې اوسېږی.

تریسا: په پاکستان کې چېرې اوسېږی؟

اسد: په پاکستان کې هم له پېښور نه نیولی تر لاهوره پورې په بېلو بېلو ځایو کې اوسېږی. خو ډېره ستره ټولنه يې د اباسیند نه پورې غاړه د پنجاب په میاوالی کې مېشته ده. البته پخوا ډیر نیازی کوچیان وو، اوړی به يې د هندوکش په غرو کې تېراوه او ژمی به شمال غربی سرحد یا پنجاب ته تلل. مګر د ۱۹۶۰ د لسیزې نه را وروسته پاکستان د کوچیانو د تګ راتګ په لاره کې خنډونه پیدا کړل او د افغانستان او پاکستان تر منځ د کوچیانو تګ راتګ کم شو. په افغانستان باندې د شورویانو له یرغل نه

EDRS

وروسته، د پاکستان او افغانستان تر منځ د کوچیانو تګ راتګ
بېخي بند شوی دی.

تریسا: ستا پلار خو به کوچی نه ؤ؟

اسد: پلار او نیکه مې کوچیان نه وو. مګر غورنیکه مې کوچی ؤ.
بیا یې په لوګر کې ځمکه واخسته او هلته مېشت شو.

New Vocabulary

Nouns

Kuchi, nomad *M3* [kocháy] کوچی

decade *F1* [lasíza] لسیزه

hindrance, obstacle *M2* [khənd] خند

Soviets *M3* [shorawí] شوروی

invasion, attack *M2* [yərghál] یرغل

Places in Pakistan

Lahore [lāhór] لاهور

Abasin (Indus) [abāsín] اباسیند

Punjab [panjā́b] پنجاب

Miawale [myāwālé] میاولی

Adjectives

scattered *I* [tit] تیت

settled *I* [misht] مېشت

Adverbs, Phrases, Idioms

Hindu Kush *phr.* [hindukúsh] هندوکش

Northwest Frontier *phr.* [shamāl gharbí sarhad] شمال غربی سرحد

until now, since *phr.* [rāwrústa] راوروسته

between *phr.* [de ... tər mándz] د ... تر منځ

EDRS

Practice

1. Give idiomatic English translations for the following phrases:

تګ راتګ

د شورویانو له یرغل نه راوروسته

ښمېر به یې څومره وی؟

د ۱۹٦۰ د لسیزې نه راوروسته

Construct sentences in which you use the phrases, e.g.

د ۱۹۸۹ کال نه راوروسته پښتو لولم.

2. Find the areas where Niazis are settled on a map of Afghanistan and Pakistan, and locate the cities mentioned in the dialogue.

3. Read the following description of the Tarakhel tribe.

تره خیل په اصل کې اکثره کوچیان وو او اوړی به یې په افغانستان او ژمی به یې په پاکستان کې تېراوُ. اما ځینې کورنۍ یې یو او بل وخت په کابل او ځینو نورو ځایونو کې په کلو کې مېشتې او له خپل قوم نه جدا شولې. ورو ورو خپل دودونه هم ترې هېر شول او د نورو ګاونډیو پښتنو دودونه یې غوره کړل.

Now construct a dialogue, parallel to the conversation between Asad and Theresa, incorporating the information in the description.

Section 2: Reading A

پښتنې ټولنه، اصلاً، له قبايلو نه جوړه ده. ځو کوم کوششونه چه د افغانستان واکدارانو، په تيرو څه باندې سلو کلونو کې، د يوه قوي مرکزي حکومت د جوړولو له پاره کړي، هغه د عنعنوي قبيلوي روابطو دکمزورۍ سبب شويدي.

اميرعبدالرحمن خان د افغانستان اول پاچا وُ (۱۸۸۰-۱۹۰۱) چه په دغې لاره کې يې مؤثر او کاميابه اقدامات وکړل. ده له يوې خوا کوشش وکړ چه د خپل حکومت ملکي او نظامي مؤسسات غښتلې کړي او له بلې خوا يې کوشش وکړ چه هر څوك او هر څه د يوه غښتلي مرکزي حکومت د تشکيل په لاره کې خنډ دی هغه له مينځه يوسي.

امير په دې ډير ښه پوهېده چه ددې هدف د ترلاسه کولو په لاره کې ډېر لوی خنډ قومي او مذهبي مشران دی. ځکه يې نو فيصله وکړه چه ويې ځپي. کوم قومي مشران يې چه مرکزي حکومت ته سمدستي خطر بلل هغه يې تباه کړل. مگر کوم قومي مشران يې چه د مرکزي حکومت له پاره بالقوه خطر بلل هغه يې کابل ته بوتلل او ښې تنخاگانې يې ورته وټاکلې. د امير اصلي هدف دا وُ چه دوی ټول له خپل نظارت لاندې وساتي. علاوه پردې عبدالرحمن خان د ډېرو قوي خانانو لوڼې هم خپل ځان او هم خپلو زامنو ته وکړې او په دې ډول يې له هغو سره کورنې روابط ټينگ کړل. قومي مشران ورو ورو ښاري خلك شول او خپل اکثره قومي خصوصيات يې بايلودل.

دا ټول ددې سبب شول چه د پښتني ټولنې عنعنوي قبيلوي روابط کمزوري شي. ځينې پښتني قومي مشران يې له خپلو قوميانو سره يوځای شمالي ولايتونو ته فرار کړل او هلته يې مځکې ورکړې. دغو پښتنو ورو ورو د شمالي ولايتونو د نورو اوسېدونکو دودونه غوره کړل خپل ډيرقومي خصوصيات يې بايلودل او له خپلو اصلي قبايلوسره يې

روابط وشلیدل. کوم کوششونه چه د امیر عبدالرحمن زوی امیر او لمسی حبیب اله او امیر امان اله، د افغانستان د عصری کولو له پاره وکړل، هغه هم د دې سبب شول چه یو شمیر پښتانه د حکومتی کارونو او د ژوند د تسهیلاتو له پاره کابل ته کډه وکړی او ورو ورو یې له خپلو قبایلو سره روابط وشلیږی. د افغانستان د شاهی کورنۍ غړو چه خپله هم آصلاً سدوزی او بارکزی پښتانه وو، خپل قبایلی خصوصیات او حتی ژبه بایلوده.

د محمد نادر شاه د کورنۍ د واکداری په وخت کې (۱۹۷۸-۱۹۲۹) تر بل هر وخت نه زیات پښتانه مشران له خپلو کورنیو سره د کابل ښار ته ولېږدېدل او په پای کې یې ډېرو کورنیو خپل قباېلی خصوصیات او روابط بایلودل. ددغو پښتنو مشرانو یو زیات شمیر هغه خلك وو چه له محمد نادرشاه سره یې د کابل په نیولو کې کومك کړی ؤ. دوی اکثره ځاځی، منګل، ځدران، وزیر، مسعوداو احمدزی وو.

وروسته د محمد نادرشاه د کورنۍ، د واکداری، په تیره بیا د محمد داود، د صدارت په وخت کې عصری لویې لارې جوړې شوې؛ معارف زیات تقویه او پراخ شو؛ نوی ښارونه جوړ او پخوانی ښارونه زیاتره عصری او لوی شول، او حکومتی ادارې زیاتې او ډېرې پراخې شوې. دا ټول ددې سبب شول چه تر پخوا نه زیاتره پښتانه ښارونو ته ولاړ شی او ورو ورو خپل عنعنوی قبایلی روابط او خصوصیات بایلی.

د قبایلی روابطو د کمزوره کیدلو یو بل دلیل مهاجرتونه وو. ددغو مهاجرتونو په لړ کې د ځینو قبایلو یو شمېر غړی یا له نورو قومونو سره یو ځای او یا د نورو قومونو په منځ کې په یوه کلی کې ډېره شول. دغو پښتنو هم ورو ورو خپل قبایلی خصوصیات بایلودل.

EDRS

New Vocabulary

Nouns

ruler *M1* [wākdār] واکدار
weakness *F irreg.* [kamzóri] کمزوری
institutions *F1* [mosɪsāt] موسسات
establishments *M 2.* [tashkilāt] تشکیلات
goal *M2.* [hadáf] هدف
decision *F1.* [faysalá] فیصله
danger *M2.* [khatár] خطر
conveniences *M irreg.* [tas-hilāt] تسهیلات
rule, term *F irreg.* [wākdāri] واکداری
characteristics *M2.* [khususyāt] خصوصیات
capture *inf.* [niwál] نیول
prime ministership *M2.* [sadārát] صدارت
education *M2.* [māríf] معارف
office *F1.* [ɪdārá] اداره
migration *M2.* [mahājɪrát] مهاجرت

Adjectives

strong *4* [qawí] قوی
traditional *4* [ananawí] عنعنوی
tribal *4* [qabelawí] قبیلوی
effective *1* [moasír] مؤثر
successful *1* [kāmyāb(a)] کامیاب
civil *4* [malkí] ملکی
military *4* [nɪzamí] نظامی
strong *2* [ghəxtálay] غښتلی
tribal *4* [qawmí] قومی
immediate *4* [samdastí] سمدستی
potential *4* [bɪlqowá] بالقوه
urban *4* [xārí] ښاری
royal *4* [shahí] شاهی
governmental *4* [hukumatí] حکومتی

Names in Afghan government and politics

Amir Abdurrahman Khan [amir abdərāmān khān] امیر عبدالرحمن خان
Amir Habibullah [amir abibulā] امیر حبیب اله
Amir Amanullah [amir amānulā] امیر امان اله
Mohmad Nadir Shah [mahamad nādər shā] محمد نادر شاه
Mohmad Daud [mahamad dāwúd] محمد داود

EDRS

Verbs

strengthen *der. tr.* [ghəxtəlay kaw-́] - غښتلی کو-

destroy *der. tr.* [tabā kaw-́] - تباه کو-

set up, fix *smp. tr.* [ṭāk-́] - ټاک-

lose *dbl. irreg. tr.* [bāyl-́] - بایل-

exile *der. tr.* [farāraw-́] - فرارو-

be broken, severed *smp. int.* [shked-́] - شکېد-

migrate *smp. int.* [legd(ég)-] - لېږد-

Adverbs, phrases, idioms

for more than a hundred years *phr.* [pə tero tsə bânde sélo kaluno ke]
په تېرو څه باندې سلو کلونو کې

become the cause *phr.* [sabab kég-] - سبب کېږ-

take measures *phr.* [ɪqdāmāt kaw-́] - اقدامات کو-

wipe out *phr.* [lə mándza wṛ-] - له منځه وړ-

accomplishment *phr.* [tərlāsa kawə́l] تر لاسه کول

keep under surveillance *phr.* [nazārat lânde sāt-] - نظارت لاندې ساټ-

adopt *phr.* [ghwəra kaw-́] - غوره کو-

modernize *phr.* [asri kaw-́] - عصري کو-

more than any other time *phr.* [tər bəl árwakht na] تر بل هر وخت نه

be promoted *phr.* [taqwiya kég-] - تقویه کېږ-

be expanded *phr.* [parākha kég-] - پراخه کېږ-

more *adv.* [zyātára] زیاتره

than formerly, from before *phr.* [tər pəkhwā na] تر پخوا نه

EDRS

Have You Understood?

1. Identify the main idea (clause) in each of the following sentences from the reading.

۱. خو کوم کوششونه چه د افغانستان واکدارانو، په تیرو څه باندي سلو کلونو کي، د یوه قوی مرکزی حکومت د جوړولو له پاره کړی، هغه د عنعنوی قبیلوی روابطو دکمزوری سبب شویدی.

۲. کوم قومی مشران يي چه مرکزی حکومت ته سمدستي خطر باله هغه يي تباه کړل.

۳. مگرکوم قومی مشران يي چه دمرکزی حکومت له پاره بالقوه خطر باله هغه يي کابل ته بوتلل او ښي تنخاگاني يي ورته وټاکلي.

٤. کوم کوششونه چه د امیر عبدالرحمن زوی، او لمسی امیر حبیب اله او امیرامان اله، د افغانستان د عصری کولو له پاره وکړل، هغه هم د دي سبب شول چه یو شمېر پښتنانه د حکومتي کارونو او د ژوند د تسهیلاتو له پاره کابل ته کډه وکړی او ورو ورو يي له خپلو قبایلو سره روابط وشلیږی.

٥. د افغانستان د شاهي کورنۍ غړو چه خپله هم آصلاً سدوزی او بارکزی پښتانه وو، خپل قبایلی خصوصیات او حتی ژبه بایلوده.

٦. د محمد نادر شاه د کورنۍ د واکدارای په وخت کي (۱۹۲۹-۱۹۷۸) تر بل هر وخت نه زیات پښتانه مشران له خپلو کورنیو سره د کابل ښار ته ولېږدېدل او په پای کي يي دېرو کورنیو خپل قبایلی خصوصیات او روابط بایلودل.

EDRS

2. Finish the following sentences.

١. که عبدالرحمن خان د خپل حکومت په لاره کي پراته خندونه لیری کړی نه وی...

٢. که پښتانه قبایل هر یو لا هم په خپله سیمه کي اوسېدلی...

٣. که د افغانستان بېلو بېلو واکدرانو د افغانستان مرکزی حکومتونه نه وی قوی کړی...

٤. که دېر پښتانه ښارونو ته نه وی لېږدېدلی...

٥. که داسي واکداران نه وی چه په افغانستان کي مرکزی حکومت ټینګ کړی...

3. Answer the following questions.

١. عبدالرحمن خان د بېلو بېلو قومونو سره خپل روابط څنګه ټینګ کړل؟

٢. په تېرو سلو کلونو کي ولي دېر پښتانه کابل ته ولېږدېدل؟

٣. ددي لوی دلیل څه وٍ چه پښتنو خپل قومی روابط او دودونه پرېښودل؟

٤. د افغانستان شاهی کورنۍ اصلاً په کومي قبیلي پوري اړه لری؟

٥. امیر عبدالرحمن خان ولي دېر پښتانه مشران کابل ته بوتلل او ښي تنخاګاني یي ورته ورکولي؟

EDRS

Section 3: Reading B

Pre-Reading Exercises

1. Look at the paragraphing in the passage below. Does it seem to follow English paragraphing convertions?

2. Skim the short paragraphs. What do they seem to be about?

3. In the last paragraph, there appear to be two lists. What are the lists of?

4. Skim the passage for familiar words. Underline them, then guess from them what the topic of the passage is.

الفت :

ملی یووالی

هغه خلق چه په یوه وطن کښې اوسېږی، گټه او زیان يې يو وی، د یوه واکمن امر ته يې غاړه ایښې وی، له یوه بیرغ لاندې را ټولېږی او مشترك تاریخ لری یو ملت بلل کېږی. افغانستان یو وطن دی، ددې وطن ټول اوسېدونکي یو ملت دی، ددې ملت نوم افغان دی. لکه چه په افغانستان کښې ساړه او تاوده، وچ او لانده، هسك او ټيټ ځایونه شته چه په ځینو کښې یو راز غلې او مېوې کېږی په ځینو کښې بل راز. په ملت کې هم راز راز خلق شته چه کړه وړه يې يو له بله ځینې فرقونه لری. موږ ته په کار دی چه په دې خبره ځان ښه پوه کړو چه وطن هغه تنگ او کوچنی کور نه دی چه د یوه پلار او د یوې مور اولادونه به پکښې استوگنه لری او نه هغه کلی دی چه ټول اسېدونکي به يې يو خیل یا قوم وی. په د ا اوسنۍ زمانه کښې ځینې داسې کورونه هم شته چه یو مسلمان پښتون له یوې روسۍ یا امریکایۍ مېرمنې سره پکښې اوسی او دواړه د یو اولاد مور او پلار وی.

هر کله چه په یوه کاله کې دا حال وی نو په یوه لوی وطن کښې به ولې هندو او مسلمان، شیعه او سنی، پښتون او تاجك د یو ملت په حیث نه اوسېږی.

EDRS

زه دېر داسي دوه وروڼه پېژنم چه يو پښتو وايي او بل فارسي.

داسي پښتانه پلرونه مي هم ليدلي دي چه اولادونه يي پښتو نشي ويلی.

که مونږ په پښتو او فارسي ژبه کښي په څېړنه وکړو او لږ نظر وکړو دواړه ژبي د يوه باغ وني دي چه نيالی او ريښي يي يو له بله ترلي دي.

دا چه مونږ د افغانستان اوسيدونکي د پښتون، تاجك، نورستاني، بدخشي، ترکمن، ازبك، هزاره، ايماق او عرب په نامه يادوو عيناً هماغسي مثال دی لکه چه پښتون د صافي، شنواري، مومند، اپريدي، وزير، مسعود، يوسفزي، اڅکزي، کاکړ، بارکزي او سدوزي په نومونو يادوو.

New Vocabulary

Nouns

unity *M3* [yawwālay] يووالی

profit *F1* [gáṭa] گټه

loss *M2* [zyān] زيان

ruler *M irreg.* [wākmán] واکمن

order *M2* [ámər] امر

flag *M2* [bayrágh] بيرغ

kind *M2* [rāz] راز

child *M2* [awlād] اولاد

living *F1* [astógna] هستوگنه

lady *F1* - *[a]* [mermə́n] ميرمن

study *F1* [tseṛə́na] څېړنه

root *F1* [níla] نيله

root *F1* [rixá] ريښه

example *M2* [mesā̃l] مثال

EDRS

Proper Nouns

Hindu *M1* [indú] هندو

Moslem *M1* [musulmán] مسلمان

Shia *M4* [shúya] شیعه

Sunni *M1* [suní] سني

Tajik *M1* [tājə́k] تاجك

Nuristani *M3* [nuristānáy] نورستانی

Badakshi *M3* [badakhsháy] بدخشی

Turkoman *M1* [turkmán] ترکمن

Uzbek *M1* [uzbák] ازبك

Hazara *M4* [azārá] هزاره

Aymaq *M irreg.* [aymā́q] ایماق

Arab *M1* [arab] عرب

Verb

mention *der. tr.* [yādaw-́] يادو-

Adjectives

common *1* [mushtarák] مشترك

narrow *1* [tang] تنگ

small *2* [kuchnáy] کوچنی

Variant Spellings

خلق = خلك

کښي = کی

پکښي = په کی

Adverbs, Phrases, Idioms

accept *phr.* [ghāṛa yíxe wi] غاړه ایښي وی

high and low *phr.* [hásk aw ṭiṭ] هسك او ټیټ

behavior *phr.* [kṛə wṛə́] کړه وړه

it is important for us *phr.* [mung ta pə kār di] مونږ ته په کار دی

at the present time *phr.* [pə de wosanə́y zamāna ke] په دي اوسنۍ زمانه کي

as *phr.* [pə háys] په حیث

look underneath *phr.* [ləre nazár wəku] لیري نظر وکړو

exactly *adv.* [áynan] عیناً

the same *phr.* [amā́ghase] هماغسي

EDRS

Post-Reading Exercises

1. Give Pashto synonyms for the following words:

هماغسي کوچنی مشترك واکمن راز

عيناً څېړنه میرمنه اولادونه

2. Identify the sentences in which:
   a. Ulfat gives a definition of 'country' or 'nation'
   b. Ulfat states his central argument for Afghan unity
   c. Ulfat gives examples of diversity
   d. Ulfat draws parallels between diversity among Pashtuns and diversity among Afghans

3. Discuss whether recent events in Afghanistan (and the world) support Ulfat's statement that diversity need not be a barrier to unity.

Section 4: Diversions

يوه قاضي خپل نوکر ته وويل: لاړ شه يو شل کلن ځوان پيدا کړه
چه زه خپله لور ورته ورکړم. نوکر ولاړ. يو ساعت وروسته بېرته راغی.
قاضي ته يې وويل: صاحبه! شل کلن ځوان مې پيدا نکړ دوه لس کلن
ځوان هلکان راولم؟

يوه ښځه ډاکټر ته ورغله او ورته يې وويل: زما مېړه دماغي
ناروغي لري. زه يو عالم خبرې ورته وکړم. خو وروسته له يو څو
شيبو يې ټولې له ياده ووځي. ډاکټر ورته وويل: دا ناروغي نه ده،
دا د خدای رحمت دی.

يوې نجلۍ بلې نجلۍ ته وويل: زما پلار دومره سخي دی، چه هره
ورځ اول زرګونو خلکو ته ډوډۍ ور کوی او بيا يې خپله خوری.
هغې بلې نجلۍ پوښتنه وکړه چه پلار دې څه کار کوی؟
په يوه رستوران کې پيش خدمت دی.

waiter *n, M1* [peshkhɪdmát] پيش خدمت
mental *adj 4* [damāghí] دماغي
generous *adj 4* [sakhí] سخي
moment *n, F1* [shebá] شيبه
judge *n, M1* [qāzí] قاضي
assistant *n, M1* [nokár] نوکر
a lot *phr.* [yaw ālám] يو عالم

Unit 24: مېلمه پالنه

Section 1: Reading

پښتانه يو شمېر دودونه او اصول لري چه د پښتونولي په نامه يادېږي. کوم دودونه او اصول چه په حقيقت کې د پښتونولي ستنې جوړوي، هغه مېلمه پالنه، بدل او ننواتې دي.

مېلمه په پښتنو کې دومره قدر لري چه وايي «مېلمه د خداى درست دى». که مېلمه دښمن څه چه نامسلمان هم وي پښتون يې قدر کوي. ځينې پښتانه مشران د نامسلمان مېلمه د خوشحاله ساتلو لپاره په کور کې د ځينو خاصو شيانو د ساتلو سپارښتنه هم کوي. پښتانه بنګو، ترياکو او مفرح ته په بده سترګه ګوري. مګر د پښتنو يو لوى مشر او د پښتو ژبې ستر شاعر او ليکوال، خوشحال خان ختټك، په دستارنامه کې ليکي چه سړى دغه شيان په کور کې بايد ولري. ځکه دى وايي ښايي کوم کافر مېلمه په سړى ورپېښ شي او و يې غواړي.

پښتون مېلمه ته ډېر زيات مصرف هم کوي او معمولاً داسې ښه ډوډۍ ورته پخوي چه خپله يې د خوړولو توان نه لري. البته په اکثره پښتني سيمو کې ښه ډوډۍ په اسانه او ارزانه نشي برابريدلى. د پښتنو په کلو کې هر وخت غوښه نه خرڅېږي او ډېر کورونه په مياشت کې يو وار هم غوښه نه خوري. خو کله چه دچا کره نازولى مېلمه ورشي چرګ يا پسه هم ورته حلالوي. البته چرګ او پسه د اکثرو پښتنو د دارايي ډېره مهمه برخه جوړوي.

کله کله کوربه د ښې ډوډۍ د برابرولو توان هيڅ نه لري. دغه شان کوربه داسې شيان لکه وريجې او يا نغدې پيسې په پور اخلي او د مېلمه لپاره ښه ډوډۍ پخوي. پښتون به مېلمه ته ډوډۍ په ډېر زيار برابروي خو سره له دې هم وايي چه «مېلمه خپله روزي خپله راوړي او زور يې د خداى ځمکه اخلي»

ددې متل معنى دا ده چه سړى بايد په مېلمه سختي ونكړى او په وړين تندى يې په خپل كور كې وساتى.

د مېلمه ساتل او ښه ځاى ور كول هم د مېلمه پالنې يوه مهمه برخه ده. د پښتنو كورونه اكثره تنګ وى او د مېلمه لپاره زياتګى كوټه نه لرى. ځكه نو له هغو كوټو نه چه خپله په كې اوسيږى يوه د مېلمنو لپاره خالي كوى. كه مېلمه ډېر پردى نه وى له خپلې كورنۍ سره يې په يوه كوټه كې ساتى. دغه ډول مېلمه ته خپله تر ټولونه ښه او حتى نوې بړستن وركوى.

New Vocabulary

Nouns

principles *M irreg. DPl* [usúl] اصول

Pashtun code *F irreg.* [paxtunwalí] پښتونولى

pillar *F1 - [a]* [stən] ستن

revenge *M2* [badál] بدل

compensation *F1* [nanawā́te] ننواتې

non-Muslim *M2* [nāmusulmā́n] نامسلمان

a drink with hashish *M irreg.* [bang] بنګ

opium *M irreg.* [taryā́k] ترياك

hashish mixture *F1* [mufará] مفرح

non-Moslem *M1* [kāfír] كافر

ease *F1* [asā́na] اسانه

cheapness *F1* [arzā́na] ارزانه

meat *F1* [ghwáxa] غوښه

chicken *M1* [chərg] چرګ

property *F irreg.* [dārāyí] دارايى

bounty *F irreg.* [rozí] روزى

quilt *n, M2.* [bṛastə́n] بړستن

Adjectives

respected, important *2* [nāzawə́lay] نازولى

extra *4* [zyātagí] زياتګى

unfamiliar *2* [pradáy] پردى

Verbs

slaughter *der. tr. vb.* [alālaw-́] حلالو-

empty *der. tr. vb.* [khali kaw-́] خالى كو-

EDRS

Names

Khushal Khān Khattak [khushāl khān khaták] خوشحال خان ختټک

'Book of the Turban' *FI* [dastārnāmá] دستارنامه

Adverbs, phrases, idioms

be appreciated *phr.* [qadər lar-] قدر لر-

even *phr.* [tsə́ tse] څه چه

accommodate *phr.* [khushāla sāt-] خوشحاله سات-

suggest, recommend *phr.* [spārəxt kaw-] سپارښت کو-

disapprove of *phr.* [pə bada stə́rga gor-] په بده سترګه ګور-

cash *phr.* [nághde paysé] نغدي پيسي

borrow *phr.* [pə pór akhl-] په پور اخل-

stingily *phr.* [pə melma sakhtí] په مېلمه سختی

openheartedly *phr.* [pə wrín tandí] په ورین تندی

in that case *phr.* [dágha ḍawəl] دغه ډول

Have You Understood?

1. Answer the following questions.

۱. کوم دودونه د پښتونولی ستني دی؟

۲. پښتانه په کور کي هر څوك ولی ساتی؟

۳. خوشحال خان څوك ؤ؟

٤. يو پښتون د مېلمه دپاره بايد څه وکړی؟

٥. مېلمه تل هغه څه خوری چه کورنۍ يې خوری؟

٦. که په کور کي د مېلمه دپاره پوره ډوډۍ نه وی نو کوربه بايد څه وکړی؟

۷. دا متل چه مېلمه خپله روزی خپله راوړی څه معنی لری؟

۸. کوربه بايد مېلمه ته د شپي ځای هم ورکړی؟

EDRS

Section 2: به in more Detail

A. به + *present perfective* = 'will', 'might'

'If there's a lot of water, we'll plant rice.' که اوبه پریمانه وی، دهري شولي به وکرو.

'I don't think he will listen to anyone.' گومان نه کوم چه دچا خبره به واوری.

'We'll leave tonight.' ماښام به ور روان شو.

B. به + *present imperfective* = 'will be.....'

'I will be eating, you will be dancing.' زه به ډوډی خورم، ته به گډېږي.

'I'm going, you're not going.' زه به ځم، ته به نه ځي.

C. به + وی *or present imperfective* = *sense of uncertainty, indefiniteness*

'How many might there be?' شمېر به يي څومره وی؟

'Probably about twenty, fifteen thousand' یاره شل پنځه ويشت زره به وی.

'Your father wasn't a Kuchi, was he?' ستا پلار خو به کوچی نه و؟

'There is a lot of evidence that some members of these tribes lived in other areas as well.' دېر احتمال لری چه ددغي قبيلي ځيني غړی به په نورو ځايونو کي هم اوسېدی.

'There might also be Pashtuns living in India.' پښتانه به په هند کي هم اوسېږی.

EDRS

D. به + *past perfective (usually in conditional sentences)* = 'would (have)'

'If I had been in his place, I would not have given her to Almar's son.'
که زه دده په ځای وی د الماړ زوی ته به نه وی ور کړې.

'If he worked harder, he would have enough money to get married.'
که ډېر کار يې کولی، دومره پيسې به يې لرلی وی چه واده يې پرې کړی وی.

E. به + و or *past imperfective* = 'used to', 'would'

'When I was at school, I used to dance every day.'
زه چه په مکتب کې وم، هره ورځ به گډېدم.

'He used to spend the nights with us.'
د شپې به را سره اوسېده.

'They would spend the summers in the mountains of the Hindu Kush.'
اوړی به يې د هندوکش په غرو کې تېراؤ.

F. به + *perfective participle* + وی = 'will have...' /'might have ...'

'Tor might have come.'
تور به راغلی وی.

'I'll have finished the work by three.'
کار به مې په درې بجې خلاص کړی وی.

'He will have read the book by this evening.'
کتاب به يې مازديگر لوستلی وی.

Notes:

1. The particle به , besides being the future marker, can also carry the notion of indefiniteness or uncertainty. In the A - F sections above, the different combinations of به and tenses are given, with their English translations.

2. In many cases, a sentence with به is ambiguous; context determines whether the sentences refers to a definite statement about the future, or a statement of uncertainty.

EDRS

3. Often, به is used to 'soften' a command, e.g.

'We will meet at two (if it's all right)' مجلس به دوه بجې وکړو.

'We will meet at two (no alternatives possible).' مجلس دوه بجې کوو.

4. به can never occur with دې etc.

Practice

1. Give exact translations of the به phrases in the following sentences from previous dialogues and readings.

۱. پښتون به مېلمه ته ډوډۍ په ډېره سختۍ برابروي خو سره له دې هم وايي چه مېلمه خپله روزي خپله راوړي او زور يې دخداى خمکه اخلي.

۲. کوربه داريږي چه مېلمه به يې داسې گومان وکړي چه په کور کې د مېلمه د ډوډۍ توان نه لري.

۳. که دا کار وکړي موږ سره به ډېر کومك وي.

٤. د شپې به هم راسره اوسېده.

٥. کله به چه دشپې تږې شه، بيالې ته به ته اوبه به يې څکلې.

٦. نو چا ته به دې ورکړې وي؟

۷. گومان کوم چه ته خپله هم ورشې او خبره په کلي کې اواره کړي، ښه به وي.

2. Finish the following sentences.

کله چه زه وړی کېږم...

تر بل اوړي پورې...

کله چه زه مکتب کې وم...

پخوا تر دې چه موټر جوړ شي امريکايانو ...

کله چه موږ ماشومان وو، ما او ملگرو به مې ...

امان: نه! نه يې راوړی او ددې خبرې مهم دليلونه دوه دي. يو دا
چه په کلو کې رستورانونه يا د ډوډۍ د خرڅولو دوکانونه نشته.
بله دا چه که چيرته رستوران وي هم، مېلمه ته د رستوران ډوډۍ
اخستل شرم دی. حتی په ښارونو کې هم مېلمه ته پرته له وچې
ډوډۍ او يا بعضی داسې شيانو نه چه په کور کې، معمولاً، نه پيدا
کيږي، د نور څه شي اخستل شرم دی. دا کار مېلمه او کوربه
دواړه د ځان سپکاوې گڼي.

تريسا: دا ولې؟

امان: ځکه مېلمه داسې گومان کوي چه په کوربه پورې تاوان ؤ او
په دې يې نه ارزاؤ چه ډوډۍ ورته پخه کړي. کوربه ډاريږي چه
مېلمه او ښايي همسايگان به يې داسې گومان وکړي چه په کور کې
د مېلمه د ډوډۍ توان نه لري.

تريسا: کوربه بايد مېلمه ته تل ډوډۍ ورکړي؟

امان: هو! مېلمه چه هر وخت دچا کره ورشي د ډوډۍ ست ورته کوي.

تريسا: دا خبره د هر مېلمه په باره کې صحيح ده؟

امان: هو! دا خبره په عمومي ډول د هر مېلمه په باره کې صحيح ده.
په پای کې دا هم بايد درته ووايم چه، په عمومي ډول، مېلمه په سرې
ډېر کم پيښيږي. خو په ځينو شتمنو خلکو لکه د ليلا پلار ډېر ژر
ژر پيښيږي او ځکه نو هم جدا ځای ورته لري او هم هر وخت دومره
ډوډۍ پخوي چه د مېلمنو هم بس شي.

EDRS

New Vocabulary

Nouns

writing *F1* [likə́na] ليکنه
point *M3* [ṭə́kay] ټکی
table cloth *phr.* [distarkhā́n] دسترخوان
disgrace *M2* [shárəm] شرم
insult *M3* [spəkāwáy] سپکاوی
burden *M2* [tāwā́n] تاوان

Verbs

stint *smp. tr.* [spamaw-́] - سپمو
be afraid *der. int.* [ḍārég-] - ډارېږ
be worth *smp. tr.* [arzaw-́] - ارزو

Adjectives

hungry *2* [wə́gay] وږی
worthy *1* [waṛ] وړ
wealthy *1* [shtamə́n] شتمن

Adverbs, Phrases, Idioms

within one's capability *phr.* [pə wás ke wi] په وس کې وی
take care of *phr.* [chārá kaw-] - چاره کو
not enough *phr.* [pə nī́m nas] په نيم نس
bread (by itself) *phr.* [wə́cha ḍoḍə́y] وچه ډوډۍ
often *adv.* [zə́r zər] ژر ژر

Practice

1. Use the following phrases in sentences and questions of your own construction.

په وس کې وی　　په نيم نس　　چاره کوی
څه کيږي　　داريدل چه

2. Discuss the following proverbs, including information from Amān and Theresa's conversation.

بې وخته مېلمه د اسمان چرګ دی.

سل بللی خاييږي، يو نا بللی نه خاييږي.

EDRS

Section 4: Diversions

د يوه سړی کره مېلمه ورغی. سړی غوښتل چه له مېلمه نه ځان خلاص کړی. نو مېلمه ته يې وويل چه ښځه مې په داسې دېګی کې ډوډۍ پخوی چه يوه شپه وخت غواړی. مېلمه بېرته تکيه وکړه او کوربه ته يې وويل چه ستاسې دېګی چه په يوه شپه کې پخېږی ما هم د يوې هفتې تکيه ووهله.

د يوه سړی کره مېلمه راغی. سړی به هره ورځ دال ورته پخول. يوه هفته وروسته سړی له مېلمه نه پوښتنه وکړه چه نن څويم تاريخ دی؟ مېلمه ورته وويل چه نور خبر نه يم خو نن د دالو اتمه ورځ ده.

support *n, F1* [takyá] تکيه

park oneself on *phr.* [takyá wah-́] تکيه وهـ-

what date? *phr.* [tsoyə́m tāríkh] څويم تاريخ

be rid of *der. tr. vb.* [dzā̃n khlā̃saw-] ځان خلاصو-

lentils *n, M irreg.* [dāl] دال

pan *n, M3* [degáy] دېګی

EDRS

Unit 25: بدل

Section 1: Dialogue

تریسا: پرون مي د پښتنو په باره کي یو لوی پېپر ولوست. په پېپر کي یو ځای لیکل شوی وو چه پښتون هرومرو خپل بدل اخلی. بدل څه شی دی؟

امان: د بدل کلمه دوه معناوي لری. کله چه یو سړی خپله لور د چا زوی ته ورکړی او دا بل شخص په بدل کي بیا خپله لور د ده زوی ته ورکړی، دي ته بدل وایی. د بدو په مقابل کي بد کول هم بدل بلل کېږی. مثلاً که یو څوك بل څوك مړ کړی او د مړی د کورنۍ کوم بل غړی قاتل ووژنی، نو ویل کیږی چه دغه شخص د خپلي کورنۍ د غړی بدل واخست.

تریسا: هره بدی چه پښتنو سره وشی بدل یي اخلی؟

امان: نه، داسي نه ده. بدی تر بدی پوري ده. که څوك د چا یو تنکی ځوان زوی ووهی ښایی ډېر زیات اهمیت ور نکړی. خو که څوك د چا تنکۍ پېغله لور ووهی نو دا ډېره بده خبره ګڼی او هرومرو یي بدل اخلی.

تریسا: ددي کار بدل به څنګه وی؟

امان: څرنګه چه په پښتنو کي ښځي باندي تیری ډېر بد کار ګڼل کېږی، نو ښایی چه ددي کار بدل مرګ وی. یعنی ښایی د نجلۍ د کورنۍ غړی هغه سړی ووژنی چه دغه نجلۍ یي وهلي ده. خو دا حتمي نه ده. ښایی د نجلۍ د کورنۍ غړی، د هغه هلك د کورنۍ کومه ښځه ووهی، چه دا نجلۍ یي وهلي ده. لنډه دا

EDRS

چه بدل یوه پېچلې حادثه ده او په ټولو اړخونو یې پوهېدل د پښتنو له کلتور سره پوره بلدیت غواړي.

تریسا: سړي خپل بدل څومره ژر اخلي؟

امان: د بدل اخستل کوم ټاکلی وخت نه لري. ښایي یو سړی خپل بدل سمدستي واخلي. ښایي یو بل سړی یې په کلونو کلونو وروسته واخلي. دا خبره هم په دې پورې مربوطه ده چه څوك د کومې بدۍ بدل سمدستي اخستی شي او څوك د کومې بدۍ بدل سمدستي نه شي اخستی.

New Vocabulary

Nouns

paper, article *M2* [peypə́r] پېپر

word *F1* [kalimá] کلمه

person *M2* [shakhs] شخص

wrongdoing, insult *M. irreg.* [bad] بد

assassin *M1* [qātə́l] قتل

aggression *M3* [teráy] تېری

death *M2* [marg] مرگ

phenomenon *F1* [ħādɪsá] حادثه

aspect *M2* [aṛkh] اړخ

culture *M2* [kaltór] کلتور

familiarity *M2* [baladiát] بلدیت

Verbs

kill *smp. irreg. tr.* [wázn-] وژن-

Adjectives

young, newly grown *2* [tankáy] تنکی

complex *2* [pechə́lay] پېچلی

dependent *I* [marbút] مربوط

Adverbs, phrases, idioms

in response *phr.* [pə muqābíl ke] په مقابل کې

avenge ... *phr.* [de ... badál akhl-] د ... بدل اخل-

necessarily *adv.* [ħatmí] حتمي

quickly *adv.* [zər] ژر

EDRS

Practice

1. Assume that A is the family committing the crime, and that B is the family seeking revenge. In the sentences below, label the people referred to by the underlined words and phrases as belonging to family A or family B.

که یو څوک بل څوک مړ کړي او د مړي د کورنۍ کوم بل غړی قاتل
ووژني، نو ویل کېږي چه هغه شخص د خپلې کورنۍ د غړي
بدل واخست.

ښايي د نجلۍ د کورنۍ غړي هغه سړي ووژني چه دغه نجلۍ
يې وهلې ده.

ښايي د نجلۍ د کورنۍ غړي، د هغه هلك د کورنۍ کومه ښځه ووهي،
چه دا نجلۍ يې وهلې ده.

2. Explain the following proverb: بدل په بدل روا دي.

legitimate act *n, F3* [rawā] روا

Section 2: د پښتون بدل

منشي احمد جان -

د مردان د علاقې یو گل میر نومی سړی ؤ چه د خلیلو یوه کلی ته تللی ؤ. دلته یو صحبت خان نومی زمیندار سره یې سترې مه شي وه او د هغه حجرې ته به اکثره ته. یوه ورځ چه گل میر ورغی، کښیناست، او د انگا بنگا خبرې یې را واخستې. صحبت خان ترې تپوس وکړ. یاره ما تا نه هر کله دا تپوس کړی دی چه ستا پښه په څه شی گوده شوې ده، نو سم حال دې را ته نه دې ویلی، او په هغه دغه کې دې خبره تېره کړې ده. نن خو به خامخا را ته دا حال وایې او که اوس دې هم را ته ونه ویل نو زه به ډېر خپه شم او پوه به شم چه د دوستی په سترگه را ته نه گورې. بیا به زه هم خان ونغاړم.

گل میر: یار، ته په نه څه خبره خپه کیږې. ما دا خبره نه کوله ځکه چه تېرې هېرې قصې را یادول هسې زړه خوږول دی. خو ما سره دا لوز وکړه چې دا حال به پټ زړه کې اچوې او بل ډېر خوږ دوست ته به یې هم نه وایې.

صحبت خان: په ډېر شوق سره.

گل میر: ما د مردان په علاقه کې په یوه کلی کې زمینداری کوله او د خدای په فضل ښه غوړ وم. یو زوی لور مې هم وو او ښځه مې ډېره ښایسته وه. ډېره موده په خندا خوشحالۍ وخت تېرېده.

څه موده پس زمونږ په خوشحالۍ کې کرچ پریووت. ښځه به مې اکثره خپه خپه غوندې وه. ډېر ځله مې ترې تپوسونه هم وکړل خو حال یې ونه وایه.

دې نه پس یو ځل دوه زه پوه شوم چه زما ښځه نیمې شپې نه پس څو ساعته غیبه وی بیا را شی. په دې زما زړه کې قسم قسم شکونه پیدا شول. یوه شپه مې شوگیره وکړه. چه نیمې شپې نه شپه واوړېده او چوپه چوپیا شوه نو ښځې مې لوپټه په سر کړه ورو غوندې له کوره

ووته. ژمی ؤ. ډېر ساړه ؤ. يخ باد لګېده. يو څو دقيقې پس زه هم ور پسې پاڅېدم او څادر مې په سر کړ. تياره ډېره وه څکه نو هغه پ دې نه پوهېده چه ما پسې څوك راځي. تله تله چه ښځه له کلی نه راووته او صحرا ته يې مخه کړه نو زه وبوګنېدم چه دا دلته څه کوی.

زه يو ځای پټ شوم. ګورم چه مخامخ په تکيا کې يو ښايسته ملنګ ناست دی. څو چه زما ښځه ور ورسېده نو غېږ کې يې ونيوه. خوله يې ترې واخسته. ما چه دا حال وليد نو سترګو مې د وينو دارې ووهلې. يو ساعت پس زما ښځې ملنګ ته هغه دوډی کېښوده چه ځان سره يې له کوره راوړې وه. دې نه پس ملنګ ورته ووېلې چه زما لپاره دې مخامخ بڼ نه خاشاك راوړه. هغه اوچته پاڅېده او بڼ ته لاړه. ما ويلې چه همدا وخت دی غلی غلی ورغلم. کومې ونې لاندې چه دی ناست ؤ هغې کې يوه توره هم ځوړنده وه. سمدستی مې تورې ته لاس کړ. ملنګ چه سترګې راواړولی نو حيران شو او پاڅېدو ته يې نيت وکړ. خو ما پاڅېدو ته پرې نه ښود او يو داسې ګوزار مې ور باندې وکړ چه سر يې لکه د بادرنګ بېل شو. دې نه پس مې توره وغورځوله او کور ته روان شوم.

New Vocabulary

Nouns

region *F1* [alāqá] علاقه

landowner *M1* [zamindā́r] زميندار

question *M2* [tapús] تپوس

friendship *F2* [dostí] دوستی

story *F1* [qisa] قصه

promise *M2* [lawz] لفظ

pleasure *M2* [shawq] شوق

break, disruption *M2* [kṛach] کرچ

time *M2* [dzal] ځل

suspicion *n, M2.* [shak] شك

scarf *F1* [lupaṭá] لوپټه

minute *F1* [daqiqá] دقيقه

darkness *F1* [tyārá] تياره

field *F3* [sahrā́] صحرا

hermit *M1* [maláng] ملنګ

blood *F1* [wína] وينه

orchard *M2* [baṇ] بڼ

firewood *M2* [khāshā́k] خاشاك

blow *M2* [guzā́r] ګوزار

EDRS

Adjectives

real *1* [sam] سم
lame *1* [gwáḍ] گوډ
oily, prosperous *1* [ghwaṛ] غوړ
- like *4* [ghúnde] غوندې
quiet *1* [chúpa] چوپه
cold *1* [yakh] یخ
quiet *2* [ghə́lay] غلی
suspended *1* [zwáṛand] ځوړند
surprised *1* [hayrā́n] حیران

Verbs

shrink *smp. irreg. int.* [nghāṛ-́] - نغاړ
happened *dbl. irreg.* [préwot] پریووت
disappear *der. int.* [ghaybég-] - غیبېږ
pass *smp. irreg.* [āwṛ-] - اوړ
shiver *smp. int.* [bugnég-] - بوګنېږ
get separated *der. int.* [belég-] - بېلېږ

Proper names

man's name [gwəlmír] ګل میر
man's name [suhbát] صحبت

Adverbs, phrases, idioms

familiar *phr.* [stəṛimə́shi] سترې مشې
chatting *phr.* [angā́ bangā́ khabə́re] انګابنګا خبرې
of necessity, for sure *adv.* [khāmakhā́] خامخا
in friendship *phr.* [de dostí pə stə́rga] د دوستۍ په سترګه
nothing *phr.* [nə́ tsə khabə́ra] نه څه خبره
old, forgotten *phr.* [tére hére] تېرې هېرې
eats at (one's) heart *phr.* [zṛə khogawəl di] زړه خوږول دي
own land *phr.* [zamindā́rí kaw-] - زمینداري کو
all kinds (of) *phr.* [qísəm qísəm] قسم قسم
stay awake *phr.* [shawgirá kaw-] - شوګیره کو
embrace *phr.* [ghég ke nis-́] - غېږ کې نیس
kiss *phr.* [khwlə ... ákhl-] - خوله ... اخل
spurt *phr.* [dā́re wah-́] - دارې وه
stood up straight *phr.* [uchā́ta pātseda] اوچته پاڅېده
decide *phr.* [nyát kaw-] - نیت کو
give (a blow) *phr.* [bānde kég-] - باندې کېږ

Preposition

after *prep.* [pas] پس

Have You Understood?

1. Answer the following questions.

۱. کومه دودۍ چه د ګل میر ښځې ملنګ ته ور وړه، هغه یې له کومه کړه؟

۲. ګل میر خپله قصه چېرته صحبت خان ته وکړه؟

۳. ګل میر څو واړه لري؟

٤. ګل میر ولې خپلې ښځې پسې ورغی؟

٥. صحبت خان او ګل میر چېرته اوسېدل؟

٦. ګل میر ولې خپله قصه صحبت خان ته نه کوله؟

۷. د ګل میر ښه ژوند ولې خراب شو؟

۸. کله چه ګل میر ملنګ و واړه ښځه یې چېرته وه؟

۹. صحبت خان له ګل میر سره څه لوز وکړ؟

۱۰. ګل میر ملنګ په کوم موسم کې مړ کړ؟

2. Summarize the story so far, in English and in Pashto.

EDRS

Section 3: The Story Continues

يو ساعت پس ښځه هم راغله. دې نه پس به زما ښځه ډېره خپه ښکارېده. ما ښځې سره ددې خبرې څه غږ غوږ نه کاؤ. يوه ورځ سهار وخته را نه غلطى وشوه چه ښځې ته مې ووېلې ما ته نن وختى ډوډى پخه کړه. پتى ته ځم. هغې ووېلې چه لا ډېر يخ دى. زما له خولې نه له بده شامېته ووتل چه هغه وخت دې ساره نه کېدل چه د ملنګ لپاره دې خاشاك راوړه.

ددې خبرې اورېدل ؤ او د ښځې لکه د مار په شان تاوېدل ؤ. سترګې يې سرې شوې او له ډېره قاره يې لکه پړانګ را باندې حمله وکړه. ما ترې ځان بچ کړ خو په بله غوټه کې توکا په لاس ورغى. زما وار پار خطا شو او وتښتېدم. زه په ديوال ختم چه ورروسته نه مې يې دا پښه په توکا ووهله. ما له ډېره درده ټوپ ونه شو وهلى او ديوال نه هغه خوا پرېوتم. پښه مې جوړه شوه خو ګوډ شوم. دا زما د ګوډېد و قصه وه.

صحبت خان چه دا قصه واورېده نو له ډېره قاره شين شو او را ته وې وېلې چه ياره دا خو ډېره د نامردى خبره ده چه د ښځې له لاسه بنده وتښتې. راځه چه ور شو او ددې خو خلاصى وکړو چه دا يې هم ياد ولرى چه ما هم چا سره څه کړى ؤ.

ګل مير: زه هم په همدې انديښنه کې يم، خو نه پوهېږم څنګه يې کم. خداېږو ياره زه خپله حيران يم چه ښځې نه مې ولې وتښتېدم.

صحبت خان: خير داسې کېږى خو اوس بدل پرې ښودل نه دى په کار. يوه ورځ ماښام تروږمى کې صحبت خان او ګل مير يو کلى ځخه ښکاره شول. دا د ګل مير پخوانى کلى ؤ. کلى ته ور ننوتل. يوه ګوټ کې د بټ په غاړه باندې دوو ماشومانو سونکا سونکا کوله. ګل مير ور نژدى شو او تپوس يې وکړ چه څوك يې؟ يوه وويلې چه يتيمان يو. ګل مير دواړه په غېږ کې ونيول او کوکى يې ترې واخستې. تپوس يې وکړ چه ستاسې مور او پلار څه شول؟ هغو وويلې چه پلار مو

EDRS

Section 3: Dialogue

تريسا: کومې ليکنې چه په غرب، په تېره بيا په امريکا کې، د پښتنو د دودونو په باره کې شوې دي، په هغو کې مېلمه پالنه د پښتونولۍ يو ډېر مهم اصل ګڼل شوی دی. دا ليکنې داسې ښيي چه د پښتنو هر څه په وس کې وي هغه له مېلمه نه نه سپموي. حتی دا ليکنې وايي چه پښتون خپله کورنۍ وږې پرېږدي، خو د مېلمه چاره کوي. دا رښتيا ده؟

امان: دا خبره په عمومي ډول صحيح ده. خو دا ورروستی ټکی يې په يوه وخت کې له بل وخت نه او په يوه ځای کې له بل ځای نه فرق کوي.

تريسا: مثلاً؟

امان: مثلاً که مېلمه د چا کره په وخت ورشي، کوربه دومره ډوډۍ پخوي چه ټولو ته بس وي او څوک وږي نه پاتې کېږي. البته کوربه ته تياره ډوډۍ هلته ورکول کېږي چه د کوربه په فکر د مېلمه ور وي. خو که تياره ډوډۍ د مېلمه وړ نه وي، کوربه نوره ډوډۍ ورته پخوي.

تريسا: که مېلمه وروسته له پخلي نه راشي څه کېږي؟

امان: که مېلمه د چا کره ناوخته يا وروسته له پخلي نه ورشي، ښايي د کورنۍ ځينې غړي په تېره بيا ښځې په نيم نس ډوډۍ وخوري او يا يې هيڅ و نه خوري. ځکه کومه ډوډۍ چه پخه شوې وي هغه شايد ټولو ته بس نه وي. حتی کله کله داسې هم کېږي چه کومه ډوډۍ مېلمه ته پخيږي هغه يواځې مېلمه او هغه څوک خوري چه له مېلمه سره په يوه دسترخوان ناست وي.

تريسا: ګومان کوم چه کوربه مېلمه ته ډوډۍ له بازاره نه راوړي؟

EDRS

چېرته تللی ؤ او هلته مړ شو. مور مو بل خاوند وکړ. مونږ يې وشړولو.
له بتهياری سره په موټی نينو باندې ساعت تېروو او بيا دلته څملو.
صحبت ګل مير ته وويل چه دا جوړ ستا بال بچ دی؟ ده ووېلې هو.
بيا ګل مير ترې د مور د کور تپوس وکړ. دوی ووېلې چه زمونږ د
پلار په کور باندې هغه خپل خاوند څخه اوسېږی او ټول مال حال يې
زمونږ پلندر ته ور کړی دی. ده ورته يو څو پيسې لاس کې کېښودې،
او ورته يې ووېلې چه خير دی ويده شی.

New Vocabulary

Nouns

mistake *F2* [ghalatí] غلطی
field *M3* [paṭáy] پټی
snake *M1* [mār] مار
anger *M1* [qār] قار
tiger *M1* [prang] پړانګ
attack *F1* [ghuṭá] غوټه
cleaver *M4* [tukā] ټوکا
pain *M1* [dard] درد
cowardice *M3* [nāmardí] نامردی
concern, worry *F1* [andexná] اندېښنه
darkness *F2* [taragmáy] تروږمی
corner *M2* [goṭ] ګوټ
popcorn oven or shop *M2* [baṭ] بټ
orphan *M1* [yatím] يتيم
kiss *F2* [kokáy] کوکی
property *M2* [māl] مال

Verbs

twist *der. int.* [tāwég-] -تاوېږ
attack *der. tr.* [hamlá kaw-] -حمله کو
climb *smp. int.* [khat-] -خت
appear *der. int.* [xkara kég-] -ښکاره کېږ
kick out, expel *smp. tr.* [shaṛ-] -شړ

Adjective

early *4* [wakhtí] وختی

Preposition

together [tsókha] څخه

EDRS

Adverbs, phrases, idioms

unfortunately *phr.* [lə bada shāméta] له بده شامېته

avoid *phr.* [dzān báchaw-] ځان بچو-

I panicked *phr.* [di mā warpar khatā́ sə] زما وار پار خطا شه

jump *phr.* [ṭóp wah-] ټوپ وهـ-

By God *phr.* [khwdā́y go] خدايږو

these things happen *phr.* [khayr dā́se kegi] خير داسي کيږي

appropriate *phr.* [pə kā́r] په کار

a children's game phr. [sunkā́ sunkā] سونکا سونکا

on a handful of grain *phr.* [pə muṭi ninó bānde] په موټي نينو باندي

offspring *phr.* [bāl bách] بال بچ

Have You Understood?

1. Answer the following questions.

١. د گل مير ښځه ښنگه وپوهېده چه مېړه يي ملنگ وژلى دى؟
٢. گل مير ولي له خپلي ښځي نه وتښتېده؟
٣. د گل مير پښه ښنگه خوږه شوه؟
٤. وروسته له دي چه گل مير له خپلي ښځي نه وتښتېده چېرته لاړ؟
٥. صحبت خان د گل مير د قصي په باره کي څه ووېلي؟
٦. د گل مير کلي ته څه وخت ورسېدل؟
٧. واړه يي چېرته پيدا کړل؟
٨. وړو ښنگه ژوند کاو؟
٩. واړه له خپلي مور سره ولي نه اوسېدل؟
١٠. د وړو مور او پلندر چېرته اوسېدل؟

2. Summarize the story so far, in English and Pashto.

EDRS

Section 4: The Story Concludes

دواړه یاران وړاندې تلل چه یو ګوټ نه را تاو شول نو هلته ودرېدل. وړاندې یوه دروازه وه. هغې ته غلی غلی ور تلل. یوه دالان کې غوایانو څخه پټ کښېناستل. د کور خاوند له کوټې نه را ووت او غوایانو ته ګیاه اچولو لپاره راغی. دلته د دواړو یارانو پرې ور غوټه کړه او کلك یې ملړی‌ نه ونیو او سوټ بوټ یې وتاړه، دغوایانو اخورکې یې واچاوه. ورته وې وېلې چه که غږ دې وکړ نو نوم دې مرګ دی.

ګل میر او صحبت بیا په کوټه ور ننوتل. ډېوه یې ولګوله. ښځه یې را ویښه کړه. صحبت یوه داسې څپېړه په غوږ ور کړه چه سر کې یې کرنګار پیدا شه. بیا یې ترې تپوس وکړ چه خاوند دې ولې کړی دی. هغې ووېلې دې سړی را باندې په زور نکاح تړلې ده. صحبت ګل میر ته اشارت وکړ او هغه تړلی سړی یې کوټې ته راوست. تپوس یې ترې وکړ چه تا ولی په زور په دې ښځې نکاح تړلې ده؟ هغه ووېلې په زور چا کلی نه دی کړی. زړه یې و او کونډه وه نو مې پرې نکاح تړلې ده. ده ووېلې چه تا ته څنګه معلومه شوه چه کونډه ده؟ هغه ووېلې چه ددې خاوند د خپل وړور له لاسه مړ شوی ؤ. هغه پرې قید شو. دا خو هر چا ته معلومه ده. مړی موندلی شوی ؤ. پېژندلی شوی ؤ. ښکاره خبره ده.

صحبت: د خون دعوه چا کړې وه؟

سړی: دې ښځې

ګل میر: له ډېره قاره یې څګونه په خوله کې راغلل او ور غوټه شه پرې. پزه یې ترې پرې کړه. هغه نسکوره پرېوته. ده ترې یو غوږ هم جدا کړ. صحبت پړی تیر کې واچاؤ او ښځه یې په کې خورنده کړه. څو پورې چه رپېده او سا یې نه وه ختلې دوی ورته ولاړ وو. سړی نه یې هم پزه غوږ پرې کړل چه په دې کلی کې یوه نمونه خو پاتې شي. چه ښځه یخه شوه نو دوی ترې پښې وښکې.

EDRS

که پښتون سل کاله پس بدل واخلی، نو هم وایی چه ژر مي واخست.

د بت له غاړې نه گل میر خپل زوی لور هم په اوږه کړل او شپه په شپه له کلی نه ووتل.

New Vocabulary

Nouns

stable *M2* [dālā́n] دالان

hay *F3* [gayā́] گیاه

throat *F2* [maráy] مری

manger *M2* [akhwór] أخور

lamp *F1* [diwá] ډیوه

banging *M2* [kṛangā́r] کړنگار

assassination *M2* [khun] خون

rope *M3* [páṛay] پړی

beam, roof support *M2* [tir] تیر

example *F1* [namuná] نمونه

Verbs

light *smp. tr.* [lagaw-́] لگو-

awaken *der. tr.* [wixaw-́] ویښو-

be imprisoned *der. int.* [qaydég-] قیدېږ-

be found *smp. tr.* [mund-] موند-

be identified *smp. int.* [pézan-] پېژن-

hang, string up *der. tr.* [zwaṛanḍaw-́] خوړندو-

quiver, jerk *smp. int.* [rapég-] رپېږ-

Adjective

face down *1* [naskór] نسکور

Adverbs, phrases, idioms

tight *phr.* [sút but] سوټ بوټ

get engaged *phr.* [nikā taṛ-́] نکاح تړ-

make a signal *phr.* [ishārā́t kaw-] اشارت کو-

bring suit *phr.* [dāwā́ kaw-] دعوا کو-

foam at the mouth *phr.* [dzagúna pə khwlə́ ke rādz-́] ځگونه په خوله کي راځ-

one's soul climbs (i.e. one dies) *phr.* [sā ... khat-́] سا ... خت-

that very night *phr.* [shpá pə shpá] شپه په شپه

EDRS

Have You Understood?

1. Answer the following questions.

١. د ښځې خاوند ولې دالان ته لاړ؟
٢. خاوند ولې په صحبت خان او گل میر پسې کوټې ته لاړ نه شو؟
٢. گل میر ولې پلندر کوټې ته بوته؟
٤. خاوند ولې فکر کاؤ چه د ښځې مېړه مړ دی؟
٥. د گل میر ښځې ځنگه په خلکو دا ومنله چه گل میر مړ دی؟
٦. د گل میر ورور ولې قید شوی ؤ؟
٧. گل میر او صحبت خان د گل میر ښځه ځنگه ووژله؟
٨. گل میر او صحبت خان د خاوند پزه او غوږ ولې پرې کړل؟
٩. د گل میر واړه چا بوتلل؟

2. Gwəlmir's wife is obviously the villainess of the story. List her wrongs against Gwəlmir.

3. Give a dramatic reading of the story, with different students reading as the narrator, Gwəlmir, Sohbat Khān, the stepfather, the wife, and the children.

EDRS

Section 5: Diversions

چه وا نخلی له غلیم نه انتقام
مرد نه خوب کا نه خوراك کا نه آرام.

- خوشحال خان ختك

In ordinary prose:

چه مرد له غلیم نه انتقام وانخلی، نه خوب کا نه خوراك کا نه آرام.

man *n, M1* [mard] مرد

enemy *n, M1* [ghalím] غلیم

revenge *n, M2* [intiqām] انتقام

food *n, M2* [khorāk] خوراك

rest *n, M2* [ārām] آرام

Unit 26: عزت او ننواتي

Section 1: Reading

پښتنو ته خپل عزت ډېر اهمیت لري او هیچا ته دا حق نه ورکوي چه تېرى پرې وکړي. په عزت تېرى څه معنی؟ کله که اسلم سلیم د خلکو په مخ کې ووهي او یا اسلم د سلیم د کورنۍ کومې ښځې یا پېغلې ته په سپکه سترګه وګوري دا د سلیم په عزت تېرى دى او په پښتنو کې ډېر بد ګڼل کیږي.

سلیم عموماً خپل بدل اخلي. خو کله چه اسلم د سلیم په عزت تېرى وکړي، دا حتمي نه ده چه سلیم خپل بدل خپله واخلي. ښایي زوی، وروړو، وراره، تربور او حتى خوریې یې بدل واخلي. ځکه په پښتنو کې د سلیم په عزت باندې تېرى د ټولې کورنۍ عزت باندې تېرى دى.

د عزت د اهمیت په باره کې یو ښه مثال د بکوا د سیمې یوه پېښه ده چه د کمونستانو د حکومت په اولو وختو کې وشوه. کله چه کمونستان قدرت ته ورسېدل، وروسته له یو څه مودې نه یې په اصطلاح د ځمکو اصلاحات پیل کړل. نور محمد خان د بکوا د سیمې د نورزو یو لوی خان او د ځمکې د اصلاحاتو مخالف ؤ. یوه ورځ سپایانو د حاکم په امر ونیوه. د خلکو په مخ کې یې په ونه پورې وتاړه او ډېر زیات یې وواهه. د نور محمد خان ورونه، زامن او ټول نورزي په دې خبره دومره وپارېدل چه بغاوت یې وکړ او له حکومت سره یې جګړه پیل کړه.

یو بل مثال هغه پېښه ده چه په همدې وخت کې په هزارجات کې وشوه. د حکومت مامورینو د یوه خان ښځه او لور په زور د کوره وایستلې او د لویانو کورس ته یې بوتلې. خان او د هغه طرفداران دې خبرې دومره وپارول چه بغاوت یې وکړ او د حکومت مامورین یې ووژل.

کله کله داسې هم کيږي چه اسلم د سليم په عزت تېری وکړی، خو
اسلم په خپل تيری پښېمانه شي. بيا يو يا څو کسه د سليم کره
ورليږی او ښښنه ترې غواړی. پښتانه دې دود ته ننواتې وايي.
کله کله اسلم د خپلې کورنۍ له ځينو غړو او يا دوستانو سره د
سليم کره ننواتې ځي. کله بيا خپله اسلم نه ځي بلکه د خپلې کورنۍ
نور غړی او يا دوستان ننواتې ليږی. که اسلم په سليم او يا د
هغه په عزت تېری وکړی هلته بيا ښايي اسلم د خپلې کورنۍ يوه
يا دوه ښځې هم له هغو خلکو سره ملګری کړی چه ننواتې ځي.
که د اسلم تېری ډېر سخت وی نو ښايي چه د کلی او يا سيمې کوم
لوی مذهبی عالم او يا روحانی مشر هم له هغو خلکو سره ملګری
کړی چه ننواتې ځي.

که سليم د اسلم ننواتې ومنی نو اسلم د يو زيات شمېر خلکو په
مخ کې چه پخوا د سليم کره د ننواتې مجلس ته بلل شوی وی،
ښښنه غواړی. اسلم د ښښنې په ورځ يو يا څو پسونه هم د سليم
کره بيايي او هلته يې حلالوی. د پسونو غوښې معمولاً له وريجو
سره پخوی او هغو خلکو ته يې ورکوی چه د ننواتې په مجلس کې
ناست وی. سليم اکثره د اسلم ننواتې مني. خو کېدی شي چه سليم
ننواتې ونه مني او له اسلم نه بدل واخلي.

New Vocabulary

<u>Nouns</u>

honor *M2* [ɪzát] عزت

right *M2* [ĥaq] حق

incident *F1* [péxa] پېښه

Communist *M1* [kamonĺst] کمونست

power *M2* [qudrát] قدرت

local governor *M1* [ĥākĺm] حاکم

revolt *M2* [baghāwát] بغاوت

supporter *M1*. [tarafdā́r] طرفدار

pardon *F1* [baxə́na] ښښنه

scholar *M1* [ālĺm] عالم

People

man's name [aslám] اسلم

Pashtun khan [nur māmad khān] نور محمد خان

Verb

become agitated *smp. int.* [pārég-] -پارېږ

Conjunction

instead *conj.* [bálke] بلکه

Adjectives

opposed *1* [mokhālíf] مخالف

regretful *4* [pəximāna] پښېمانه

spiritual *4* [ruhāní] روحاني

Places

[bakwā] بکوا

[hazārajāt] هزاره جات

Adverbs, phrases, idioms

in front of ... *phr.* [de ... pə mákh ke] د ... په مخ کې

insult *phr.* [pə spáka stárga gor-] -په سپکه سترگه گور

so-called *adv.* [pə ɪstɪlā] په اصطلاح

land reform *phr.* [de mdzəke ɪslāhāt] د ځمکې اصلاحات

adult (literacy) course *phr.* [de loyāno kwərs] د لويانو کورس

it can happen that *phr* [kedáy si] کېدی شي

Have You Understood?

1. Answer the questions.

۱. نورزو ولې د کمونست حکومت په مقابل کې بغاوت وکړ؟

۲. که په سليم باندې د اسلم تېرى سخت وى، نو اسلم به سليم ته څوك ننواتي ور وليږي؟

۳. که سليم د اسلم ننواتي ومني، بيا څه کيږي؟

٤. که سليم د اسلم ننواتي و نه مني، بيا څه پښېمېږي؟

۵. ننواتي څه شی دی؟

2. Discuss the two incidents mentioned in the passage. How could the government have achieved its objectives without attacking the honor of the Pashtuns involved?

Section 2: Verb Phrases with Possessive Subjects

Examples

'I don't like Gwəlay either.'	زما گلی هم ښه نه ایسی.
'Asad's uncle doesn't like Gwəlay.'	د اسد د تره گلی بد ایسی.
'I really disliked Salim's behavior.'	د سلیم له سلوک نه مې ډېر بد راغله.
'Do you really dislike him?'	ستا د هغه نه ډېر بد راځی؟
'Shamay's sons feel like (making) trouble.'	د شمی د زامنو مرداری ته زړه کیږی.
'I feel like going home.'	زما زړه کیږی چه کورته لاړ شم.
'Do you feel like (eating) food?'	ستا ډوډی ته زړه کیږی؟
'I feel cold.'	زما ساړه کیږی.
'Layla's mother feels cold.'	د لیلا د مور ساړه کیږی.
'Do you feel hot?'	ستا گرمی کیږی؟
'You have a fever.'	ستا تبه ده.
'I like Laylā.'	زما لیلا خوښیږی.
'Asad likes the girl who is dancing the atan.'	داسد هغه نجلۍ خوښېږی چه اتڼ کوی.

Notes:

1. There are some frequently-used Pashto verb phrases which are used in sentences in which the semantic (or logical) subjects are possessive phrases, e.g.

زما ساړه کېږی.

	[di mā	saṛé	kegi.]
Literal translation:	'my'	'cold'	'becomes'
Idiomatic translation:	'I'm getting cold.'		

ددې له هغه نه ډېر بد راځی؟

	[di de	la aghé na	ḍer bád	rādzi?]
Literal translation:	'of you'	'from him'	'very bad'	'come'
Idiomatic translation:	'Do you dislike him?'			

3. These idiosyncratic phrases are as follows:

'Logical' Subject	'Logical' Object	Verb phrase	English equivalent
possessive	له ... نه	بد راخ-	'dislike'
possessive	ته ...	زړه کېږ-	'feel like'
possessive	*as usual*	ښه ایس-	'like'
possessive	*as usual*	بد ایس-	'dislike'
possessive	(none)	ګرمی کېږ-	'feel hot'
possessive	(none)	ساړه کېږ-	'feel cold'
possessive	(none)	تبه ده	'have a fever'
possessive	*as usual*	خوښېږ-	'like'

4. These verb phrases always take third person endings.

5. If the object of the phrase is a چه clause, it occurs as usual after the verb, e.g.

زړه مي کېږي چه کور ته لاړ شم.

[zṛə me kégi tse kór ta laṛ səm.]

Literal translation: 'heart' 'my' 'become' 'that' 'to home' 'I go'

Idiomatic translation: 'I feel like going home.'

6. ښه and بد in these phrases agree with the object.

Practice

1. Substitute the following people in the sentences below.

یو ته زه تاسي خوشحال لیلا

______ ساړه کېږي.

______ له نجیب نه ډېر بد راځي.

______ زړه نه کېږي چه درس ته لاړ شي.

______ ګرمی کېږي؟

EDRS

2. Translate the following into Pashto.
    a. Khushal has a fever.
    b. Are you feeling hot?
    c. He doesn't like me.
    d. We dislike movies.
    e. Asad feels like going on a trip.
    f. I feel like a party!
    g. Is Patang's mother feeling cold?
    h. She doesn't dislike Indian food.
    i. We dislike studying on Sunday.
    j. He doesn't feel like food.

3. Translate the following into idiomatic English.

۱. ددې سندرې ښې ایسي.
۲. ستا ساړه کيږي؟
۳. د لیلا د لور تبه ده.
٤. د پتنګ د ملګرو امریکایي ډوډۍ ښه نه ایسي.
٥. ستا زړه کېږي چه ما سره لاړ شې؟
٦. که دې ساړه کېږي، کړکۍ وتړه.
۷. نن مې سبق ته زړه نه کېږي.
۸. د ګلې هره نجلۍ ښه نه ایسي.
۹. د امان له جنګ نه بد راځي.
۱۰. د اسلم د پرې خور ډېره ښه ایسي.

4. Ask and answer questions on the following models:

۱. ستا مېلمستیا ښه ایسي؟

۲. هو! زما مېلمستیا ډېره ښه ایسي.

or

نه، زما مېلمستیا ښه نه ایسي.

۱. ستا زړه کېږي چه درس ولولې؟

۲. نه، زما زړه نه کېږي چه درس ولولم.

or

هو، زما زړه کېږي چه درس ولولم.

۱. ستا له امتحان نه ډېر بد راځي؟

۲. هو، زما له امتحان نه ډېر بد راځي.

or

نه، زما له امتحان نه ډېر بد نه راځي.

Section 3: Dialogue

د اسد پلار: د بری خپلو څه حال ؤ؟

د اسد ترور: د بری منخوی زوی، گلی، د شمی لورته لاس ور اچولی ؤ. د شمی زامن په گلی پسي گرځېدل چه و یې وژنی. خو گلی بغلان ته د خپلو تربرو کره تللی ؤ.

د اسد پلار: نو بیا څه وشول؟

د اسد ترور: د بری ورونه د شمی کره ننواتي ورغلل. خو شمی یې مخ ونه مانه او ور نه و یې غوښتل چه گلی، هرومرو، په لاس ورکړی.

د اسد پلار: د بری ورونو څه ځواب ورکړ؟

د اسد ترور: هغوی ورته ووېلې چه گلی ورك دی. څو ورځې وروسته بری خپله له دوو نورو زامنو سره د شمی کره ننواتي ورغی. خو د شمی زامنو د هغو مخ هم و نه مانه. یو څو ورځې وروسته بری خپله ښځه له څو تنو سپین ږیرو همسایگانو سره د شمی کره ور ولېږله. خو شمی د هغو مخ هم ونه مانه.

د اسد پلار: دا خو نو شمی ډېر بد کار کړی دی چه د سیاسرې مخ یې هم نه دی منلی. داسې ښکاری چه د شمی د زامنو مرداری ته زړه کیږی.

د اسد ترور: که رښتیا درته ووایم زما گلی هم ښه نه ایسی، او ډېر بد کار یې کړی دی. خو د شمی له سلوك نه مې هم ډېر بد راغله. زړه را ته ووېل چه بری ته ووایم نور مه پسې گرځه. د شمی څه چه د ټولو موسی خپلو لاس خلاص توره یې آزاده. خو حوصله مې وکړه.

د اسد پلار: نو بیا څه وشول؟

د اسد تره: کله چه زه دې خوا ته راتلم، بری غوښتل چه یو څو ورځې وروسته د پوزې صاحبزاده صاحب، ملا شکور اخوند او سید رسول پاچا له ځینو سپین ږیرو سره ننواتې ور ولیږي.

New Vocabulary

Nouns

household *M2* [khel] خېل

trouble, dirt *M3.* [mərdārí] مرداري

behavior *M2* [sulúk] سلوك

area [puzá] پوزه

People

[baray] بری

[gwəláy] گلی

[shamáy] شمی

[sāyəbzādá sāyəb] صاحبزاده صاحب

[mulā shukúr akhwánd] ملا شکور اخوند

[sayid rasúl pāchā] سید رسول پاچا

Adverbs, phrases, idioms

take hold of *phr.* [lās achaw-] لاس اچو-

accept *phr.* [mákh man-] مخ منـ-

woman *phr.* [syāsára] سیاسره

let alone *phr.* [nə ... tsə tse] نه ... څه چه

let (them) do what they will *phr.* [lās khlās tura azāda] لاس خلاص توره آزاده

have patience *phr.* [awselá kaw-] حوصله کو-

EDRS

Have You Understood?

1. Put the events in chronological order.

بری خپله ښځه د څو تنو همسایگانو سره د شمی کره ور ولېږله.
گلی د شمی لور ته لاس ور واچاؤ.
د اسد پلار بېرته کور ته راغی.
د بری ورونه د شمی کره ننواتې ورغلل.
د بری زامنو نه یې وغوښتل چه گلی دې شمی ته په لاس ورکړی.
د شمی زامن په گلی پسې گرځېدل.
بری له خپلو دوو نورو زامنو سره د شمی کره ننواتې ورغی.
بری د شمی د ښځې مخ هم ونه مانه.
بری غوښتل چه شمی ته مهم خلك ننواتې ور ولېږی.
گلی بغلان ته تللی ؤ.

2. Discuss whether Shamay's behavior is justified.

Section 4: Diversions

Khushal Khān Khattak on Pashtun Honor

په جهان د ننگیالی دی دا دوه کاره
یا به وخوری ککری یا به کامران شي.

The man of honor has these two duties in the world:
Either to lose his head or to be victorious.

کاشکي خوان د پښتانه په ننگ کي مړ وی
نه چه گور له روان شوي له تلتکه.

I wish you had died young in Pashtun honor
Rather than going to your grave from your bed.

د پښتون په ننگ مي وتړله توره
ننگیالی د زماني خوشحال ختك یم.

I have tied on my sword in Pashtun honor
I am Khushal Khattak, the man of honor for these times.

quilt *n, M2* [təltík] تلتك

time *n, M2* [zamā́n] زمان

victorious *adj I* [kāmrān] کامران

I wish *phr.* [kāshke] کاشکي

lose one's head *phr.* [kakaráy khwr-] ککری خور-

grave *n, M2* [gor] گور

man of honor *n, M3* [nangyaláy] ننگیالی

EDRS

Unit 27: جرگه

Section 1: Reading

کومه غونده چه پښتانه د خپلو جنجالونو د حل لپاره جوړوی هغې ته جرگه ویل کیږی. مثلاً که اسلم او سلیم له یو بل سره جنجال ولری او وغواړی چه په روغه یې حل کړی، دواړه خپل واك یو شمیر سپین ږیرو او مشرانو ته ورکوی چه جنجال یې حل کړی. دا سپین ږیری او مشران درېیمگړی وی او د مدعیانو د کورنۍ غړی یا خپلوان په کې نه وی.

پښتانه کله کله تر دې نه ـ
معمولاً په یوه قوم کې دننه او یا د بېلو بېلو قومونو تر منځ د لویو جگړو او دښمنیو د پای ته رسولو او د ځینو مهمو اجتماعی او اقتصادی مسایلو په باره کې د فیصلو په خاطر جوړیږی.

د جرگې جریان بېخي دیموکراتیك وی او غړی یې خپل عقاید او نظریات په کامله آزادۍ بیانوی. په پښتنو کې په سن کشران په عادی حالتونو کې نه یواځې مشرانو ته خبره نه ور غبر گوی، بلکه د مشرانو په مخکې په زغرده خبرې هم نه کوی. خو په جرگه کې کشران هم له مشرانو سره د عقیدې او نظر اختلاف په کامل جرئت بیانوی. د جرگې غړی انتخابی نمایندگان نه وی، بلکه داسې قومی او مذهبی مشران وی چه په خلکو کې په هوښیاری، پوهه او ښه سړیتوب مشهور وی.

ښایی چه جرگه د نظریاتو د اختلاف له امله څو ورځې دوام وکړی، خو کله چه فیصله وشوه او جرگې ومنله نو بیا ټول غړی مکلف دی چه ویې منی.

په افغانستان کې یو بل ډول جرگه هم شته چه سیاسی مشران او

یا حکومتونه یې دایروی. دې ډول جرگې ته لویه جرگه ویل کیږی.
کومې جرگې چه خپله د خلکو او قومی مشرانو په ابتکار جوړیږی
د هغو تاریخ ډېرو پخوا وختو ته رسیږی. خو کومې جرگې چه د
حکومتونو په ابتکار جوړې شوی دی د هغو تاریخ د شلمې پېړی
له سر نه وړاندې نه ځی. دغه راز لومړنی جرگه د افغانستان پاچا
امیرامان اله خان په کال ۱۹۲۲ کې په جلال آباد کې د افغانستان
د لومړنی اساسی قانون د څېړنې او تصویب د پاره جوړه کړه.
وروسته له دې نه یو زیات شمېر لویې جرگې جوړې شوی دی او له
اکثرو نه یې حکومتونو د خپلو پروگرامونو او هدفونود تر سره کولو
له پاره د یوې وسیلې په حیث استفاده کړې ده. له عنعنوی قومی
جرگو سره د لویو جرگو یو لوی فرق دا دی چه په لویو جرگو کې
یواځې پښتانه نه بلکه د افغانستان د ټولو قومونو نمایندگان، چه په
واقعیت کې د حکومت په خوښه ټاکل کېږی، شامل وی.

New Vocabulary

Nouns

dispute, problem *M2* [janjā́l] جنجال
solution *M2* [ĥal] حل
formal meeting *F1* [jərgá] جرگه
reconciliation *F1* [rógha] روغه
third party *M3* [dreyəmgə́ṛay] درېیمگړی
antagonist *M1* [modayí] مدعی
issues *M irreg.* [masāyə́l] مسایل
procedure *M2* [jiryā́n] جریان
beliefs *F1, Ar. pl.* [aqāyíd] عقاید
opinions *F1, Ar. pl.* [nazariyā́t] نظریات

freedom *F2* [azadí] آزادی
courage *M2* [zghard] زغرد
difference *M2* [ɪkhtilā́f] اختلاف
courage *M2* [jurʔát] جرئت
representative *M4* [namayɪndá] نماینده
knowledge *F1* [póha] پوهه
(good) character *M2* [saṛitób] سړیتوب
initiation *M2* [ɪbtikā́r] ابتکار
law *M2* [qānún] قانون
approval *M2* [taswíb] تصویب

EDRS

<u>Adjectives</u>
economic *4* [ɪqtɪsadí] اقتصادي
complete *1* [kāmə́l] کامل
democratic *1* [dimokrātík] ديموکراتيك
elected *4* [ɪntɪkhābí] انتخابي
obliged *1* [mokalə́f] مکلف
political *4* [siyasí] سياسي
primary *6* [lumranáy] لومړني
basic *4* [asāsí] اساسي

<u>Verbs</u>
solve *der. tr.* [ħalaw-́] حلو-
express *der. tr.* [bayanaw-́] بيانو-
challenge *der. tr.* [ghbargaw-] غبرگو-
convene *der. tr.* [dāyeraw-́] دايرو-
select *smp. tr.* [ṭāk-́] ټاک-

<u>Phrases</u>
authorize [wāk warkaw-́] واك ورکو-
young people [pə sə́n kəshrān] په سن کشران
normally [pə ādí halatúno ke] په عادي حالتونو کي
accomplish [tər sara kaw-́] تر سره کو-
actually [pə wāqiyát ke] په واقعيت کي

Have You Understood?

1. Give literal, then idiomatic, English equivalents for the following:

واك يو شمېر سپين ږيرو او مشرانو ته ورکول
پای ته رسول
خبره نه غبرگول
په زغرده خبري کول
سياسي مشر
پخوا وختو ته رسېدل
يواځي پښتانه نه بلکه د افغانستان د ټولو قومونو نمايندگان

2. Discuss: Is the traditional Pashtun *jirga* democratic, in the American sense of the word 'democratic'?

EDRS

Section 2: Conversation

تریسا: ستاسي په خپل کلی کي داسي کوم جنجال پېښ شوی چه جرګي حل کړی وي؟

امان: هو! زموږ خپل کلی کي هم بعضي دغه شان جنجالونه پېښ شوی دی. یو یي د ملك سیفو او د هغه د وراره تر منځ پیښ شو او هغه داسي چه ملك سیفو خپله لور، حفیظه، خپل وراره، حلیم، ته ورکړه. دحلیم او حفیظي له واده نه یو کال لا نه ؤ تېر چه مناسبات یي سره خراب شول. حفیظه د خپل مېړه له کوره ولاړه او د خپل پلار کره کښېناسته. د حلیم ماما، غفور، څو څو ځلي ملك سیفو ته وویل چه حفیظه بېرته د حلیم کره ولېږي، خو ملك سیفو چه ډېر موړ او په مټ ښه پوره ؤ، د غفور خبره وانه ورېده.

تریسا: حلیم خو هم د سیفو وراره ؤ. هغه زور او دولت نه لاره؟

امان: دولت یي لاره. خو ځرنګه چه د پلار یو زوی ؤ، د مټ زور یي نه لاره.

تریسا: ولي تربرونو یي ملا نه ور سره تړله؟

امان: نه، تربرونه یي هم د سیفو او د هغه د زامنو په خوا واوښتل.

تریسا: ښه ... نو بیا څه وشوو؟

امان: غفور څو ځله نور هم سیفو ته په کراره ووېلي چه حفیظه بېرته حلیم ته ورکړي، خو سیفو یي خبره وا نه ورېده. په پای کي خبره دښمنۍ او جګړي ته ورسېده او د سیفو زوی، عبدل، غفور، وواژه. سیفو او زامن یي څه موده بندیان او بیا خوشي شول.

تریسا: حلیم څه وکړل؟

امان: هغه څه ونه کړل. څو د غفور يوه وراره، اسمعيل، او د هغه ملګرو کاظم او محمد جان، د سيفو په يوه بل زوی، حبيب، ډزي وکړي او زخمی يي کړ. کومو کسانو چه په حبيب ډزي کړي وي هغو بنديان شول.

تريسا: څو کاله بنديان وو؟

امان: ګومان کوم چه دري کاله بنديان وو.

تريسا: کله چه بېرته خوشي شول بيا څه وشول؟

امان: بيا ټولو يوه جرګه را وغوښته او روغه يي وکړه. جرګي د غفور ورېره د سيفو لمسی ته ورکړه، د کاظم د تره لور يي د حبيب زوی ته ورکړه، د حبيب ورېره يي د غفور زوی ته ورکړه، او حفيظه يي بېرته د حليم کره ولېږله.

New Vocabulary

relationship *n, M irreg., pl.* [munāsɪbāt] مناسبات

he had a lot of support *phr.* [pə maṭ xə́ pura wə́] په مټ ښه پوره و

wealth *n, M2* [dawlát] دولت

prisoner *n, M1* [bandí] بندی

shoot at ... *phr.* [pə ... ḍáze kaw-́] په ... ډزي کو-

EDRS

Have You Understood?

1. Who is related to whom? Finish the following sentences along the lines of the example.

Ex: حفيظه د ملك سيفو لور وه.

۱. حليم ________________
۲. غفور ________________
۳. عبدل ________________
۴. اسمعيل ________________
۵. کاظم ________________
۶. محمد جان ________________
۷. حبيب ________________
۸. د حليم پلار ________________

2. Discussion questions:

د جرگې د فيصلو نه داسې ښکاری چه يوه خوا له بلې نه زياته ملامته وه؟

په دې کيسه کې تر تولونه بده پېښه کومه وه؟

3. Review the conversation in Unit 26. Convene a *jirga* and decide who is at fault and what should be done to end the matter.

EDRS

Section 3: Reading

[Excerpted from لويې جرگې, by Habibullah Rafi. pp. 32-41, *Qalam* , Vol 2, No. 5 (December-January 1987-88).

د افغانانو لويې جرگې په حساسو او اضطراري حالاتو او د درنو اجتماعي غوټو د راپيدا کېدلو په وخت کې جوړېدی.

د اتلسمې ميلادي پېړۍ په پيل کې چه د هېواد غربي سيمې د صفويانو په لاس کې وې، صفوي پا چا په ۱۷۰۲ ع کال د گرگين په نامه يو خونخور بيگلربيگي (حاکم) کندهار ته راواستاوه چه په خلکو يې بې ساری ظلمونه پيل کړل او د وحشت او دهشت دوره يې رامنځ ته کړه. دې حالت په آزادۍ مين افغانان خورول او هڅول يې چه يوه چاره يې وکړي. په دې کسانو کې ميرويس هوتك چه ظاهراً په تجارت بوخت ؤ د يوې اساسي چارې په فکر کې ؤ...

د ملی عنعنې له مخې يې په ۱۷۰۵ع کال کې د کندهار په «کوکران» کې د قومي مشرانو لويه جرگه راوبلله. د خپلو ټولو اقداماتو لنډيز يې ورته وړاندې کړ او ددوی نظر يې وغوښت. دوی ټولو په قرآن کريم سوگند پورته کړ چه ددې ظلم د ختمولو لپاره به له ده سره مله وي.

په ۱۷.۷ ع کال کې دوهمه لويه جرگه د همدې سوگند د عملي کولو له پاره د کندهار په «مانجه» کې جوړه شوه او ددې ظالم حاکم چه مصلحتاً مسلمان شوی ؤ او هم د صفوي واك د ختمولو پرېکړه يې وکړه، په پاخه تدبير يې گرگين له منځه يووړ. صفوي پاچا ته يې له افغانستان نه دده د لاس لنډېدلو خبر ورکړ او په غربي افغانستان کې يې د يوه خپلواك دولت په جوړولو لاس پورې کړ.

EDRS

New Vocabulary

Nouns

cruelty *M2* [zulúm] ظلم

savagery *M2* [wahshát] وحشت

terror *M2* [dahshát] د هشت

period *F1* [dawrá] دوره

business *M2* [tujārát] تجارت

tradition *F1* [ananá] عنعنه

measures *M2 Ar. Pl.* [iqdāmāt] اقدامات

outline *M2* [lanḍíz] لند يز

oath *M2* [sawgánd] سوگند

friend *M irreg., Obl.* [mlə] مله

rule *M2* [wāk] واك

state *M2* [dawlát] دولت

Verbs

send *smp. tr.* [astaw-́] استو-

bother *smp. tr.* [dzawraw-́] ځورو-

encourage *der. tr.* [hatsaw-́] هڅو-

bring an end to *der. tr.* [khatmaw-́] ختمو-

implement *der. tr.* [ameli kaw-́] عملی کو-

People

Persian dynasty n, M1 [safawí] صفوی

name [gorgín] گرگين

title [biglər begí] بيگلربيگی

name [mirwais hoták] ميرويس هوتك

Places

[hewā́d] هيواد

[kokarā́n] کوکران

n, F1 [mānjá] مانجه

Adjectives

crucial *1* [hasā́s] حساس

emergency *4* [izterārí] اضطراری

difficult *1* [drund] درروند

Christian *4* [isawí] (abbr.) ع

bloodthirsty *1* [khunkhór] خونخور

unprecendented *4* [besārí] بي ساری

busy *1* [bókht] بوخت

cruel *1* [zā́ləm] ظالم

Adverbs, phrases and idioms

bring to the middle *phr.* [rāmandz ta kaw-́] رامنځ ته کو-

freedom-loving *phr.* [pə azadáy mayán] په آزادی مين

apparently *adv.* [zahéran] ظاهراً

on the holy Koran *phr.* [pə quráne karím] په قرآن کريم

conveniently *adv.* [maslahátan] مصلحتاً

with practiced expertise *phr.* [pə pakhá tadbír] په پاخه تدبير

shortening of his hand [de lā́s lanḍedə́l] د لاس لنډېدل

EDRS

Have You Understood?

1. Answer the following questions:

۱. د پښتنو په تاريخ کې تر ټولو نه پخوانۍ جرگه کومه جرگه ده؟
۲. د افغانستان لومړنۍ لويه جرگه ولې جوړه شوه؟
۳. گرگين څه وخت د کندهار حاکم ؤ؟
٤. د پښتنو مشران کوکران ته چا ور وبلل؟
٥. لومړنۍ لويې جرگې څه فيصله وکړه؟
٦. د پښتنو په تاريخ کې دوهمه لويه جرگه څه وخت جوړه شوه؟
٧. وروسته له دوهمې لويې جرگې نه گرگين ته څه ور پېښ شول؟
٨. وروسته له دوهمې لويې جرگې نه صفوی پاچا ته څه خبر ور ولېږل شو؟

2. Give literal, then idiomatic English translations for the following phrases:

۱. د اتلسمې ميلادی پېړۍ په پيل کې
۲. د صفويانو په لاس کې
۳. د گرگين په نامه يو حاکم
٤. رامنځ ته کول
٥. په تجارت بوخت ؤ
٦. د ملی عنعنې له مخې
٧. ورته وړاندې کول
٨. سوگند پوره کول
٩. له ده سره مله کېدل
١٠. له منځه وړل

Section 4: Diversions

لنډۍ:

جانان مې ګل له لاسه نه اخلی
د اسمان ستوری به جرګه ورته لېږمه

lover *n, M1* [jānā́n] جانان

star *n, M3* [stóray] ستوری

خوشحال خان خټک:

یا تکیه د یوه خدای ده یا د توری
په جرګو مرګو نه شی کار تمام

In prose:

تکیه یا دیوه خدای یا د توری ده. کار په جرګو مرکونه تمامیږی.

the One God *phr.* [yawə khwdā́y] یوه خدای

meeting *n, F1* [maraká] مرکه

completed *adj 1* [tamā́m] تمام

Unit 28: جړ وربل

Section 1: The Story Begins

د سهار رڼا ښایسته خپره شوې ده. سوړ باد روان دی. زه د خپلې کوټې بام ته د واورې د توږلو له پاره ختلی یم. خو څرنګه چه د هلکتوب شپې ورځې دي نو د واورې د پیندو د غورځولو سره سم کله کله خپلې شاوخوا ته هم سترګې اړوم.

د بېګا شپې بادکوټې لارې بندې کړې دي. په کوڅو کې څوک نه ښکاري. یوازې ملا بانګی له کاله نه وتلی او په ځاپو ځاپو د ماجت خوا ته روان دی. رسول کاکا زموږ نږدې ګاوندی خپلې څو کلنې جرابې چه له زړښت نه غار غار او بیا په ډول ډول ټوکرانو پیوند شوې دي، اغوندی. د خامتا د پرتاګه پایڅې تینګې پکې نغاړی او په یوه شلېدلی پرتوګاښ یې دپاسه تړی.

هغه زړه ریتاره چه ښایي یو وخت به د کاکا پټکي ؤ را اخلی او د ملا وستنی په توګه یې تر ملا پیچی. د واسکټ څنډې کلکې کلکې پکې را اړوی. د پټکی یوه خوا، چه اوږده شمله یې بولی، پر سر خپروی او له بلې خوا یې ورو ورو په کوپړې پورې پېچی. له څټ نه تر وروځو پورې ټوله ککری پکې تاووی. تیمبوزکه وهی او غوجل ته ورننوځی. خپله خره خره له غوجل نه را باسی او کته کوی یې.

د لرګیو بار چه برابې ماښام یې تړلی دی، د کندوالې دیوال ته دروی او سپوږمېږ ته غږ ور کوی.

EDRS

New Vocabulary

Nouns

roof *M2* [bām] بام
boyhood *M2* [aləktób] هلکتوب
shovelful *F1* [pindá] پینده
blizzard *F1* [bādkoyá] بادکویه
neighbor *M3* [gāwandáy] گاوندی
sock *F1* [jirāba] جرابه
age, antiquity *M2* [zaṛə́xt] زړښت
hole *M2* [ghār] غار
heavy cotton fabric F3 [khamtā] خمتا
pantleg *F1* [pāytsə́] پایڅه
drawstring *M2* [partugāx] پړتوګاښ
strip of cloth *F1* [ritāṛa] ریتاړه
sash *M3* [mlāwastə́nay] ملاوستنی
edge *F1* [tsə́nda] څنډه
tail of turban *F1* [shámla] شمله
head *F2* [kopṛə́y] کوپړۍ
nape of the neck *M2* [tsəṭ] څټ
eyebrow *F1* [wrúdza] وروځه
skull *F2* [kakarə́y] ککرۍ
donkey saddle *F1* [káta] کته
firewood *M3* [largáy] لرګی
load *M2* [bār] بار
roofless shack *F1* [kandwālá] کندواله

Verbs

spread *der. int.* [khparég-] خپرېږ-
shovel *smp. tr.* [tog-́] توږ-
cast *smp. tr.* [aṛaw-́] اړو-
be patched *der. int.* [paywandég-] پیوندېږ-
tuck in *smp. tr.* [nghāṛ-́] نغاړ-
fray *smp. int.* [shkeg-́] شکېږ-
wrap *smp. tr.* [pech-́] پېچ-
is called *smp. int.* [bol-́] بول-
wrap *der. tr.* [tāwaw-́] تاوو-

Names

Mullah Bangi [mulā bangí] ملا بانګی
Rasul Kaka [rasúl kākā] رسول کاکا
Spogmay *girl's name* [spogmáy] سپوږمۍ

Adjective

grey *I* [khəṛ] خړ

Adverbs, Phrases, Idioms

while *phr.* [sara sám] سره سم

picking his way *phr.* [pə tsāpó tsāpó] په ځاپو ځاپو

however-many-year-old *phr.* [tso kalə́ne] څو کلني

tightly *adv.* [ṭing] ټينګ

over *phr.* [de pāsa] دپاسه

as *phr.* [pə tóga] په توګه

muffle one's face *phr.* [tembuzáka wah-́] - تيمبوزکه وهـ

last night *adv.* [barāyí] برايي

Have You Understood?

1. Describe the people the narrator has seen so far.

2. Sketch the kalā, placing the writer, Rasul Kaka, and the various structures mentioned.

3. Answer the following questions.

۱. ليکوال ولی بام ته ختلی ؤ؟
۲. ليکوال هلك ؤ که نجلۍ؟
۳. هوا څنګه وه؟
٤. د رسول کاکا جامې د هغه ژوند څنګه ښيي؟
٥. ليکوال رسول کاکا څه پېژني؟

4. Speculate:

۱. رسول کاکا ولې ځان دومره پټوي؟
۲. رسول کاکا په خره باندې څه کوي؟
۳. سپوږمۍ څوك ده؟
٤. ليکوال څو کلن دی؟

Section 2: The Story Continues

سپوږمۍ چه ښه ترته پيغله او د کاکا ايکۍ يوه لور ده، په منده له کوټې نه راوځي. نږدې لوڅه لپړه ده. سرې او سپينې پړونۍ يې له تنکيو متو سره له ورايه ښکارېږي. ځای ځای يې پاسته ورنونه او د گرديو تيو څنگونه هم تر هغې مردارې خولۍ لاندې چه د کميسه په نامه يې اغوستې ده، داسې بريښي لکه د پاغوندې غوزې چه نوې خپله خوله پرانستلې او تازه پاغونده ور نه را وتلې وي.

تيکرۍ نه لري. لوڅ سر راځي او د کاکا تر څنگ درېږي. ول ول او جړ وربل يې په مخ خپور شوی دی.

د لرگيو د بار يوې خوا ته د لښتې په شان ور کږېږي او په خپلو نريو منگلو يې ټينگ نيسي. اوش! وايي او بار له خپل سپين گيری پلار سره اوږه په اوږه خرې ته پورته کوي. د بار له پورته کولو سره يې د ژمي سوړ باد په مخ لگېږي او ول ول وربل يې يو خوا بل خوا اړوي.

د پنځلسم سپوږمۍ ته ورته څېره يې گرده را څرگندېږي. اما څه ډير مهال هسې نه پاتې کېږي، بلکه وربل بيا ځان غورځوي او ور باندې خپرېږي. مگر نه پوهېږم چه د رخې له مخې او که د مينې!

کاکا ډېل زوړ څادر د چوترې له څنډې څخه را اخلي او په اوږو يې اچوي. سپوږمۍ د کلا ور چه بادارانو يې د خپل ځان او مال د ساتنې له پاره ډېر کلك جوړ کړی دی، په تکليف بېرته کوي او کاکا له خرې سره ور نه وځي.

روانېږي او غواړي بازار ته ولاړ شي، ځکه که لرگي خرڅ نه کړي د خپلو ماشومانو د شپې د شومې له پاره به هك اريان ناست وي.

EDRS

سپوږمۍ په کاکا پسي ګوري او د اوښکو دوه دانه څاڅکي
يې د باړخوګانو له پاسه را روانيږي، داسي لکه پرخه چه د
ګلاب په مخ پريوتلي او بيا په حرکت راغلي وي.

نه پوهيږم چه سپوږمۍ د خپل سپين ږيږي پلار کړوپه ملا، نري
ځادر، شکيدلي جامې، زړې څپلۍ او له واورو نه ډکې کوڅې وينې
ژړا ورځي او که يې هسې د سيلۍ له شدت نه د سترګو اوبه رابهيږي.

ور واز پريږدی او بېرته د تناره د کوټې خوا ته خوځيږي.
مګر کوټې ته يوازې نه ورننوزي، بلکه زما خيال هم ور سره
ملګرى کيږي او ددغې شامتي پيغلي حال داسې راته ترسيموي.

New Vocabulary

Nouns

breast *M3* [tay] تی

side *M2* [tsang] څنګ

patched cloth *F1* [dzóla] ځوله

cotton *F1* [pāghundá] پاغونده

cotton boll *F1* [ghozá] غوزه

curl *M irreg.* [wal] ول

hair growing around one's face *M2* [worbál] اوربل

twig, sapling, green branch *F1* [láxta] لښته

grip *F1 - [a]* [mangwál] منګول

face, countenance *F1* [tserá] څېره

time *M2* [mahāl] مهال

jealousy *F1* [rákha] رخه

porch *F1* [chotrá] چوتره

door *M irreg.* [war] ور

landlord *M1* [bādār] بادار

preservation *F1* [sātána] ساتنه

meal *F1* [shúma] شومه

tear *F1* [wóxka] اوښکه

drop *M3* [tsātskay] څاڅکی

dew *F1* [párkha] پرخه

rose *M2* [gwalāb] ګلاب

movement *M2* [harakát] حرکت

wind *F2* [seléy] سيلۍ

force *M2* [shɪdát] شدت

oven *M irreg. OSg.* [tanārá] تناره

imagination *M2* [khyāl] خيال

EDRS

Adjectives

strong *4* [traṭá] ترټه

delicate *6* [tankáy] تنکی

soft *irreg. MDP1* [pāstá] پسته

round *6* [gərdáy] گردی

dirty *1* [mərdār] مردار

tousled *1* [jaṛ] جړ

thin *6* [naráy] نری

bent *1* [kṛup] کړوپ

open *1* [wāz] واز

unfortunate *4* [shamatí] شامتی

Verbs

resemble *smp. tr.* [brex-] - بربښ

open *dbl. irreg. Prt.* [pranəstə́ie-] - پرانستلی

bend toward *der. int.* [kagég-] - کږیږ

lift *der. tr.* [porta kaw-] - پورته کو

appear *der. int.* [tsargandég-] - څرگندیږ

flow *smp. int.* [bayég-] - بهیږ

picture *der. tr.* [tarsimaw-] - ترسیمو

Adverbs, Phrases

only *phr.* [yéki yawa] یکی یوه

inadequately dressed *phr.* [lútsa lapəṛa] لوڅه لپړه

clearly, from far off *phr.* [lə wrāya] له ورایه

bareheaded *phr.* [lúts sar] لوڅ سر

full moon *phr.* [de pindzəlasə́m spogmáy] د پنځلسم سپوږمۍ

completely *adv.* [gə́rda] گرده

helpless *phr.* [hak aryān] هك اریان

start to cry *phr.* [zaṛā wardz-]- ژړا ورځ

accompany *phr.* [məlgəray kég-] - ملگری کېږ

Have You Understood?

1. Revise your sketch of the kalā, incorporating the additional architectural details given in this section of the story.

2. Revise your answers to the speculations in Section 2.

3. Answer the questions.

۱. سپوږمۍ د کلا ور ولې نشي خلاصولی؟
۲. سپوږمۍ ټېکرې ولې نه ږ اغوستې؟
۳. رسول کاکا چېرته ولاړ؟
٤. د ليکوال په فکر، سپوږمۍ ببرته د تناره کوټې ته يواځې لاړه؟
٥. ليکوال د سپوږمۍ ټول مخ څنګه وليده؟

Section 3: The Story Concludes

دا د تناره په نږدې سره غاړه ټوغه موغه کښېني. د لاسونو نرۍ ګوتې چه له دېر يخ نه نه سره ورځې تر خپلو پستو ورنونو لاندې د تناره په ژۍ ږدي.

رېږدي او له رېږديدلو او د ژامو له خوځېدلو سره يې پوځې ته ورته غومبورې هم په رپا راځي. د فکر په ټال کې سپرېږي زانګي او وروسته د يوه ساړه اسويلي له ايستلو نه يې دا خبرې په دماغ کې ګرځي.

خاونده! مونږ هم ستا بندګان يو. تا پيدا کړي يو او ستا د مځکې په سر ژوند کوو.

زما دا سپين ږيرې پلار به تر څو په يخ ژمي، سپينو واورو، سره سيلۍ او بندو لارو کې د يوې ګېډې سوکړک د پېدا کولو له پاره په خپله ډنګره خره پسې بازار ته روان وي!

تر څو به زمونږ د هيلو په تياره آسمان کې د نيک مرغۍ يو تت ستورې هم نه ځليږي!

EDRS

د زماني څپېړي ولې د بيوزلو له مخونو نه د بل چا پر مخ هيڅکله نه لګېږي!

آيا دا خبره رښتيا ده چه ډېره د يتيم له سره نه چپېږي؟
که دا خبره حقيقت وي او غوړي په غوړيو توئيږي نو
بيا زه هم څه نه وايم. خو که خبره په کار وي نو مونږ
هم له چا نه وروسته نه پاتې کېږو.

څکه زه وايم آيا هغه تودې توه خانې چه زمونږ بادار بازګل خان له خپل بګاره سره د خوښۍ شپې پکې تېروي، زما پلار او هغو پرديسو ورونو نه دي جوړې کړي په چه د يوې مړۍ ډوډۍ د پېدا کولو له پاره پرديو ملکونو ته تللي دي!

آيا هغه پسونه چه په دې شپو کې يې د غوښو کتو هره ورځ د بازګل خان په نغري بار او په خوتهار وي د دوبۍ په سرو غرمو او د منى په يخو بادونو کې ما نه دي پوولي!

آيا هغه غلې او دانې چه د بازګل خان کهول چرچې پرې کوي، ټولې زما ورونو او پلار د خپل زړه په وينو نه دي رسولي!

آيا...

په دې فکر کې تر ستونى ډوب وم چه ناڅاپه د کاکا د خرې کوټې په خپلې مور پسې وهنګل او زما د تفکر سلسله يې وشکوله. ټکان مې وخوړ او له ځان سره مې وويل:

ياره رښتيا چه زه هم کله کله ماليخوليا او سودايي سم. که نه وي نو چېرته سپوږمۍ او چېرته دا د تفکر طرز!

EDRS

دا مې وویل او د واورې په توږلو لګیا سوم. وروسته د څو درنو درنو پیندو له غورځولو نه مې بیا راشپېل په واورو کې ننبغ کړ او د ښار لارې ته په کاکا پسې خیر شوم.

کاکا نه ښکارېده خو له کلي نه بهر په هغه ډاګ کې چه د ښار د لارې په سر پروت ؤ، یو تور شی ځای په ځای خوځېده. داسې لکه چه کوم بار خر چه په واوره کې لوېدلی او خاوند بیوزله یې په یوازې ځان اوچتولو ته ارم شوی وی.

New Vocabulary

Nouns

edge *F2* [zəy] ژی

jaw *F1* [zā̆ma] ژامه

cheese *F1* [pótsa] پوڅه

lower cheek *M3* [ghumbúray] غومبوری

quivering *F3* [rapā̆] رپا

sigh *M3* [awseláy] اوسیلی

mind *M2* [damā̆gh] دماغ

child *M4* [bandá] بنده

stomach *F1* [géḍa] ګېډه

cornbread *M2* [sokṛák] سوکړك

good fortune *F2* [nekmarghí] نېکمرغی

stone *F1* [ḍabára] ډبره

heated room *F1* [tawakhānā́] تاوه خانه

man's name [bāzgwəl khā̆n] بازګل خان

family *M2* [bagā̆ṛ] بګاړ

morsel, mouthful *F2* [maṛáy] مړی

clay pot *F1 - [a]* [kaṭáw] کټو

burner *M3* [ngharáy] نغری

summer *M3* [dóbay] دوبی

family *M2* [kahól] کهول

throat *M3.* [stúnay] ستونی

baby donkey *M3.* [kúṭay] کوټی

chain *F1* [səlsəlá] سلسله

shovel *M2* [rāshpél] راشپېل

EDRS

Verbs

shiver *smp. int.* [regdég-] - رېږد يد

create *der. tr.* [paydā kaw-́] - پيدا کو

shine *smp. int.* [dzalég-] - ځلېږ

miss *der. tr.* [chapég-] - چپېږ

drop *der. tr.* [toyég-] - توئېږ

pasture *smp. tr.* [pow-́] - پو

stick *der. tr.* [neghaw-́] - نښغو

look for *der. int.* [dziróg-] - څيرېږ

move *smp. int.* [khwadzég-] - خوځېږ

prop up *der. tr.* [wuchataw-́] - اوچتو

struggle *der. int.* [aṛamég-] - اړمېږ

Adverbs, Phrases

almost *phr.* [pə nizdé] په نژدی

huddled *phr.* [ṭúgha mugha] ټوغه موغه

how long? *phr.* [tər tsó] ترڅو

depends on work *phr.* [pə kār wi] په کار وی

be no worse than others *phr.* [lə chā na wrústa nə pāte keg-]
له چا نه وروسته نپاتي کېږ-

at a boil *phr.* [pə khuṭahār] په خوټهار

enjoy, savor *phr.* [charché pe kaw-́] - چرچی پري کو

suddenly *adv.* [nātsāpa] ناڅاپه

I was startled *phr.* [ṭakān me wəkhúṛ] ټکان مي وخوړ

way of thinking *phr.* [de tafakúr tarz] د تفکر طرز

in the same place, stationary *phr.* [dzāy pə dzāy] ځای په ځای

Adjectives

skinny *irreg.* [ḍangár] ډنگر

dim *1* [tat] تت

poor, solitary *4* [bewázla] بېوزله

foreign *1* [pardés] پرديس

sitting, loaded *4* [bār] بار

immersed *1* [ḍub] ډوب

melancholy *4* [mālikhulyā] ماليخوليا

obsessive *4* [sawdāyí] سودايی

occupied, busy *4* [lagyā] لگيا

Preposition

under [tər ... lānde] تر ... لاندي

Have You Understood?

1. Do a final sketch of the kalā (add the relevant portion of land outside the kalā as well), incorporating details from the conclusion of the story.

2. Answer the following questions.

١. د ليکوال په فکر، سپوږمۍ د تناره کوټې ته له تللو نه وروسته څه وکړل؟

٢. د ليکوال د فکر سلسله څه شی وشکوله؟

٣. کوټې ولې وهنګل؟

٤. ليکوال له خان سره څه وويل؟

٥. ليکوال وروسته د درندو پښندو له توږلو نه څه وکړل؟

٦. رسول کاکا ته څه ورپېښ شول؟

3. Discussion questions:

a. The author of the story had three purposes in mind in writing it. What do you think they were?

b. Why do you think the writer was taken with the glimpse of Spogmay?

c. What was the central theme of all Spogmay's questions?

d. The narrator surmises that Spogmay is not capable of the thoughts he has ascribed to her - - but he has such capability, although the girl is probably older than he. On what basis do you think he concludes that Spogmay is less capable than he of such thoughts?

EDRS

Section 4: Diversions

هوښيار خر

يو زميندار ؤ. د هغه يو خر ؤ او يو غويي. په خره به يي سره چلوله او په غويي به يي قلبه كوله. يوه ورځ خره غويي ته وويل چه وروره! ته خو له ارام سره ژوند تېروې او زه خو په كاركولو مړ شوم. داسې څه لار راته جوړه كړه چه زه هم ارام وكړم.
خره ورته وويل چه ځان بيمار كړه. مه څه خوره او مه څه څكه.
مالك به پخپله پوه شي چه ته بيمار يې. او داسې به ارام وكړې.

زميندار چه ددوى دواړو خبرې واورېدې نو زړه كې يي وويل چه خره ته به د هغه د چالاكۍ سزار ضرور وركوم. په بله ورځ چه زميندار غويي ته راغى نو غويي بيمار پروت ؤ. زميندار زر خر پرانسته او د كار لپاره يي بوته. توله ورځ يي پرې ښه قولبه وكړه چه ماښام خر واپس راغى نو غويي دده ډېره شكريه ادا كړه چه ستا په وجه مې نن ډېره دمه وكړه. خو خره ورته هيڅ جواب ورنكړ. ولى چه د خره هډ هډ درد كاوه او سوچ يي كاوه كه چېرې غويي همدغسې بيا ځان بيمار كړى نو سبا مې بيا خير نشته.

نو بيا خره غويي ته وويل چه اشنا سبا دې څه خيال دى؟

غويي ورته وويل چه سبا به بيا ځان بيمار كړم چه ښه دمه شم.

خره ورته وويل چه پام كوه چه ځان بيمار نكړې ولې چه مالك د هغه برې كندې قصاب سره لګياؤ چه سهار له چرې سره راشي.
كه چېرى غويي همدغسې ناروغ وى نو بيا يي حلال كړه.

چه غويي دا خبره واورېده نو ډېر سخت ووېرېده: چه سهار څنګه مالك راغى نو غويي روغ رمټ ورته ولاړ ؤ.

مالك د خره په چالاکۍ دېر وخندل او بيا يې غويي د کاروبار لپاره بوته. خره توبه وويسته چه آينده دپاره به چا ته مشوره نه ورکوم.

ليکوال: سيدمستان شاه غمگين

Nouns

fertilizer *n, F1* [séra] سره

plowing *n, F1* [qolbá] قلبه

relaxation, comfort *n, M2* [ārām] ارام

trickiness *n, F2* [chālākí] چالاکي

bone *n, M2* [haḍ] هډ

friend *n, M1* [ashnā] اشنا

Kanda, *place* . *n, F1* [kánda] کنده

butcher *n, M1* [kasāb] قصاب

knife *n, F1* [chāṛé] چاړه

business as usual *n, M2* [kārobār] کاروبار

Verbs

take care *der tr. vb.* [pām kaw-] پام کو-

be afraid *smp. int. vb.* [werég-] وېرېږ-

Adjectives

sick *adj 1* [bemār] بيمار

upper *adj 1* [bar] بر

Conjunctions

because *conj.* [wále tse] ولی چه

if *conj.* [kachére] که چېري

Adverbs, phrases

for sure *adv.* [zarúr] ضرور

quick, soon *adv.* [zər] ژر

back *adv.* [wāpás] واپس

thank *phr.* [shukriya ādā kaw-] شکريه ادا کو-

thanks to (you) *phr.* [pə wája] په وجه

think *phr.* [soch kaw-] سوچ کو-

perfectly well *phr.* [rogh ramáṭ] روغ رمټ

resolve *phr.* [toba bas-] توبه باس-

in the future *phr.* [ayindá de pāra] آينده دپاره

EDRS

ثانوي پښتو

Intermediate Pashto

د درسي کتاب ضميمه

Workbook

Revised Edition

Center for Applied Linguistics

EDRS

ثانوی پښتو
Intermediate Pashto

د درسي کتاب ضميمه
Workbook
Revised Edition

Habibullah Tegey
Barbara Robson

Center for Applied Linguistics
Washington, D.C.
1993

EDRS

CAL Pashto Materials Overview 1993

Over the last six years, the Center for Applied Linguistics (CAL) has developed a set of materials to teach the Pashto language to English speakers: *Beginning Pashto* and *Intermediate Pashto* introduce students to the spoken and written language; the *Pashto Reader* provides extensive exposure to authentic Pashto written materials. *Pashto Conversation* is a set of taped lessons, correlating with the units of *Beginning* and *Intermediate Pashto*. The *Pashto-English Glossary for the CAL Pashto Materials* is a glossary of all the words that appear in the components listed above.

The language taught in the materials is Afghan Pashto, in particular the standard central dialect spoken in Kabul and used in the official media. The materials have been proof-read and field-tested by Kandahari Pashtuns; the words and phrases in them are familiar to speakers of the Kandahari dialect as well. In *Pashto Conversation*, there are several exercises contrasting the Kabuli and Kandahari (and Peshawari, as well) dialects, to give students more experience with the major dialects.

Beginning Pashto and *Intermediate Pashto* constitute a set of materials teaching oral and written Pashto. Each of the twenty-eight units (fourteen per book) provides about ten hours of class work, and therefore should be sufficient for four semesters of academic language training (three hours a week in class, with possibly two hours of lab or practice), or about ten weeks in an intensive course (six hours a day in class, five days a week) The materials are designed to bring an English-speaking student to a 2+ or 3 on the ILR proficiency scale, or an Advanced on the ACTFL proficiency scale; all the grammatical structures of Pashto are presented, along with about 2,500 words.

The Pashto writing system is taught in the first unit of *Beginning Pashto*, and is used in the presentation of material from then on. In the first three units, material is also in a romanized transcription. After that, the transcription of a word or phrase is given only when the word or phrase is introduced, or when pronunciation is the focus.

Beginning and *Intermediate Pashto* teach the language via dialogues and readings on various topics (e.g. food, shopping, weather, family, etc.), with accompanying presentations on grammar and vocabulary, and exercises for oral practice and conversation Each unit contains a Diversion - a proverb, poem or story - intended to amuse the student, and to provide him or her with a glimpse of Pashto folk literature.

The dialogues revolve around the activities of a group of Pashtuns and Americans at an American university, so that the American student is provided with language and vocabulary of immediate usefulness. The readings for the most part describe Pashtun life and customs in Afghanistan, and are related to the topic in the corresponding dialogue The dialogues and readings in *Intermediate Pashto* continue along the same general format, but the focus of attention shifts to Afghanistan, and to more detailed study of Pashtun culture and Afghan history

The Workbooks, which are mostly in English, provide background information on points in the dialogues and readings, discussion of grammar points, and information on

individual vocabulary items. Each unit in the Workbooks contains a number of exercises providing additional practice on the points covered in the Textbook. There are listening exercises in the *Beginning Pashto* workbook which require the student to listen to a prompt, then respond in some way.

The Teachers' Manuals, in Pashto, are written for the educated native speaker of Pashto who might not have a background in language teaching or an extensive background in Pashto grammar. It explains the presentation of grammar points, and gives other information of use to the teacher. At the end of each unit, the prompts for the listening exercises in the Workbooks are given for the teacher's convenience.

The Text Tapescript and Workbook Tapescript for *Beginning Pashto* have been developed for students who do not have regular access to a native speaker of the language. They provide the means for such students to identify a Pashto speaker, then make arrangements with him or her to tape the important parts of the Textbook and the listening exercises in the Workbook. The tapescripts are not necessary in situations where there is a Pashto-speaking teacher.

Pashto Conversation contains fourteen lessons - each lesson corresponding to two units of *Beginning/Intermediate Pashto* - which provide additional speaking and listening practice on the material contained in the units, as well as exposure to different dialects. The lessons have been recorded - there is a set of cassettes at the Center for the Advancement of Language Learning (tel: (703) 312-5040; Fax: (703) 528-4823) and another at the Center for Applied Linguistics (see numbers below).

The *Pashto Reader* presents selections of modern written Pashto, with extensive notes and guides to comprehension. Six different genres are exemplified: essays, articles, stories, poetry, "public" Pashto (street signs, ads, etc.), and "fractured" Pashto (published Pashto written by non-native speakers). *Pashto Reader: Originals* presents the passages of the *Reader* in computer scans of their originals, to provide the student with practice in dealing with Pashto as it actually appears: handwritten, without conventional spacing between words, etc. *Pashto Reader: Passages in Transcription* presents the passages in the roman transcription used to represent pronunciation throughout the series; it is intended for the linguist interested in the Pashto language but not necessarily the writing system.

The *Glossary for the CAL Pashto Materials* contains, in dictionary form, all the words taught in the materials - about 5,000 entries. Each entry includes a word or phrase's Pashto spelling, a transcription of pronunciation, English equivalents or explanations, and grammatical information.

All these materials are in the public domain, and copies may be made of them as needed. Each component is listed in the ERIC system with a separate number, and has been designed on the assumption that a single hard copy will be bought from ERIC, then copied and bound. Each component accordingly has a cover page, which should be copied onto heavy paper (a different color for each component makes it easier to identify). The

title page and rest of the component can be copied as usual, then bound with the cover page and a back cover. We have found that comb-binding (available at most copy centers) is best, because it allows the "book" to lie flat. To facilitate copy-making, every page of the materials has been numbered and labelled in English, in headers like the following:

Beginning Pashto Unit 12: ملا بي زوبله ده Teachers' Manual 82

Some of the components in the ERIC system are now obsolete. Here is a list of everything that has been deposited in the system, along with identifying number (where possible). The items marked with asterisks (***) are obsolete.

***Beginning Pashto: Textbook	ED 323 763
Beginning Pashto: Textbook Tapescript	ED 323 764
***Beginning Pashto: Workbook	ED 323 765
Beginning Pashto: Workbook Tapescript	ED 323 766
Beginning Pashto: Teachers' Manual	ED 323 767
***Beginning Pashto: Glossary	ED 323 768
***Intermediate Pashto: Textbook	ED 338 074
***Intermediate Pashto: Glossary	ED 338 075
Intermediate Pashto: Teachers' Manual	ED 338 076
***Intermediate Pashto: Workbook	ED 338 077
Pashto Reader	ED 353 815
Pashto Reader: Transcriptions	ED 353 814
Pashto Reader: Originals	ED 353 813
Beginning Pashto: Textbook, Rev. Ed.	(number not assigned yet)
Beginning Pashto: Workbook, Rev. Ed.	(number not assigned yet)
Intermediate Pashto: Textbook, Rev. Ed.	(number not assigned yet)
Intermediate Pashto: Workbook, Rev. Ed.	(number not assigned yet)
Pashto Conversation: Tapescript	(number not assigned yet)
Pashto Conversation: Manual	(number not assigned yet)
Glossary for the CAL Pashto Materials	(number not assigned yet)

In the revised editions of the textbooks and workbooks for *Beginning* and *Intermediate Pashto*, we have corrected misprints, recast some of the grammar material, and (we hope) made some of the explanations easier to understand.

If you have any problems or questions about getting the materials, please contact ERIC /CLL, at the Center for Applied Linguistics in Washington, D.C. (tel: (202) 429-9292; fax: (202) 659-5641). If you have any questions about the content of the materials, please contact the authors: Barbara Robson at the Center for Applied Linguistics, or Habibullah Tegey in the Pashto Service, Voice of America, in Washington D.C.

Table of Contents

Introduction vii

Introduction to Revised Edition viii

Unit 15: واده ته نه یم تللي

Preview to Section 1: Dialogue 1
Preview to Section 2: Perfective Participles 4
Preview to Section 3: Reading 5
Preview to Section 4: Diversions 6
Exercises 7
Answers 11

Unit 16: نجلۍ چه پېغله شوه ...

Preview to Section 1: Reading 13
Preview to Section 2: Relative Clauses in Pashto 14
Preview to Section 3: Dialogue 15
Preview to Section 4: Diversions 16
Exercises 17
Answers 23

Unit 17: تیارولی یې شم.

Preview to Section 1: Dialogue 26
Preview to Section 2: The Imperfective Participle 28
Preview to Section 3: 'Can' Phrases in Pashto 28
Preview to Section 4: Reading 28
Preview to Section 5: Diversions 30
Exercises 31
Answers 35

Unit 18: ستاسي خوښه چه هر څه کوی.

Preview to Section 1: Dialogue 37
Preview to Section 2: Clauses with چه 38
Preview to Section 3: Reading 38
Preview to Section 4: Diversions 39
Exercises 40
Answers 45

EDRS

Unit 19: جوار يي له غنمو نه ښه وی.

Preview to Section 1: Dialogue 48
Preview to Section 2: Comparisons 49
Preview to Section 3: Reading 49
Preview to Section 4: Diversions 50
Exercises 51
Answers 56

Unit 20: که بارانونه وشول، للمی به وکړو.

Preview to Section 1: Dialogue 58
Preview to Section 2: Conditional Statements....................58
Preview to Section 3: Reading....................59
Preview to Section 4: Diversions 59
Exercises 60
Answers 66

Unit 21: که زه ستا په ځای وی...

Preview to Section 1: Dialogue 68
Preview to Section 2: Relatives....................69
Preview to Section 3: Unreal Conditions 70
Preview to Section 4: Reading 70
Preview to Section 5: Diversions 72
Exercises 73
Answers 76

Unit 22: که ته نه وی زه نه ورتللم.

Preview to Section 1: Dialogue....................78
Preview to Section 2: Genealogies of the Major Pashtun Tribes 78
Preview to Section 3: Present Unreal Conditions....................80
Preview to Section 4: Reading....................81
Preview to Section 5: Diversions 82
Exercises 83
Answers 89

Unit 23: ستا پلار خو به کوچی نه ؤ؟

Preview to Section 1: Dialogue.................... 92
Preview to Section 2: Reading A....................92
Preview to Section 3: Reading B....................94
Preview to Section 4: Diversions....................94
Exercises 95
Answers....................100

EDRS

Unit 24: مبلمه پالنه

Preview to Section 1: Reading 102
Preview to Section 2: به in More Detail 103
Preview to Section 3: Dialogue 104
Preview to Section 4: Diversions 104
Exercises 105
Answers 110

Unit 25: بدل

Preview to Section 1: Dialogue 112
Preview to Sections 2-4 112
Preview to Section 2: The Story Begins 113
Preview to Section 3: The Story Continues 114
Preview to Section 4: The Story Concludes 115
Preview to Section 5: Diversions 116
Exercises 117
Answers 123

Unit 26: عزت او ننواتي

Preview to Section 1: Reading 126
Preview to Section 2: Verb Phrases with Possessive Suffixes 127
Preview to Section 3: Dialogue 127
Preview to Section 4: Diversions 128
Exercises 129
Answers 135

Unit 27: جرگ

Preview to Section 1: Reading 138
Preview to Section 2: Conversation 139
Preview to Section 3: Reading 139
Preview to Section 4: Diversions 139
Exercises 140
Answers 147

Unit 28: جړ وربل

Preview to Section 1: The Story Begins 150
Preview to Section 2: The Story Continues 151
Preview to Section 3: The Story Concludes 152
Preview to Section 4: Diversions 153
Exercises 154
Answers 160

Introduction

This Workbook is one of the three components of *Intermediate Pashto* . The other components are a Textbook, a Teachers' Manual, and an Interim Glossary.

All the components of *Intermediate Pashto* are available in microfiche or hard copy through the ERIC Document Reproduction Service.

These materials have been developed by the Center for Applied Linguistics with funding from Grant No. P017A 00022 from the International Research and Studies Program of the U. S. Department of Education. The same office funded CAL to develop *Beginning Pashto*, the components of which are available from the ERIC Document Reproduction Service as well. *Intermediate Pashto* continues the study of Pashto where *Beginning Pashto* left off, and the two together constitute a relatively complete overview of the spoken and written Pashto language, as well as a fairly extensive introduction to Pashtun culture. The development of a *Pashto Reader* has also been funded; the reader will be available through the ERIC Document Reproduction Service in early 1993.

This Workbook accompanies the *Intermediate Pashto* Textbook, and provides additional explanations of Pashtun culture and Pashto grammar. It also provides the student with exercises in addition to the ones in the Textbook.

The units and sections of the Workbook correspond to those in the Textbook. The Preview sections should be read, along with the parallel sections in the Textbook, before the class session in which the section is worked on. The exercises at the end of each unit are to be done when class work on the unit has been completed.

